# د پښتو هنري ادبیاتو

# د کره کتنې لنډه تاریخچه

Ketabton.com

لیکوال: عبدالخالق رشید

۱۳۹۴ لمریز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دپښتو هنري ادبیاتو دکره کتنې

# لنډه تاریخچه

لیکوال:

**عبدالخالق رشید**

۱۳۹۴ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: دپښتو هنري ادبیاتو دکره کتنې لنډه تاریخچه

لیکـــوال: عبدالخالق رشید (پي اچ ډي)

خپرونـدی: د افغانستان ملي تحريك، فرهنگي څانگه

وېبپاڼه: www.melitahrik.com

ډیزاین: ضیاء ساپی

پښتی ډیزاین: فیاض حمید

چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

لومړی چاپ: د افغانستان دلیکوالو ټولنه ۱۳۷۰/ ۱۹۹۲ کال

دویم چاپ: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحریك د خپرونو لړ: (۱۱۲)


یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسولیت لیکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

## س. شپون ته !

(c) ketabton.com: The Digital Library

## فهرست

**سرلیک** **مخ**

دويم چاپ او ددغه کتاب...............................................................۱

تقريظ ....................................................................................۵

سريزه.....................................................................................۱۱

لومړی خپرکې:

په پښتو منځني ادبي بهيرکې دکره کتنې حالت ته يونظر............................۲۴

دويم خپرکې:

دپښتواوسنۍ کره کتنې پيلامه ( د رواني پيړۍ لومړی نمايي )....................۵۴

دريم خپرکې :

پښتو معاصره کره کتنه د ودې په لور.........................................................۷۲

څلورم خپرکې :

دانقلابي کره کتنې پيل..............................................................۱۱۲

نتيجه :.................................................................................۱۴۶

ماخذونه.................................................................................۱۴۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحریك یادښت

د افغانستان ملي تحریك د (۱۳۹۳ ل) كال په پیل كې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه كړې وه چې د دې كال په بهیر كې به (شل عنوانونه) بېلا بېل دیني، علمي، ادبي او ټولنیز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې كوي. ملي تحریك دا ژمنه د یاد كال د كب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د یوې پرتمینې غونډې په ترڅ كې یې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې كړل. ملي تحریك په یاده غونډه كې ژمنه وكړه چې د (۱۳۹۴ ل) كال په بهیر كې به انشاء الله د خدای (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې كوي. طبیعي خبره ده چې دا اسانه كار نه دی، ډېر زیات زیار او زحمت ته اړتیا لري، خو ملي تحریك ټینګ هوډ كړی چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملي كوي. دا اثر چې ستاسو په لاس كې دی د همدې (سل عنوانونو) ژمنه كړو اثارو له جملې څخه دی، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحریك هیله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته كړي. ملي تحریك له ټولو هغو لیكوالو، ژباړونكو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندویانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهیر كې یې یو بل سره مرسته او ملګرتیا كړې او دا فرهنګي بهیر یې بریالی كړی، د زړه له كومې مننه كوي او كور ودانې ورته وایي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هیله

د افغانستان ملي تحریك فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دويم چا پ
# او ددغه کتاب پر تراخه برخليک يوڅوکرښې

دغه لنډکی ځيړنه زما دماستری تيـزس و، د اسـتاد روهــي روح يــې ښـاده ترلارښونه لاندې مې وليکه ، په کومه ورځ چې ما له ده سره په دغه اړه خپلــه مشورتې ناسته درلوده ، نويوه هيله مې دا ترې وکړه چې استاده اوس موږ پــه داسې يوه حالت کې يو چې هرڅه ته ديوه تصادف په ســترګه ګــورو اوهرڅــه راته تصادف ښکاري ، هرڅوک چې هرڅه وليکي ، هغه منواوسرورته ښــوروو ، خوزما هيله داده چې په دغه سخت حالت کې هم پرما زړه ونه ســيځې اوپــه خپل انتقادی ليد سره مې لارښونه کړې . داچی زه نن دلته له کابل پوهنتــون څخه علومو اکاډيمی ته پرتاپسې دلارښونې لپاره راغلم ، ددې مانا داده چي ما ځانته له تاپرته بل لارښود ونه موند اونه مې باورو چې ما به لارښونه کړای شي. ده راته وخندل او په مهربانه ژبه يې راته کړه : لکه چی انتقاد له همدغه ځايه پيل شو، هغه مهربانه استاد لاهم راته موسکی وچې خپل لومړنی ځــواب يــې داسې راکړ: پام به دې وي چی دپخوانيوهغه خبرې چی په علمی تيوری نه وي برابرې ، او ياهم د ادب په علمي مانا سم نــه پوهيــدل هغــه بــه نــه را بانــدې تاييدوې نوره څه ستونزه نه لرم... د استاد روهی پــه خبــره زه ورســيدم ، مــا دخپلې ليکنې په ځينوبرخوپه تيره په پخوانی دوره کې يوځای ځان په هوايی وياړونوپورې تړلی و خو دپانی په کنج کې يې را ته وليکل چی : «هوايی خبرې به نه کوې لطفآ په سند وغږيږه»...

ما داليکنه بشپړه کړه ، دفاع مې هم سره له دي چې ارواښاد ډاکترصاحب زيور لړراته په قهرو چی ولې مې له پوهنتون څخه د باندې لارښود استاد غوره کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

، ترې وکړه ، اروانښاد جاوید اودمعاصرتاریخ پوهاند هاشمي صاحب هم په دغه غونډه کې حاضرول ...

څوکاله بیا داکیسه همداسې پاتې شوه ، یومهال زموږ مشراکبرکرکر چې دلیکوالو داتحادیې مرستیال وپه خپل طنزي اندازکې ترغوږ راتیره کړه چې « موږد هرچا ، هرډول آثارچا پوو ... هغه اثردې چې روهي صاحب يې صفت کوي راوړه ، زه يې درته چاپوم ... » ، بیامې هغه ته ورکړ، هغوی دوروستی نظرپه لامل ځینوپوهانو ته استولی و چې ويې ګوري اوخپل نظر پرې وليکي، يوله دغو پوهانو څخه الهام صاحب و، چې ډيره موده يې له ځان سره ساتلی و ، په کوم سیمنارکې سره مخامخ شو چې راته ويې ويل چې کاردښه کاردی خو زما له آثارو څخه دی یادونه نه ده کړې ، یوځل راشه چې سره وغږیږو . زه ورغلم له هغه سره مې خبرې وکړې ګیله يې هم هغه وه خو ما ورته وويل چې له لیکنو مې دې ګته اخیستی ده . يوه دوې ورځې وروسته کرکرصاحب او باجوړي صاحب راته وويل چې چاپ ته تیاردی لعل پاچا آزمون به يې د اهتمام چارو ته وګمارو. کتاب چاپ ته ولاړ ، حالات داندیښنې وړښکاریدل ، ۱۳۷۰کال هم په دویمه نمایي ور اوښتی و چې کتاب دکرګرصاحب او آزمون له برکته چاپ شو خوترڅو چې له مطبعی اتحادیې ته رارسیده کال پای ته ورسید، حالاتو بدلون وموند کابل په ویروانښت، خودومره مې واوریدل له مطبعې راوړل شوی او دلیکوالو داتحادیې به کوم ګدام کې پروت دی ...

د ۱۳۷۱ اوړی و، جنګونو زور اخیستی و، ټولې دولتي اداري تنظیمونو چلولې ، مجاهدین نه وو تیارنا بغه ګان وو، په هرڅه دوی پوهیدل چا ځان وزیرکړ، چا ځان معین کړ، داسې چې له موږیې هم لاره ورکه کړه دوی هم په خپلوکې سره لاس او ګریوان شول ، موږ هم دي ته سترګې په لاره وو چې نن به حالت سمیږي او سبا چې تراوسه مو نه نن نن شو اونه سبا سبا ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکابل په همدغه برګ غوبل کې مې واوریدل چی استاد واصف باختري په هغو سختو حالاتو کې هم انجمن ته راځي اوهلته ناست وي ، که کوم ځـوک خپلـه لاره دانجمن (شهرنو ) په لورورغلطه کړي نو بیا ورسره ناسـت وي اوورځ پـه همدغه دړدنګ سره تیروي ... له ماسره هم دهغه دلیدو هیلـه وه چـی بایـد یوځل دی اونوریاران وګورم چې داسې فکرونه کړي چې ګواکي هرڅه تـه مـو شا کړه او ټولې هیلې نورې پای ته رسیدلې دي ... ، انجمن ته ورغلم ، هغه مې ولید ، کرګر صاحب مې ولید ، له یوه اوږده ځنده وروسته مې له دوی پوښـتنه وکړه چی غواړم یوڅو جلده کتابونه می واخلم کیدای شی کـه نـه ؟ دواړو لـه لاسه ونیوم چی هله زرکړه ، راځه چی همـدااوس هـم دیګونـه پـه همـدغو کتابوپخیړي ، باورمو نه شی چی پاتې به وي ، موږ زرهغې کوټې ته ورغلو چـی هلته دانجمن چاپ شوي کتابو پراته وو ، په یوه کنج کې می دخپل کتاب (دغه کتاب ) یوه برخه وموندہ ، هغه مې راواخیسته ، په لاس کې مې وه چې په دغه شیبه کې یوځوان پنجشیري مجاهد چی برګ جمپریی اغوسـتی و پـه دروازه کې تر باختري اوکرصاحب را دمخه شو ، ما فکروکړ چی اوس به ماته وایی چی دا کتابونه یونه سی دولتی شتمنی ده ، موږ دهمدغو دساتنی لپاره ناست یو... خوهغه زما دتصور برعکس راغږ کړ : اندیوال یک قوده برای مـام بتـې ... نـان پوخته می کنیم ... زه حیران شوم چی اوس د چا کتاب ورکړم ، خپل کتابونـه مې په لاس کې وو ، هغه چی تر قوده هم زیات وو دبل چـا د کتـاب د ورکـړې جرآت مې ونه کړ ، دخپلو ټولو کتابو قوده مـې ورکـړه، اسـتاد بـاختری غـږ راباندې وکړ چی له دغو نورو کتابو یې ورکړه خپل دې ځانته درسره واخلـه ... خو ما داجرآت ونه کړ چی دبل چا کتابونه دی مجاهدجان ته ورکړم ، ځکه مې خپل ورکړل ، باختری صاحب حیران حیران راته وکتل ، سترګی یې له اوښکو را ډکې شوې او ما یوڅه نور کتابونه چې هلته پاتې وو له ځان سره راواخیستل او راووتو ، ومولید چی هغه ځوان پرهغه قوده باندې اوربل کړی و، موږ تـرې را

(c) ketabton.com: The Digital Library

روان شو، په پخوانیو کفن کشانو باندې موشکر ویوست اوله هغې ورځــې بیــا ترننه مورِ درى واړه له يوه اوبله سره ورک شو اوورک يو . او داوه ددغې لنــډې خیږنی دومره اوږده کیسه ...

دګران یون دکورودان وي په کال کې مې یوځل پوښتنه کوي ، پــه دې ورځــو کې يې هم دپوښتې په ترخ کې را ته وويل چې کتابونه چــاپوي ، هرڅــه چــې تيارلرم باید وروپې لیږم . ځکه مې هوډ وکړ چې دغــه نــا څیــزه لیکنــه چــې دخلکو په خبره دپخواني چا پ په انډول مې یوڅه رنګ روغن هم ورکړی و او درک مې کړه چې ډير زوږ شوي هم نه دی نوځکه مې دغه څــو کرښــې پــرې وکښلې او یون صاحب ته مې ورکړچې له مرستې يې منندوی یم.

هیله من چې دکره کتنې لوستونکي او زده کونکي به ګټه ترې واخلي او په لوستلو به يې د سترِیا احساس ونه کړي ځکه چې دغه څیړنــه ترډیــره حــده درسي بڼه لري اوباوردی چې ځوانو ادب او پښتو پوهانو ته بــه د دوی دلوړتیــا په لارکې دیوې زینې ځای ونیولای شي .

په درنښت

عبدالخالق رشید

نوی ډیلی ــ نهرو پوهنتون

د ۲۰۱۶ کال د دفبروری ۱۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

داکادیمیسین کاندید محمدصدیق روهي تقریظ

## دموضوع ارزښت اونوښت :

بدیعی ادب ، په هنري ایماژونوکې دټولنیز شعور انعکاس دی اوادبی کره کتنــه دهمدغه ټولنیزشعور انعکاس ښکلاییز، فني اوفکري اړخونه تربحــث لانــدې نیسي .
په ځو وروستیوکلونوکې دپښتوادبي کره کتنې په میتودیــک اوسیســتماتیک ډول دهنري ادبیاتو دلارښونې اولیرلید ( دورنمــا) دتــاکلو وظیفــه پــه غــاړه اخیستې ده . سره له دې ، باید وویل شي چې ادبي کره کتنه معاصره پدیده نه ده ،دپښتو ژبې کلاسیکوشاعرانواوادیبانو له پخوا زمــانو څخــه پــه ادب کــې دابتذال او ارزان خوښــونې پرضــد مبــارزه کــړې ده. دپښــتونومیالي شــاعر خوشحال خان خټک له یوې خوا دشعرتربیتې او معرفتي وظیفې په ښه توګــه پیژندلې وې او له بلې خوایې پرهغــه بــې خونــده اوغیرفنــي ســبک بانــدې انتقادکاوه چې دشعرایستتیکي اړخ یې په پام کې نه و نیولی ،په همــدې ډول دپښتویوشمیرکلاسیکو شاعرانو اوادب پیژندونکو دښــه اوبــد شــعردپیژندلو دپاره له ځان سره معیارونه درلودل . دمعاصروهنري ادبیاتو لــه پیلیــدو ســره ادبي کره کتنې هم په نوې بڼه تبارز وکړ ، پــه تیــره دثــوردملي دموکراتیــک انقلاب په بریالیتوب سره دادبي کره کتنې دپــاره سیســتماتیک اومیتودیــک فعالیتونه پیل شول. تر اوسه پورې په پښتو ژبه کې دادبي کره کتنې تاریخچه نه وه لیکل شوې ، خالق رشید دموضوع داهمیت په درکولو ســره پــه ابتکــار لاس پورې کړ اودلومړي ځل دپاره یې دغه موضوع په منسجمه توګه وڅېړله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دکتا ب معرفي :

کتاب دتیزس لیکنې دمتداولو نورمونوپه اساس په یـوې سـریزې سـره پیـل کیږي ،چې په هغې کې دادبـي کـره کتنــې پرماهیــت ، ارزښــت ، وظیفــو او میتودلوجۍ باندې په مفصله توګه بحث شوی دی .
په سریزه کې دکره کتې تاریخي پس منظراوپه مختلفو دوروکې دنقدمعیارونه هم څیړل شوي دي .
دتیسیس لیکونکی ادبی کره کتنې ته دعلم په نظرګوري ، ځکه چې کره کتنه هم دنوروعلوموپه شان ځانته دڅیړنې میتود اوټاکلي مقولې لري خو په عــین زمان کې کره کتنه دنورو مثبتوعلوموسره توپیرهم لـري ځکــه چــې دهغــې موازین اواصول دټولو کره کتونکو له خوا په مطلق ډول نه دي منل شوي اولــه یوه ادبي مکتب څخه تربل ادبي مکتب پورې دکره کتنــې اصــول اومعیارونــه توپیرپیداکوي . لیکوال په پای کې په دې خبره استنادکوي چې : « په هرحــال په ادبي  کره کتنه کې اصول اوموازین شته چې کولای شو هغه دنسبي احکامو په برخه کې معرفي اواستنباط کړو نه په قطعي اومطلقواحکاموسره »
لیکوال په سریزه کې دادبي کره کتنې عمده مسایلو ته عبوري کتنه کــړې ده اوخپل دریځ یې هم څرګندکړی دی ، طبعیی ده  چې په سریزه کې دادبي کره کتنې پرمسایلو او تیورګانو باندې مفصل بحث نشي کیــدای ، لیکــوال یــوازې عمده اومبرم مسایل تحلیل کړي دي .
لومړی څپرکې ، په پښتو منځني ادبي بهیرکې دکره کتنې حالت ته وقف شوی دی ، لیکوال په لومړي سر کې د « منځني ادبي بهیر» اصطلاح تعریــف کړیــده ،خو څرنګه چې ادبي مورخانو لکه پوهاند حبیبي او پوهاند رښتین په قول یې استنادکړی  اوددغه ویش دتوجیه دپاره یې زیارایستلی دی . امــاپخوا لــه دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې لیکوال دمنځني ادبي بهیردکره کتنې وضع شرح کړي ، دادبیاتو لرغـونې دورې ته يې هم یوه کتنه کړې ده . خالق رشید د « دزرینې ځانګې » دمولف له دغه نظرسره تریوحده موافقه ښوولې چې وایی :

« په پښتوکې ادبي نقدزوړاولرغونی دی ، لومړنی څیړنــې پــه دریمــه هجــري پیړۍ کې ابومحمدهاشم ابن زید سرواني رانښلولې او پــه خپــل نــامتو اثــر « سالووړمه » کې یې دعربي اشعارودفصاحت اوبلاغت بیان وکړ »

څرنګه چې د ( سالووړمه ) زموږ په لاس کې نشته، په دقیق ډول نه شو ویلای چې په نوموړي کتاب کې به د (قرض الشعر) په باب څه ډول مطالب بیان شوي وي . په هرصورت ،دایوه احتمالي فرضیه ده ، ما دلیکوال څخه وپوښــتل چــې ابومحمدهاشم خو یوازې دفصاحت اوبلاغت اصول بیان کړي دي . دانوله ادبــي کره کتنې سره څه اړیکه لري. ده په ځــواب کــې وویــل چــې : « دفصــاحت اوبلاغت اصول هم په حقیقت کې دادبي معیارونو او موازینوبیان دی اوله ادبي کره کتنې سره نژدې اومستقیمې اړیکې لري ، همدارنګــه د ســلیمان مــاکو ( تذکره الاولیا) هم دځینوشعرونوپه باب ځینې څرګندونې لري اوله همدې امله دادبي کره کتنې په پس منظرکې دغوپورتنیوآثاروته یوڅه اشاره غوندې شوې ده ،چې یادول يې په هرصورت له نه یادولو څه غوره ښــکاري ، پــه دې کــې شک نشته ،هغه څه چې د ( منځني ادبي بهیر) په نامه یادشوي دي دادبي کره کتنې ډګرته مشخص مواد وړاندې کولای شي . په دغه دوره کې کــه څــه هــم دادبي نقد په باب دکوم ځانګړي اثریادونه نه ده راغلــې خــو ادب پیژنــدونکو شاعرانو کله کله دنورو همقطارانو داشعارو په باب قضاوتونه کــړي دي ، خــالق رشید په دغه برخه کې ډیره په زړه پورې څیړنه کړې ده چې دادب پیژنــدنې په برخه کې يې یوه ښه اضافه ګڼلی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دويم څپرکي کې ، دپښتو اوسنی کره کتنې پيلامــه تربحــث لانــدې نيســي ، ليکوال په نظراوسنۍ کره کتنه له معاصرادب ســره پيــل کيــږي ، ده راحــت زاخيلي دپښتو داوسنۍ ادبي کره کتنې پيلونکی بللی دی اود خپل نظرداثبات لپاره له لوستونکی څخه غوښتنه کوي چې دافغان په جريده کې د ( سترې مه شې ) تر سرليک لاندې دهغو ليکنوته رجوع وکــړي . پــه دې لړکــې ليکــوال دغلام محي الدين افغان نوم د اوسنۍ کره کتنې دبنسټ ايښودونکي پــه ډلــه کې راوړي . اودافغان دادبي کره کتنې بيلګې يې راوړې دي . وروسته ليکوال د ( پښتون) اخبار اوطلــوع افغــان دځينوليکوالــو لکــه عبــدالااکبرخان اکبــر اوعبدالحی حبيبي نومونه يادوي چې دکره کتنې په تعميم کې يــې خدمتونــه کړي دي .
په دريم څپرکي کې ليکوال دپښتو معاصرې کره کتنې د ودې اوانکشــاف پــه باره کې بحث کوي ، په افغانستان کې دغه دوره دپوهاند حبيبي دويناله مخې له ( ۱۳۱۰ ش ) څخه راپيل کيږي ، په لره پښتونخواکې دکره کتنې په وده کــې دايازداودزي، دوست محمدکامل ،تقويم الحق کاکاخيل ، حافظ محمدادريس ، قلندرمومند، هميش خليل ،سيدرسول رســا، مولينــا عبدالقادراومحمــداعظم نومونه دخاصې يادونې وړګڼل شوي ، وروسته په بره پښــتونخوا کــې ددغــې دورې دنامتوکره کتونکو الفت ،بينوا ،رښتين ، خادم ،شپون ، روهي ،اونيــازي ( تړي ) ليکنې تربحث لاندې نيسي اوددغوليکنو په هنداره کې دادبي نقدڅيره ګوري ،خالق رشيد ددغو ليکنو دتشريح وخت کې بی طرفه نندارچي نــه دی ، بلکي پخپله کره کتنې کې هم په انتقادي توګه تحليلوي ، دتيسيس دغه برخه لکه څومره چې جالبه ده ، هماغومره عکس العمل پارونکې هم ده څکــه چــې دلته يوشمير ليکوال اومخلصان، پيروان ،اوخپلوان ښايی دخالق رشيدقضاوت کافي ونه ګڼي ، اماداثرليکونکی زيارباسي چې دمشخصواسنادو او شــواهدوپه راوړلو سره خپله خبره پرچوکۍ کينوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلورم څپرکی ،دانقلابي ادبي کـره کتنـې دپيـل اوانکشـاف پـه بـاره کـې دی،دليکوال په نظرپه عقيده له انقلاب څخه وروسته راپديخوا ادبي کره کتنې هم نوې تګلاره ،غوره کړه، په تيره دتعهداوپيغام مساله دنورو ادبي پديدو پـه لومړی ليکه  کې ودريده، خالق رشيد په دغه څپرکي کې دکره کتنې نـا متـو استازي معرفي کړي ،اودهغودليکنوبيلګې يې راوړې دي ،همدارنګه دادبي کره کتنې په انکشاف اوپرمختيا کې د ا.ج . دليکوالواتحاديې ونډه هم ستايل شوې ده.

په وروستی  پانه کې دڅيړنې نتيجه بيان شوې ده ، دنتيجې په برخه کې بايـد ووايوچې : هغه دلنډيزپه توګه نه ده راغلې بلکی ارمانيز اودورنمايی بڼه لري .

## دتيسيس ارزيابي :

۱- دمحتوا له پلوه : دالومړی ځل دی چې دپښتوادبي کره کتنې تاريخچه ديوه ځانګړي اثرپه بڼه ليکل کيږي . له دې امله  دپوهنمل خالق رشيد دغه اثر پـه ادب پيژندنه کې خاص مقام لري اوکولای شو چې په خپله نوع کې يې بکراثـر وبولو.

پوهنمل رشيد دخپل تيسيس دبشپړولو دپاره خواره واره منابع کتلې اوپه دې برخه کې يې ډيرزيارايستلی دی . تيسس لکه څنګه چې توقع کيـږي ديـوې علمي تيوری په واسطه رهبري شوی دی . ليکوال دادبي بهيردمسيردپيژندنې دپاره دټولنيزو ، اقتصادي جوړښتونوپه لوی چوکاټ کې دملي ادبياتوځانګړنې اونسبي خپلواکي هم په پام کې نيولې دي ،ددغسې مهمې پـروژې دبشـپړتيا دپاره ليکوال زيات وخت ته اړتيا درلوده خوداسې ښـکاري چـې ده پرزمـان باندې بری موندلی اوډيرکاريې په لږ وخت کې سرته رسولی دی .

داثرشکل :  دغه اثر دتيسيس ليکنې  له متداولونورمونوسـره تطـابق کـوي ، ډيزاين يې دتاريخي ميتود په موازينوبرابرجوړشـوی دی . دتنقـيط اصـول او

(c) ketabton.com: The Digital Library

دماخذښودلو تکتیکونه يې معیاري دي ، په ژبه کې لفظي اومعنوي تعقیــد نــه لیدل کیږي . لیکوال ځای په ځای دحال له اقتضاً سره سم هنري ژبــه او ادبــي سبک هم استعمال کړي دي ،دتصنیف او تبویب معیارونه يې منطقي دي اویـا لږ ترلږه موَ لف زیارایستلی دی چې دتوجیه دپاره يې خپل دلایل وړاندې کړي .

ددغو یادونو په نتیجه کــې زه دخــالق رشــید دغــه اثرمثبــت ارزیــابي کــوم اودپښتوپه ادب پیژندنه کې يې یوممتع اوګټوراثربولم .

داکادیمسن کاندید

محمد صدیق روهي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

معاصرادبي بهير دخپل پيچلي ماهيت درشل ته دهرې ورځې په تيريدو ســره نورهم ورنژدې کيږي ، که چيرې همدغه مطلب تــه دعلمــي اوهنــري ميتــود اوايجاد په رڼاکې ښه ځيرشو ، په دغه اړه به دمننښت يوې پايلې ته ورسيږو که نه ؟ نن سبا په معاصر ادبي بهيرکې دځيړنې اوتخليق دهغې طرحې اړتيا ډيره محسوسيږي، چې دهغې پربنسټ بايد په همدغه پيچلــي ادبــي بهيراوادبــي پديدو کره توب ته زياته پاملرنه وشي ، ما ناداچې د وړتيا پوړۍ يې بايد ديوې رښتيني او علمي کره کتنې په رڼاکې په ډاګه شي. همداده چې دا پروســه پــه خپل وارعلمي قضاوت اودعلمي ميتودلوژۍ اصولو اوپرنسيپونو ته اړتيـا لــري چې بايد په منظم اودوامداره توګه کارورته وشــي. دغــه علمــي ميتودلــوژي کيدای شي کره کتنه واوسي.کره کتنه دادبي چاڼ لپــاره يوبرلاســي علــم دی چې دتاريخ په اوږدو لکه نورمعقول علوم د بيلابيلو عواملــو لــه املــه دخلکــو اوڅيړونکو له پامه په شعوري او ياغيرشعوري توګه ديوه سستماتيک علم پــه توګه له پامه غورځول شوی و. ځکه په دغه علم کې تر هرڅــه دمخــه خبــره پررښتياوو او دهغو پرځرګندولو اوبرالا کولو باندې ترلې وه ، ادب چې ټولنيزې نيمګړتياوې يې په هنري اوادبي قالبونو کې په ګوته کولې ،همداسې کره کونې هم دخپلې دنده له مخې کولای شول چې په دغه ټولنيزاوادبي بهيرکې خپلــه روزنيزه دنده اوانتقاد ته پاملرنه وکړي. اوس که مــوږ غــواړو ددغــه علــم پــه تاريخي ليد باندې خبرې کوو نودا ويلای شو چې کره کتنه دومره لرغوني علم دی لکه ادب اوايجاد ، دلرغوني يونان په ادبــي بهيرکــې ددغــه علــم څــرک ترميلاد مخکې په ( ۶) پيړۍ (*) لګيږي ، خودا ددې مانا نه لري چې دغه علــم

(c) ketabton.com: The Digital Library

**به هلته هم په معاصرمفهوم او ځانګړنو سره و .ځکه علمي کره کتنه په اوسنۍ ماناا‌ومفهوم له اتلسمي میلادی پیړۍ را په دیخوا دنورو علومو لکه « ژبپوهنې ، توکم پوهنې ، روانپوهنې اونوروپه څیردیوه خپلواک علم په توګه راوپړکیده او پوهانوسیستماتیکه پاملرنه ورته وکړه .چې پای کې بیلابیلــې کــړنلارې او ښوونځي په کې رامنځ ته شول »(۱)**

**په دعه اړه داهم ویل شوي چې : « کرتیکوس دننی نقد په مانا دلــومړي ځــل لپاره دارسطو اوکوانتلین دبلاغت علم دپوهانو له خوا کارول شوی دی »(۲)**

**پوهان داخبره مني او وايي چې هرعلم دیوې ټاکلې ټولنیزې اړتیــا لــه مخــې رامنځ ته کیږي ، وده کوي ،او په پای کې د ودې لوړو پوړیو تــه رســیږي. کــه چیرې دادبي کره کتنې تاریخچې ته په دقیقه توګه پاملرنه وکړو، نو داپوښــتنه خامخا رامنځ ته کیږي چې آیادا اوسنۍ کره کتنه به هم هغسې کره کتنــه وي لکه د اتلسمې پیړۍ هغه ، په دغه اړه ځواب ګردسره منفي دی،**

---

(*) شوقی ضعیف په دغه اړه لیکي : « ځکه ترمیلاد نه سپاړس پیړۍ دمخه وینو چې یونانی شعر په پراخه توګه پرمخ ځي ، تمثیلي شعر رامنځ ته کیږی اودهغه مشهورشاعران راڅرګندیږي، موږ تــه ددې هنــر پیدایښــت او د دوی پــه اخترونوکې دهغه په بدلون باندې خبره مهمه نده بلکي موږ ته دهغو مسابقو پیژندل اهمیت لري چې له دې هنر سره ملګرې وې اود کره کتنې د ډولونو یوډول ګڼل کیدې ... »( ژوندون مجله ، ۱۳۶۲کال ، ۱ ګڼه ، ۱۱مــخ ) . پــه دغــه اړه موباید په پام کې وي

چې په نوموړي مقاله د ۶ پیړۍ پرڅان ۱۶ لیکل شوي چې سم نه بریښي .

(۱) عرفان مجله ، ۱۳۶۳ کال ، ۸ګڼه ، ۴۱ مخ .

(۲) محمد رحیم الهام ، تیوری های ادبي ونقد ادبي ، پوهنتون کابل ، ۱۳۵۷ (۶۱)

**ځکه چې کره کتنه داوسني بشریت له معنوی اوروحي ژوند یا په بله مانا ادبي ذوق سره تړاولري اودهغودتخلیقي آثارو د ارزښت اواهمیت ټاکلوپه برخه کې څیړنې کوي . دیوه ادبي اثرواقعي ځانګړتیاوې هغه څه دي چې دهغه ادبي اثر اصلي اوهنري جوهراویاړزی بلل کیږي چې دهمدغه علم په رڼاکې دهغه اثر له طبیعت سره سم ترڅیړنې لاندې نیول کیږي او ارزول کیږي ځکه نو پــه دغــه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

اړه داویلای شو چې ، په معاصرادبی بهیرکې کره کتنه هغه لارښود او روزنکـــی علم اومیتود دی چې دهغې په مرسته دیوه هیواد ملـــي ادبیــات د ودې لـــوری نیسی اوپه خپل خلاق طبیعت سره یې لارښونه کوي. کره کتنــه پــه مجــرده اوځانګړې توګه یوبې مانا اوبی ازرښته کالبد دی ، موږ دهغې اهمیت له هنــري اوتخلیقي آثارو سره په رابطه کې ټاکلای شو ، په عین حال کې داهم بایــد پــه پام کې ولرو چې دغه علم دخپل طبیعت له مخې داسې علم دی چې دهغه پــه طبیعت کې هم علمي او هم هنري توکواوځانګړنو ځای نیولی دی ،یا په بله مانا دغه علم دوه ګونی طبیعت لري علمي اوهنري .

دکره کتنې علمي اړخ پرهغو پرنسیپونوباندې ولاړدی لکه چې یوعلم یې لري ، په دي مانا چې هرعلم ځانته ځانګړي مفاهیم ، مقولي اونومونې یا اصــطلاحات لري چې ادبي کره کتنه  هم نوموړي توکونه لري او ددغه علم بنسټیزي ستنې ورباندې ولاړې دي.  کیدای شي په دغه اړه د هغو ځانګړو مفاهیمو یادونه هــم وکړو چې دهغو له مخې د ادبي کره کتنې ژانرونه او ډولونه را مــنځ تــه شــوي دي. په دغه اړه به دا اړینه وي چې د کره کتنې په برخه کې دلاندې ټکو یادونه وکړو :

الف : علمی اصل دی چې هرعلم ځانته دڅېړنې خاص اصول لري یا په بله وینا ځانګړې تیوري لري . ادبي کره کتنه هم ځانګړي  اصول او میتود لــوژي لــري چې ددغه علم څېړنې دهغو له مخې له ادبي آثاروسره په رابطــه کــې ترســره کیږي.

 ب :  دهرعلم دپایښت په اړخ کې یومهم علمي اصل اوعلمآ طرح شوی فکــټ علمی استدلال دی یا په ساده وینا دهغــه منطــق دی چــې پرهغــه بانــدې د ژغورنې اودوام چترجوړوي . په هره کره کتنه کې دناقــد اویــا کــره کتــونکي رسالت له علمی تیورۍ سره یوځای د پیاوړي استدلال درلــودل دي چــې پــه عملي کره کتنه کې له هغه څخه کار اخیستل کیږي. دکره کتنــې دنــده کــره

(c) ketabton.com: The Digital Library

کول دي ، چې که دهغو لپاره نوموړي مهارتونه او اصول په پام کې ونـه نیســي داڅرګنده ده چې دعلمي توب اړخ یې ترپوښتنې لاندې راځي .
دکره کتنې بل اړخ دهغې هنري اړخ دی ، دکره کتنې په هنـري طبیعـت کـې ترټولو مهمه مساله دتصویر یا انځورمساله ده ، تصویر یـا انځـور پـه خپلـه د انساني مهارت یوه پیچلې پروسه ده، په تیره بیا چې له هنري پدیدې او آثـارو سره دهغې داړتیا اوجوړتیا خبره رامنځ ته شي ، په دغه ترڅ کـې بیـا دیـوې اساسي پدیدې ځاي غوره کوي ځکه چې تخلیق له تصویره پرته نه وي اونه را منځ ته کیږي. همدغه تصویردی چې یواځ دیـوې زمـاني مـودې لـه تیرولـو وروسته دشهکاردرجې ته رسوي اویا یې نه رسوي، ځکه نـو مـوږ انځـور یـا تصویر دکره کتنې په برخه کې ډیرساده توک نه شو بللای ، برعکس همدغـه اصل دی چې کره کتنې ته امتیاز ورکوي او دعلوموپه برخه کې دغه علـم تـه دممتازعلم دریځ ورپه برخه کیږي ،چې نورعلوم دغه ځانګړتیا له ځان سره نه لري اونه یې په داسې دوه ګونی طبیعت سره پیژنو . انځور یا تصـویر پـه کـره کتنه کې معمولآ په یواړخیزډول تبارز کوي ، دبیلګې په توګه زه دلته د ګلزمان دیوې سندرې یوبیت راوړم ، کره کتونکي هڅه کوي چې موږ ته دهغـه سـاده (انځور) په ساده توګه تشریح کړي ، یا په بله وینا کره کتنې پرې وکړي ، شـعر دادی :

پـه ګل غونډۍ د ارغوان جوړې میلې دي
لاس راکوه ګلې ورځو چې ننداري دي

په دغه بیت کې د (ګل غونډۍ ) تصویر په پام کـې نیسـو ، تصویرسـاده دی شاعرچې دغه شعرویلی دهغه په وړاندې کیدای شي هغه ځای وي چې هلته ، ګلونه دي ، میلې دي ،ارغوان دی ، ښکلې فضاده ، کیدای شي لوستونکی یـې هم همداسې تعبیرکړي ، خو دکره کتونکي په وړاندې اویا دهغـه لپـاره (ګـل غونډۍ ) یوازې په همدغه مانا اوهمدغه درک دمنلو وړنه ده اونه یې په هغـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شان لکه چې يو شاعر او يوهنرمند يې په ګوته کــوي ، دی خپــل لوســتونکي اومينه وال تشريح کوي . ځکه چې موږ په دي باورلرو چې هنرمانا انځــور خــو کله چې هنر دکره کتنې پر پاڼوباندې د تشريح ، نقد او سپيناوي لپــاره ځــان ځلوی ، هلته بيا اساسي توک نه دی ،خکه چې تصور اوانځورپه کره کتنه کــې دويمه يا مرستياله دنده اودريځ لري . خوتصوير په هنر کې ځوارځيزه بڼه لري لکه په پورتنې شعر کې ګل غونډۍ ، خو په کره کتنه کي بيا يوارځ لري اوهغه هم مرستندوی . په دې چې د (ګل غونــډۍ ) تصــويردکره کتــونکي ايجــاد او تخليق نه دی ، بلکې له شاعرڅخه يې اخيستی دی چــې پــه بــل ډول او بــل ميتود سره يې کاروي ،هغه خپل ياسين پرې تيزوي ، لــه هغــه څخــه يــوازې دخرګندونې اوتحليل په لامل کاراخلي .

په دې مانا چې کره کتونکي (ګل غونډۍ ) لــږ نــوره راســپړي او دا پــه ډاګــه اوتشريح کوي چې د ګل غونډۍ موقعيت ، تاريخ ، دوديز اهميت ، اوکــه اړتيــا وي ګرامري تحليل، او ياداچې دارغوان ميله څنګها و ولې پــه ځــاځيو اويــا شمالي کې را پيل شوې ده ؟

## دکره کتنې اصول:

کره کتنه په معاصرنړۍ کې دادبي آثار دارزونې لپاره يو اړين علم دی، په هــره ټولنه او هرادبي بهيرکې دهغه ادبي بهيرله کمي اوکيفــي زيرمــې ســره ځــان عياروي ، همداده چې په هره ټولنه کې يې د ودې ډول او اهميت په ځــانګړې توګه دپاملرنې وړدی، يوه مساله چې دکره کتنې پيژندنې او اهميت پــه ګوتــه کولوکې اړين دي، هغه ددغه علم اصول دی ، زيــاتره پوهــان اودادبيــاتو زده کونکي تل په دغه اړه دا هيله کوي چې بايد ددغه علم پر اصولوباندې پوه شي ، دوی کيدای شي داخبره هم لوستی وي چې يوشميروايي چې دغه علم هيڅ اصول نه لري ، خوځينې نوربيا وايي چې نه داعلم دی ، يوعلم کله هم بــي لــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اصولو اوموازينو اومقولو نه وي ، دغه نظر ترډيره حده ددغه علــم پــه اړه پــه نړيواله کچه منل شوی دی ، دايران نامتو ليکوال زرين کوب پــه فارســي کــره کتنې کې دهمدغه نظرپلوی ليکوال دی او دامني چې کره کتنه بې اصــولوعلم نه دي ، هغه په دغه اړه ليکي : « په هرحال په ادبــي کــره کتنــه کــې اصــول اوموازين شته چې کولای شو هغه دنسبي احکامو په برخــه کــې پــه ډاګــه او استنباط کړو ، نه په مطلقو احکاموسره ... » (۱)

---

(۱) عبدالحسين زرين کوب ، نقد ادبي ، ۱۳۴۶ کال ، (۸) مخ .

استاد روهي هم په دغه برخه کې کت مټ نظرلري اوپه دغه اړه ليکي : « ... پــه دی برخه کې دنهايي قضاوت دپاره بايد دوو پوښتنو ته غوږ ځواب ورکړشي ، لومړی داچې ، که کره کتنه علم وي نو بايــد چــې دهغــې دخيړنــې ميتــود او پرنسيپونه دټولو ادب پوهانو دپاره يوشانته دمنلو وړوي . دوهمه پوښتنه داده چې که چيرې علمي موضوع په ښکلي اوخوندورسبک وليکله شي اوپه داسې توګه وړاندې شي چې لوستونکي ترژورې اغيزې لاندې راولي . آيانه شو کولی چې دغسې ليکنه ادبي وبولو دلومړۍ پوښتنې ځواب غالبآ منفي دی ،پــه دې مانا چې دبيلابيلو کره کتونکو له خوا د کره کتنــې دپــاره مختلــف اســلوبونه ،مختلف هدفونه او ډول ډول ارزښتونه تاکل کيږي ، که چيرې په کتابونو کــې دهنرتعريف ولټوو په سختۍ سره کولای شو يوواحد اودهنرمندانو له خوا منل شوی تعريف په لاس راوړو. همدارنګه د ادبياتو، شعراو کره کتنې دمسايلو پــه برخه کې هميشه له انفرادي ځکې اوځانګړو تمايلاتو سره مخامخ کيږو.

په دې اساس دانتقاد علم چې پرنورو انتقادکوي په خپله دانتقــاد وړدی ، پــه هرصورت که دانتقاد وړ دی يانه ، انسان نه شي کــولای لــه انتقــاد او قضــاوت ځخه ډډه وکړي » (۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د استاد روهي او زرين کوب نظريات دکره کتنې داصولو په برخــه کــې هغــه علمي څرګندونې دي چې په دغه برخه کې له علمي ملاتړڅخه برخمنــې دي ، دوی په انساني ژوند کې پرکره کتنه اودهغې پراړتيا باندې ټينګــارکوي ، خــو دوی په دغه برخه کې نه دمطلقيت پلويــان دي او نــه هــم خپلونظريــاتو تــه دمطلقيت بڼه ورکوي، دوی په کره کتنه کې نسبي اصول مني اوداهغه مســاله ده چې په علمي لحاظ طرحه ده او دنړۍ زياتره ليکوال او پوهان دادبــې کــره کتنې په اړه دهمدغه اصل پلويتوب کوي او عملي اهميت ورته لري.

پوهان دکره کتنې دټاکلو اصولو په اړه بيلابيل نظريات لري ،يوشميروايي چــې کره کتنه ځانګړي اصول لري ، خوچا هم تراوسه په عملي توګه دغه اصول نــه دي په ګوته کړي ، چې لامل يې زه فکرکوم په دغه ټکي کې دی چې کره کتنه يوممتازعلم دی ، په دی مانا چې هم علمی اړخ لري اوهم هنري ، خــو لــه دې سره سره هم له يو شميرپوهانو سره چې زياتره ځانونه دمترقي ادبــي تيــورۍ پلويان بولی وايي چې يو لړاصول په دغه برخه کې شته چې هغه دکــره کتنــې بنسټيز اصول بولي چې په لاندې دريو ټکو کې يې خلاصه کړي لکه :

١- ګونديتوب ،

٢- طبقاتي توب

٣- ولسي توب (٢)

داسمه ده چې دغه دری واړه اصله دادبياتو له تشکل ســره ډيرنــژدې اړيکــې لري اوکيدای شي دمارکسستي تيورۍ له نظره نوموړي دری اصله دکره کتنې داصو لو په برخه کې ستونزه يوځه حل کړي ، خوداهم بايد له ياده ونــه باســو اوهغه داچې دمعاصري کره کتنې يوزيات

---

(١) څيړندوی محمد صديق روهي ، ادبي څيړنې ، ١٣٦٠ کال (١٠٧)

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۲) باید ووایو چې داد کره کتنې په برخه کې مارکسستې طرحه ده ، څکه نو په دغه برخه کې ماهم د شوروی ادبیاتو دکره کتنې داستاد عبدالنبي ستارزاده چې په اتیایمه لسیزه کې یې په کابل پوهنتون کې دکره کتنې درس ورکاوه له لیکنو اوبحثونو څخه کاراخیستی دی .

شمیرپوهان له دغو اصولو سره دایدیالوژیکې توپیرونو له امله یوه خوله نه دي ، دهغوی دریځ له دغو سره بیا دکټ مټ ایدیالوژیکو تو پیرونو له مخې مخالف دی، او داصولو دمنلو او نه منلو ، شته والي اونه شته په ترڅ کې باید دغه ټکی په پام کې وي چې:

« دکره کتونکي کاردهغه زوال په وړاندې پاڅون دی ، هغه چې د تاریخ په یـوه دوره کې کولای شي دهنر ګریوان ونیسي ... » ( ۱ )

اوس خبره داده چې نه موږ او نه نورڅوک داصلاحیت لري چـې پـه دغـه اړه پرمطلقیت باندې تکیه وکړي څکه کوم نظریات چې تراوسه موږ مطالعه کـړل دوی ټول په دغه اړه دنسبیت پلویان دي او وایې چې دکره کتنې داصـولو پـه اړه دایوعلمی دریځ دی ، که فرضاً موږ پورتنې دری اصله دمطلقیت په دایـره کې ومنو، نودهماغو پوهانو له خوا په دې خاطر چې بشپړاصول نه ورته ښکاري ، بیا د فرعی اصول خبره هم کوي او وایې چې دنومړو اصلي اصولو په څنـګ کې دفرعې اصولو اهمیت هم زیات اود نومړو اصولو دپیاوړتیا پـه برخـه کـې دهغو شته والي هم اړین شمیري ، دبیلګې په توګه یوله دغو فرعي اصـولو(*) څخه (تاریخی نظراچونه ) ده ، چې دیوې ادبي پیښې اوپه ټولیزه توګـه دیـوه ادبي بهیر تشریح له دغه اصله پرته شوني نه دي ، اونه کله هـم کیـدای شـي چې ددغه اصل له ساحې دباندې دهغو دتحلیل کار ترسره شي ، څکه چې هره ادبي پیښه او هرادبي اثر که موږ وغواړو اوکه نه، دخپـل عصـراوخپلي زمـاني ټاپه پرخپله تنده باندې لري اوله تاریخي لیده باید پریوه خوا پاتې نـه شـي ، څکه نوموړ دغه اصل دکره کونې په بهیر، هغه هم د نوې اومترقي کـره کتنـې (علمی کره کتنې ) داصول په برخه کې دکلي اصولو ځای لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بله موضوع چې د پوهانو په نظر کې په کره کتنه کې دپاملرنې وړده ، هغه پــه ادبياتو کې دژانرجوړونې او رامنځ ته کولو مساله ده، په دغه اړه زه دلته اوږدې خبرې نه کوم ، ځکه چې دايومهمه اوتحليلي مساله ده، زما موخه په دغــه اړه يولنډه يادونه ده په لاندې ډول: په معاصره ادبي کره کتنــې کــې ژانرجوړونــه ددغه علم دځرګند پرمختګ لامل شوی دی، نن سبا په دغه برخه کې هم لکه د ايجادي ادبياتو په شان دپاملرنې وړاوپه زيات شميرژانرونه رامنځ تــه شــوي دي ، چې دهغو له مخې په دغه برخه کې دخيړنو لپاره ځانګړې لاره چاره اواره شوی ده، ددغه په علم جوړښت کې تراوسه پورې دا لاندې ژانرونه پــه ګوتــه شوي دي لکه : دآثارو پيژندګلوي ، تقريظ ، انتقادي مقاله، رساله، مونــوګراف ، نوښتي ژوند ليک (نوښتي پورتريت ) منثور نامــه (اعــلان نامــه ) مخکنــۍ او وروستنۍ خبره ، ادبي مرکه ، ليکوال ته دکره کتونکي ليک ، حاشيه ليکنــه او داسې نور ، پردغوژانرو برسيره يو شميرنورژانرونه هم شته چې هغه هم په کره کتنه کې دآثارو دطبعيت او پيژندني په څنګ دپاملرنې وړدي .

---

(۱) رضا براهني ، طلا درمس ، ايران ، ۱۳۴۸ مقدمه چاپ دوم ص ۳۱ .

(*) دادبي کره کتنې په فرعي اصولو کې دا لاندې اصول دمارکسستانو په نظر ډيرمهم دی : ۱- تاريخی نظراچونه ۲- اجتماعی نظر ۳- دشکل اومحتوا ديالکتيکی انډول ۴- دهنري ايجادياتو انفرادی والــی ۵- دبــديعی آثــارو دکلــي توکونو يووالی اونور دی ...

د ژانرجوړونې په اړه ددغې خبرې دځرګندونې اړتيا شته، چــې دغــه ژانرونــه بايد په څه ډول سره وټاکل شي ؟

زه په دغه اړه په دې نظريم چې په ادبي کره کتنه کې هــم لکــه پــه ايجــادي ادبياتوکې د ژانرجوړولو اصول هم شته او هم دکره کتنې په عمومي بهيرکې په پام کې نيول کيږي . په ژانرجوړونه کې په عمومي توګه د ژانرجــوړونې لپــاره دالاندې اصول په پام کې نيول کيږي : دخيړنو وړ مواد ، انتقادي ليــد اودهغــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پراختیا، دانتقادي ځیړنې طبعیت ، پراخ نظری انعکاس ، تاکلي هدف ، دلیکوالۍ سبک . ددې لپاره چې له دغې مسالې سره مو په یواړخیزاو یا وړه دایره کې چلند نه وی کړی ، دغه ډګر بیاهم ډیرلنډ او تنګ په پام کې نه نیسو، کیدای شي یولړنورمعیارونه هم وي چې دهغو له پلي کولو سره سم کیدای شي یولړ بریالیتوبونه دڅان کړو. او د ژانرجوړونې په برخه کې له هغو څخه هم کارواخلو .

دیوې ادبي پدیدې په ځیړنه او ارزونه کې دعلم او هنر دواړو لارویان دکره کتنې دنده او ونډه په هراړخیزه توګه ښه درک کوي ، پرهغه مهال چې پښتو ادب او دهغه درسالت او ایجادیت په برخه کې علمي ځیړنې نه وې رامنځ ته شوې ، اودادبیاتو په برخه تعلیمافته پښت څه نه وو لیکلي او ویلی ، تردغه مهاله به که چا دادب اویوشمیر آثارو اوایجادیاتو په اړه څه ویل او یا به یې انتقاد کاوه هغه عیب بلل کیده ، اصول خو چا نه پیژندل او نه یي دادبیاتو په برخه کې اهمیت ورکاوه ، دغه خبره له ځینوکسانوسره دشیطان غوږ ونه دکانه وي تراوسه هم شته ، خوڅوک غوږ نه پرې ګروي ځکه چې نن سبا خبره دکره کتنې اودهغې د اصول له برکته برعکس شوې اوس کره کتنې دعلم په توګه دحساسو لیکوالو او پوهانو (کره کتونکو ) په منځ کې دادبیاتو د روح په توګه خپل ځای موندلی دی . اودزړه له کوي په دغه برخه کې خپل قلمونه چلوي . زموږ پښتانه لیکوال نن په دې د زړه له کومي باوري شوي چې کره کتنه نن په نړیواله کچه دادبي لارښونې په برخه کې دپاملرنې وړ پوهه ده او په ادب پوهنه کې په یوه علمي پرنسیپ باندې اوښتې ده ،چې په پښتوادب کې یی هم لکه دنورو پرمختللو ادبیاتو په شان دپښتوملي ادبیاتو دودې په بهیرکې یې دپاملرنې وړځای موندلی دی ،ځکه نوددې اړتیا رامنځ شوې چې ددغه علم اوفن داهمیت په اړه دیوه قانونمند میتود له مخې چلند وشي ، باید وڅیړل شي او باید وده ورکړه شي .موږ په دې باوری یو چې په پښتو کې دکره کتنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اړه سستماتيک (پرله پسې) کارنه دی شوی، کوم څه چې شــوي هــم دي ، هغه دنژدي لسو شلوکالو خبره ده، په دغه موده کې يوڅه دکره کتنــې پــه اړه وشول چې هغه هم د (پيلامې او پيل ) بڼه لري ، تراوسه هم زموږ ليکــوال پــه دغه برخه کښې خورا لومړني پړاوکې دي ، يوازې له يوڅوکسانو پرتــه، زيــاترو که څه کښلي او ويلی هم دي ، ډيرې ساده خبرې وې او ددغه علم تيــوريکي ډګر ته له سره ورننوتي نه دي چې دا په خپل وار د يوه پيل څرګندونه کــوي .
په افغانستان کې تراوسه هم کره کتنه په يواړخيزډول کاريدلې ده ، ماناداچې دايجادي آثارو دمعرفی په برخه کې ترډيره حده له کره کتنــې څخــه يــوازې دستاينې په برخه کې کاراخيستل شوی دی ، ماناداچې په ډيروبرخو کې کــره کتنه زياتره د ستاينې انډوله کارول شوې ده ، او ياهم دغندنی ، ان چــې کــره کتونکې ته دليکوال د لاربښود په سترګه نه بلکې د دښمن پــه ســترګه کتــل شوي دي ، په داسې حال کې چې داد کــره کتنــې لــه طبعيــت ســره جــوړه اوميتوديکه خبره او چلند نه دی . په پرمختللو هيوادو کې کره کتنــې تــه نــه يوازې په ادبی او ايجادي برخه کې زيات اهميت ورکول کيږي ان چــې ددغــه علم دنده د ټولنيرژوند ډګرته هم ور غزيدلی ده ، هلتــه خلــک پــه دغــه اړه داخبره کوي چې دکره کتنې دنده د آثارو او عواطفو اوهغــه شــعور را ژونــدي کول او پيژندل دي ، هغه چې د انسان او ټولنې په تربيتي روزنه کې جوړونکې برخه اخيستلای شي . هلته کره کتونکی ته ديوه شــريف انســان پــه ســترګو ګوري اوهغه دخلکو او ټولنې سترلارښــود او روزونکــي بــولي همــداده چــې تولستون وليکل : « زه پوشکين دبلنسکي په برکت پيژنم ».
غواړم خبره رالنډه کړم او غواړم په لنډه توګه ددغــه تحقيــق پــه اړه دومــره ووايم چې دغه ناڅيزه څيړنه او تحقيق په تيره په دغه عصرکې زما د څيړنــې لپاره يوه اړتيا وه ، ځکه چې تراوسه موږ دکره کتنې په برخه کې ددغــه علــم دتاريخچې په نامه ( څه بشپړ او څه نا بشپړ ) يوساده لارښود هم نــه درلــود ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ چې هرڅه په دغه اړه هلته اودلته درلودل ، هغه ډیرخواره واره وو، یوڅه ول ، خو پرپوهیدو نه چې دا څه دي او څه وايي ، په دې نه پوهیدو چې زموږ دمنځنۍ دورې شاعراو لیکوال دغه علم ته په کومه سترګه کتلي دي او په دغه اړه دوی څه وايي او څه ایده لري ، مو ږته دا پته لږ وه چې په معاصره کره کتنه کې ژانریعني څه ؟ اویا کوم ژانرونه دلته دیوشمیرلیکوالو له خوا یا کاریدلي اویا رامنځ ته شوي دي او ولې ؟ په دغه وړه رساله کې تریوه حده همدغو تمایلاتو او پوښتنو ته یوڅه ځواب ویل شوي دی ، چې دیوه پیل په توګه کیدای شي چې زموږ راتلونکي دیوې علمي کره کتنې په رڼاکې نوې نوې خبرې ولیکي او راکشف یې کړي ځکه نو زما لیکنه هم په دغه اړه یوپیل دی . زمانه سخته پرمخ ځي ، او موږ باید پر راتلونکو باندې هغوی چې په مسوولیت سره په دغه برخه کې کار کوي باور من وو، ځکه زه باور لرم چې زموږ په معاصرادب او ادبي بهیرکې دکره کتنې وده له ذهنیت څخه د عینیت ډګرته راوځي ، ایجادي ذهنیتونه دیوه ادبي بهیر په ترڅ کې په عنیتونواوحقایقو باندې اوړي او دیوې څرګندې اړتیا بڼه غوره کوي، همداده چې موږ باید دهغې لپاره ، دهغې دعاملو لپاره په شعوري اوعلمي توګه لاس په کارشو ، همدعه موخه او دغه اهمیت و چې زه یې دغې مقدماتې هڅې ته وهڅولم او په دغه نیمګړي کار مې لاس پورې کړ، کره کتنه زموږ د ټولنې د سمون په برخه کې یو ژوند ی هڅه ده ، چې نه یوازې په ملي کچه باید داهمیت وړوي ، بلکي دهغې په مرسته کولای شو ، ځان له نړیوال ادبي بهیرسره هم یوځای او وصل کړو . په دغه رساله کې لوستونکي ته دا ټکي په ډاګه کیږي چې زموږ په پراخ ادب کې ، دهغه په بیلابیلو دورو کې کره کتنې څه بڼه ، رسالت او دندې درلودې ، ما په دغه برخه د موضوع دتحلیل او پیژندنې په برخه کې له معمول علمي څیړنیزمیتود څخه کار اخیستی ، دهرې څیړنې دمدلل کولو لپاره د ښه میتود کارول اړین دی ، هغه هم دداسې علم

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره لکه کره کتنه ، مورږ دپښتو کره کتنې دوره يی بهيرپــه دغــه اثرکــې پــه منظمه توګه څيړلی او په دغو بهيرونو کې مــې دهغــو پــه نســبي وده بانــدې رڼااچولي ده . دری دورې ، دری بهيرونه او په هغو کې دکــره کتنــې بهيــر ... توکل پرخدای تاسې يې ولولۍ خطاوې تيروتنــې بــه پــه کــې وي ، پــه روڼــو سترګوکې او ژور فکرسره نظراوکتنه پرې وکړئ .

په درناوي

پوهنوال دوکتور عبدالخالق رشيد

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی څپرکی

## په پښتو منځني ادبي بهیرکې دکره کتنې حالت ته یو نظر

کله چې غواړو منځنی ادبي بهیر دیوې نومونې (اصطلاح) په توګه تشریح کړو باید ووایو چې دغه اصطلاح زموږ پـه ادبیـاتو کـې زمـوږ پخوانیـو لیکوالـو ، مورخینو او شاعرانو کارولي او راوړې ده . په تیـره بیـا هغـه مهـال چـې پـه قراردادي توګه د ادبي دورو ټاکلو اړتیا رامنځ ته شوې ، بیانو استاد حبیبـي ، رښتین او نورو دغه نومونه دپښتو ادبیاتو هغې برخې ته چې له ۹۰۰ هجري تر ۱۳۰۰ هجري پورې زماني واټن کې را ایجاد شوي کـارولې ده. کـه لـه ماڅخـه څوک زما نظر غواړي زه بیا په دغه اړه په لنډو دومره ویلای شم چې : منځنـي ادبي بهیر ، دوره هرڅه یې چې بولو ،دهرې ټولنې په ادبیا تو کې دیـوې دورې په توګه تل وه او تل منل شوې ده خو باید هغې ته دیوې مجردې پدیـدې پـه سترګو ونه ګورو په دې چې دایوه علمي نومونه ده چـې اړخونـه او ابعـاد یـې زیات دي ، په دې مانا چې دغه زماني موده باید په تـاریخي ، ادبـي او آن پـه رواني لحاظ هم وڅیـړل شـي اواهمیـت ورکړشـي. زه خـو داوایـم چـې د چنګیزخان له انساني اوتمدني ضـد یرغلـه (۶۱۷هجـری) را پـه دیخـوا بیـا دنولسمې پیړۍ ترنیمایي ترپیل پورې زموږ په ادبیـاتو کـې تقریبـآ دا ټـول جریان په شکلي اوماناوي لحاظ یو ډول دی اوکوم داسې بدلون چې هغه بایـد په ځانګړي توګه یاد او یا ګوته ورته ونیسو نه په کې لیدل کیـږي. دابـه ومنـو چې په دغه ترڅ کې په تاریخي او سیاسي لحاظ شرایط اوتحولات یوه بڼه او یو شکل نه لري ، بیلابیل نظامونه راغلي ، بیلابیل واکمنانان په دغه واټن کې واک

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته رسيدلي ، دهغوپه کړو وړو او کارنامو باندې سړی کولای شی ډيرڅه وليکي او ووايی خوادبياتو چې په دغه برخه کې هيڅ ډول بـدلون نــه دی کــړی،هيڅ ډول ادبي تمايلاتو په کې وده نه ده کړې ځکه نو ويلای شــوچې هرڅــه ديــوه څرګند ورته والي په ترڅ کې رامنځ ته شوي دی ، دبيلګی پــه توګــه هماغــه تذکره چی سليمان ماکو په (۶۱۲هجري ) کې وليکله ، هماغه محمد هوتک په (۱۱۴۲هجري ) ليکلې اوهماغه بهيريې ځارلی دی. هغه شــاعري چــې اشــرف خان هجری اورحمان بابا کړې ، او ياهم هغه غزل چي اکبرزمينداوري ويلی په هماغه فورم کې خوشال او ترهغه راوروسته پيرمحمد کاکړ او احمدشاه بابا هم ځارلې ده . په داسې حال کــې چــې دايجاديــاتو اوهنــري ادبيــاتو دودې لــه قانونمندۍ سره سم بايد رنګارنګي را منځ ته شي ځکــه چــې ادب اوهنــر لــه يونواخته او تکرارسره لکه چې انسان له ناولتيا وو په نري رنځ اختــه کيــږي ، همداسې تاوان وينې . چې بايد داسې نه وي .

لنډه داچې زما لپاره منځنی ادبي پير يا دوره پــه همدغــه پــورتنې مفهــوم او تاريخي شاليد سره  په دغه څيړنه کې مطرح ده ، يوټکی مو بايد په پــام کــې وي اوهغه داچې پښتو ادبي منځني دوره دلته په هغوځانګړنو سره نه ده مطرح لکه چې په لويديز او اروپا کې منځني دوره يادېږي ، دلته موخه يــوازې دغــه دوره بندي دافغاني ادبياتو اودهغوی له طبعيت سره په اړيکــو کــې دپــاملرنې وړده نه دلويديزتولنوهغوغوندې .

په دغه ادبی بهيرکې  کره کتنه اودهغې تاريخچه په خپــل وار يــوه دپاملرنــه وړموضوع ده ، يو بهيردی چې له دغو ادبياتو سره په منظمه توګه وده کړې ده ، څومره چې دلته پښتو ادبي بهير ساده و ،کره کتنه هم ورســره ســاده ، خــو څومره يې چې وده کړې په هم هغه کچه دا هم ورسره پــرمخ تللــې، وده يــې کړې ، پيچلې شوې اوان چې علمي شوې هم ده. مخکې تردې چــې پــه دغــه ادبي بهيرکې دکره کتنې پر بهير باندې وغږيږو ، يوه لنډه کتنه تردغــه ادبــي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بهیردمخه هغو نښوته کوو چی زموږ لیکوالوهغوته اشـاريې کـړې او لـه دغـې موضوع سره يې بې ارتباطه نه دي بللي .

## کره کتنه ترمنځني پير دمخه:

زموږ په لرغونو ادبیاتوکې دکره کتنې په اړه دځيړنو لپاره دايجـادي مـوادو او آثارو څه نشته ، او نه بايد په دغه برخه کې په مصنوعي توګه ځـان پـه لاپـو شاپو باندي بوخت وساتو ، سره له دي چې په دغه برخه کـې يـولړخبري اوس موږدځيړنې دمقايسې ميتود ترسيوري لاندې کولای شو ، خوزه بـاورلرم چـې بشپړې به نه وي ، يوه پيړې دمخه چې چا په دغه اړه څه ويلي او ليکلي ، نـن په خورا زياتو دلايلونه يوازې دانتقاد وړدي بلکې د خندا وړهم دي ، ځکه چې هغوی فکرنه کاوه چې نړې به په يوه دوو پيړيو کې دکشفياتو هغې کچـې تـه رسيږې چې نور به څه په هغې کې دپټيدو نه وي ، زموږ زيـاتو پوهـانوداخبره کړې چې دپښتو ادبياتو په لرغوني دوره کې کره کتنـه وه ، اوپښـتانه پوهـان پرې پوهيدل ، ان چې وايې ددغه علم پيلامه هم په هم هغه دوره کې شوې ده او لومړني پښتون ليکوال چې په دغه برخه کې لاس په کارشوی هغه ابومحمد هاشم  ابن زيد السرواني دی  چې خپل اثر « دسالو وږمه » يې هم په دغه بـاره کې ليکلي و. ددغه پټ نوميالي نوم موږ ته پټه خزانه را پيژني چی ليکي :

« ابومحمد هاشم دهلمند په سروان کې په سنه (۲۲۳) هجري قدسي زيږيدلی اوپه بست کې يې له علما او فصحا څخه لوستنه وکړه ، وروسته ولاړ په عـراق يې په کلو کلو دلويو ائمه څخه سمع وکړه او ابن خلاد چه خرګندو په ابی العينا سره يې په بغداد کې عمرونه تيرکړل اوله هغه يـې دعربـي بلاغـت او اشـعار ولوستل ابومحمد له عربي څخه په پښتو يوکتاب کښلی و چې پـه هغـه کـې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دعربي اشعارو فصاحت اوبلاغت يي بيان کړی و ، اونوم يې د(سالو وږمــه) وه »
(۱)

که پردغه موضوع باندې لږ رڼا اچوو، زه فکرکوم چې که ســالووږمه زمــوږ لاس ته راغلې وای ، نو دا به بی شکه لومړی انتقادي اثرو چې دکره کتنې پــه بــاره کې هغه هم په پښتو کې ليکل شوی دی ، زه په دغــه اړه يــوازې د مقايســوی څیړنو له مخې او هغې بيلګې په شته والي سره چې ترموږ پورې را رسيدلې ده دومره په اجمالي توګه ويلای شم چې په کوم وخت کــې چــې محمــد هاشــم سرواني ژوند کاوه ، او په کوم وخت کې چې دی بغداد ته رسيدلی ، دغه مهــال په عربی نړۍ کې دکره کتنې په برخه کې يو طلايی دور دی ، داســلامی دورې په لومړيو دوو پيړيو کې دعربي ژبې په برخه کې خورا زيات پرمختګونه شــوي دي ، ان چې کره کتنې هم ديوه مضمون په توګه هم په دغــه دوره کــې خــورا زياته وده وکړه په دغه عصر کې لکه دجاهليت دعصر په شان په عربــي ژبــه کې کره کتنې لوی اهميت وموند. عربي او عجمي پوهان په دې بــاور دي چــې اموي واکمنانانو دراشدينو خليفه ګانو برعکس شعراوادب تــه پاملرنــه وکــړه اودغه ډګرېې تود وساته، زياترو شاهانو او سردارانو د شعر ويلو ذوق درلــود او حتی داسې هم کيدل چی خطبې به يې هم په شعرويلې ،دهمدغوځانګړو پــه پام کې نيولو سره په لومړيو دريو پيړيو کې کره کتنې په زړه پورې وده وکړه ، دحضرت علي لمسۍ سکينه لومړنۍ ميرمن وه چې له کره کتنې سره يې کلکه مينه ښوده ، عبدالملک بن مروان هغه اموي خليفه و چې لوړه ادبــي اونقــادي قريحه يې درلوده ، په عباسی خليفه ګانو کې هارون الرشيد له کره کتنې سره پيژندګلوي درلوده ، مامون الرشيد هم دشعرپيژندنې ښه ذوق درلود که چيرې پردغه مهال دبغداد په اړه هم دا ويلای شو چې دلته کره کتنې هم ځانګړې ښه درلوده ،په دې مانا چې دلته کره کتنــه د ودې پــه لــور روانــه وه او ځــانګړی اهميت يې درلود . « ... په عراق کې دادب او ذوق حالت دجاهلي دورې په شان

(c) ketabton.com: The Digital Library

له وياړ او تعصب څخه خالي نه وه چې حالاتو، چاپيريال اوزماني هم لــه هغــې کړنلارې سره وړتيا درلوده، په مريد اوبصــره کــې شــاعران راټوليــدل خپــل شعرونه به يې ويل ، او يوپربل به يې مفاخره کوله ...» (۲)
دهمدغو اشارو په رڼاکې کيداى شي زموږ دليکوال ابومحمد هاشــم پــه ادبــي ذوق باندې هم ددغه عصرادبي بهير خپله اغيزه ښندلې وي ، دمحمد هوتــک په وينا دى هم دکره کتنې په دغه تاوده بهيرکې په عراق کې و. او دغه تــاوده بهير پرده باندې هم خپل اثرکړى دى. ځکه نو ده هم په دغه اړه دعربي شعراو فصاحت په برخه کې خپل کارکړى اودغه کارېې بيــا دســالووړمه پــه واســطه پښتوژبې ته هم را ليږدولى دى. زموږ ليکوالو هم په دغه باره کې خپلې رايــې ويلې دي چې زموږ نامتو ليکوال حبيب الله رفيع وايي چې :

---

(۱) محمد هوتک بن داود ، پټه خزانه ، ځلورم چاپ ، کابل ، ۱۳۶۵ (۲۹) مخ .
(۲) ډاکتر عبدالحسين زرينکوب ، نقدادبى لومړى توک ، تهران ۱۳۵۴ (۱۴۰) مخ .

« په پښتو کې ادبي نقد زوړ او لرغونى دى ، لومړنى څيړنې په دريمه پيړې کې ابومحمد هاشم ابن زيد السروانى راونښلولې او په خپل نامتو اثر (سالو وړمــه) کې يې دعربي اشعارو دفصاحت او بلاغت بيان وکړ... (۱)
په پښتو پخوانيو ادبياتوکې دويم اثر چې يوه برخه يې زموږ پــه واک کــې ده ، هغه د سليمان ماکو تذکره ده ، موږ دا منو چې داخو يوه تذکره ده اوهغه دکره کتنې لپاره بشپړه نه ده ، خو يوه خبره بايد له يــاده نــه وباســو هغــه داچــې، داتذکره ده اوهغه هم دشاعرانو او دعارفانو ، چې له شعراو شاعرى ســره يــې سروکاردرلود،اوديوشميرشاعرانوپه اړه يې خبرېکړې چې هغــه خپلــه دکــره کتنې موضوع ده ، خو دريغه چې دغه اثر هم په بشپړه توګه زموږ په واک کــې نشته ، خو بياهم ښه خبره داده چې دغه ځو پاڼې يې هــم زمــوږ لپــاره دکــره کتنې په برخه له هره پلوه مهمې دي. په هرډول دغه دوې بيلګې له موږ ســره

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ دکره کتنې په برخه کې هسې ديوې يـادونې پـه توګـه مرسـته کـوي ، ترمنځنۍ بهيردمخه شته له دې پرته نورکه هرڅوک په دغه برخـه کـې څـه وايي هغه به له لاپوشاپو زيات بل څه نه وي .

## منځنی ادبي بهير اوکره کتنه:

له پورتنې يادونې وروسته په جرآت سره ويلای شو چـې پـه منځنـي ادبـي بهيرکې خبره برعکس ده ، منځني ادبي بهيرخورا زياته وده کړې ، ان تـردې چې سړی ويلای شي ، دومره پياوړې دوره اوترې دمخه دومره کمزوری ادبـي جريان له يوه اوبل سره په هيڅ ډول داپرتلې وړ نه دي ، په دې مانا چې په دغه دوره کې ايجاديات وده کوي او شاعران هم په شعوري توګه دشعراو ايجاد ډګر ته مخه کوي ، کره کتنه په تما مه مانا ديوه برلاسي علم په توګه خپلـه وړتيـا اوځای لري. اودالومړی مرجع اولومړنی بهيردی چـې د کـره کتنـې منظمـې بيلګې په کې ترسترګوکيږي چې شاعران اوليکوال پردغه مهال دکـره کتنـې پراهميت پوه کاروايی کوي اوپه شعوري توګه دهنري اونوښتي پديدو په ايجاد باندې لاس پورې کوي ، دوی د وخت دکره کتنې له اصولو سره سـم لاس پـه کارکيږي، مانا داچې دادبي آثارو دمعيارونو ټاکلو لپاره کره کتنـه ديـوه منـل شوي ميتود او لاربنود بڼه غوره کړې او ديوه پراخ ادبي بهير د ودې پـه تـرڅ کې خپله لاربنودې او روزونکې دنده اورسالت دعلمي کره کتنـې پـه رڼـاکې پرمخ بيايي . چې ترټولو مخکښ او نومیالی شاعراو ليکوال ، کـره کتـونکي او هنرپوه استازی يې خوشال ختک دی چې په دغه برخه کې دشلمې پيړۍ لـه کره کتونکو سره په علمي ډګرکې پرتله ، مطالعه اوڅيړل کيدای شي .

خوشال ختک ( ۱۱۰۰-۱۰۲۲ هجري ) په پښتو منځني ادبـي بهيرکـې لـومړني ليکوال دی چې ددغه عصرپه ادبي بهيرکې يې دکره کتنې ژوندی روح پوه کړ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهغه هنري اوادبي افکار په دغه ادبي بهیرکې هغه مرغلـرې دي چـې زمـوږ دمنځنیو ادبیاتو دګلپاڼوپاڼوبڼ پرهغو باندې ښکلول شوي دي. په پښـتو کـې دخوشال ادبي کارنامې او ادبي افکاردیوه ټولنیزدایره المعارف ځای لري ، پـه دې چې دادبي مطالعاتو داسې اړخ نشته چې ده به پرهغه باندې څـه ویلـي او لیکلي نه وي ، علامه حبیبی دده دځانګړي استعداد او ادب پوهنیزشخصـیت په اړه لیکي : « ... خوشال یوعالم سړی و ، مشرقی علوم یې لوستي اودعربي او پارسي دبلاغت اوفصاحت علوم یې ښه زده وو ، په فقه اوتفسیر اونور اسـلامي علومو کې یې معلومات درلوده ، پهتصوف کې هم خوشال خان بشـپړ و اودده له ویناوو څخه دده پوره علمي لیاقت څرګندیږي ...» (۱)

---

(۱) بریښ ، افغان یاد ( دمقالو مجموعه ) کابل ۱۳۶۰کال (۹۸) مخ .

په هرډول ، زموږ په منځني ادبي بهیرکې هم خوشال ته دا ویـاړ ورپـه برخـه شوی چې ده دکرکتني په اړه لکه دمخه هم اشاره وشوه علمي فکرکـړی دی. دی په دغه برخه کې ان دراتلونکو لپاره هم په علمي لحاظ دلاربښود ځای لري ، ځکه چې په خپل وخت کې برسیره پردې چې شاعردی او لیکوال ، سیاست پوه دی او هنرمن په عین حال کې یې دیوه ښه کره کتونکي دنده هـم سـرته رسولې ده اوپه دغه برخه په علمي معیارونو او اساساتو برابرآثارتري پاتې دي. خوشال دیو سالم ادبي بهیرد رامنځ ته کیدو پـه خـاطردکره کتنـې مقـدس مقاومت اوقضاوت ته لاس واچاوه ، دده عصر په پښتونخوا کـې د وچ تعصـبي برلاسی عصرو ، داسې چې کله کله یې ان انتقاد او ګوتنیوي ته هم دلیکلـو او ویلو اجازه نه ورکوله ، دغه حالت دداسې یوې فضا ښودنه کولـه لکـه داروپـا دمنځني پیردوچواو دګم شرایطوپه څیر، خوخوشال له دغو حالاتو سره سـره بیاهم دیوه پراخ سکوت ملا ورماته کړه اوپه پوره جرآت سره یې هغه څـه پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغاني ټولنه کې دشعراونثرپه ژبه باندې وويل چې دپوهانو په وينا په دغه عصرکې دبل پښتون له توانه نه وو پوره، چې يوبرخه يې هم په دغه ترخ کې کره کتنه وه ، خوشال په دغه برخه کې دلومړي ځل لپاره ګام کيښود اودکره کتنې لپاره يې يوه مقدمه راپيل کړه . يوه خبره چې په دغه اړه بايد وويله شي هغه داچې په ټول منځني ادبي بهيرچې څه زمور شاعرانو دادبياتو، ادبي پديدو په باب ويلي مور پوهيږو چې دهغوځومره د ادبي نقد او کره کتنې اوڅومره دادب پوهنې دنورو برخو په باره کې دي . د فارسي او هندي(*) کره کتنې په اړه دخوشال مطالعه کيدای شي ددغه ټکي لامل شي چې ده په پښتوژبه کې په دومره ژورتيا سره دکره کتنې په اړه فکرکړي وي ، ځکه نو سړی ويلای شي چې کومه ژبه او کوم فکر چې په دغه اړه ده کارولي ساری يې په ټول پښتو ادب کې ډيرلږ ليدل کيږي ، دده په نامتواثر (دستارنامه ) کې دهغه اثر څلورم هنر چې دشعرپه اړه کښل شوی دي په خپله يوه کره کتنه ده . خوشال په دغه برخه کې شعر په علمي او هنري توګه تعريف او تشريح کړی دی ، دده نظر په دغه برخه کې هم په علمي او هم په هنري لحاظ دپاملرنې وړدی ، په دی مانا چې ده په دغه برخه کې دکره کتنې لپاره ديوه مقدماتي بحث لکه د ارسطودبوطيقاپه شان پيل کړی دی. داچې د ارسطو بوطيقا د کره کتنې په پيل اوپيلامه کې دپاملرنې وړ نړيوال شهکاربلل شوي اود علمي ارزښت له پلوه ترننه هم له اهميته ونه ولويد همداسې خوشال اود هغه انتقادي ليکنې او کره کتنه په پښتوژبه کې بوطيقايي ځای اواهميت لري، دی دهنرپه اړه ليکي : « داهنرچې دشعردنظام دی هم داخل دکسب کمال دی. امامشتق دی له شعوره چه جبلي طبيعت دشعرلري ، شعردهغه دی ، فنونه ، صنعتونه يې په کسب حاصليږي ، که ډيرتحصيل

---

(*) په خوشال پوهنه کې يومهم بحث هند پوهنه ده ، په دې مانا چې خوشال په خپل وخت کې د هندي ادب او ددغې ژبې له نزاکتو او ادبياتو اود هغو له مهمو آثارو سره آشنا و ، زمور يوشميرليکوالو دده (دستارنامه ) په فارسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژبه کي نظام الملک کيکاوس له (سياستنا مي سره يوشی بللي په داسي حال کي چي دا سمه نده ځکه چي خوشال په دستارنامه کي د نامتو عالم کوشليه دنامتو اثر (آرت شاستر) سره ورته والی لري .

دعلم وکا ، صنايع بدايع دشعرزده کا ، چه طبيعت دشعرجبلي نه لري، خبره به نظم نه کا... دراصل شعر په لغت کي کلام منظوم وته وايي ، دواړه مصراع دبيت په تول تللي ، په حرفونوسره سمي عروض قافيه سره جوړ ، په داکـي هرچـي وي که قصيده وي ، که غزل وي ، که رباعي وي ، که قطعه ده ، که مخمس ، کـه مسدس په ډيرو چي شعروايه شي ... دشعرپايه لويه ده دحکمت سره ياد شوي دی، پيغامبرانو ويلی دی ، ددي خانه برانداز سينه ګداز خوتعريف توصيف کوم ، لګيدلی اوردی چي هرڅه په مخ وړي . ميلمه زور ور دی واړه وينـي دلړمانـه خوري . پوهـه يـي دشـواره ده ، ويـل يـي ګـران دي، دهرچـا کارنـه دی، دشعرطبيعت په مثال دتوند باد دی ، لويي ونې طاقت لري چه ورته ودريږي او که نه بنياد محکم نه لري ، هغه ونې له ويخه ولوړوي ، قوت دعلـم بويـه چـي ويخ يي پري محکم وي اوکه نه يي افت مضرت به پاتي نه شي ... چي بي علـم شعروايي خونقصان لري . اول خوبـه يـی درسـت ونـه وايـي ، دشـعردعيب جاسوسان ډيردي . ځان به دخندا کا... »(۱)

دخوشال دغه نظريه په خپل وار ددغه تکي څرګندويه ده چي دی دکره کتنې په علمی اصولو او ارزښت باندي په ښه توګه پوهيږي ، په دي مانا چي دي پـه دغه برخه کي ځان په رښتيا هم ديوه لارښود نقادپـه دريـځ کـي دروي ، دی دواړه علمی او هنري وړتياوي په دغه برخه کي له ځانه په ډاګه کوي ، کله چي نقد کوي ، هلته ديوه عالم له ليد سره مل دی اوکله چي ايجاد کوي ، هلته دی ديوه شاعر له ليده سره ځان غاړه غړی کوي . ځکه دی په خپله د شعر دعيب له جاسوسانو څخه ځان ساتي او نه غواړي چي ځـان دهغـو ترانتقـاد لانـدي راولي اونه غواړي په دغه برخه کي د ناپوهی له امله ځان دخندا کا. ځکـه نـو دی ديوه عالم نقاد له دريځه دخپلي نظريي له امله ډيرښه مطالعه کيدای شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه خبره مو په یاد وي چې ده نقاد اوکره کتونکي ته دجاسوس نومونــه یــاده کړې اوداهغه نادرنومونه ده چې له ده پرته په شرقي ادبیاتو کې له نورو نــه ده په ډاګه شوې . دی په بل ځای کې دیوه تیورسن په توګه وایي:

که شعردی هغه دی چې یې ووایي دانا
هغه څه شعر نه دي چې یې ووایي کانا
دواړه توکه څه وي درته وایم په معني
یو آواز دخره دی بل آواز دی د سورنا

بل ځای وایي :

بل که هرڅو در ګوهرپیي په شعر
عیب جوی یې جاسوسی کا دافعال
هرشاعر یې په ویلو ګوت منډی کا
که په شعر کې ته من یې دی مثقال
(کلیات ۵۳۷ مخ )

خوشال په ځانګړې توګه د پښتو شعر منځني بهیر ، هغه بهیر چې په مجمــوع کې په علمي

---

(۱) خوشال خان ختک ، دستارنامه کابل ۱۳۴۵ ۲۴-۲۳ مخونه .

لحاظ دانتقاد ور دی انتقاد کړی ، ځکه چې ده ته پښتو شــعراوادب ،ایجــاد او مطالعه په یوه تنکسیاکي ښکاري ، هغه شاعران چې ترده دمخه پــه روښــاني دوره کې دعصر نومیالي بلل کیدل دده په نظرهغوی ادبي محتوا ته لکه څنګــه چې وروه پاملرنه نه ده کړې ، مانادا چې دخوشال دانتقادي لید له اړخــه دوی هم دکلک انتقاد ور دی ، دخوشال دانتقاد دغه اړخ له تیوریکي پلوه هــم ســم بریښي لکه یوکره کتونکی دلویدیز دادبــي بهیــر پــه اړه لیکــي : « ... او پــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

منځنیو پیړیوکې چې په لویدیز کې کلیسا ته دتسلیم او ایمان عصرو هـرډول تنقیدي فکر او څیړنه شرم بلل کیده ، ځکه نو ترهغوچې ددغو خنډونو ماهیت څرګند نه و ، لویدیزې نړۍ ونه شواي کولای چې د ارزښتنو په څیړنــو بانــدې بریالی شي ...» (۱)

خو موږ په پښتو ادبیاتو کې دداسې اصل تطبیق نه شو کولای چې د غه او هغه بهیرپه فکري او تاریخي لحاظ د پرتلې وړ نه دي ، یوازې په ځینو برخو کې لــږ لږ ورته والي شته چې کیدای شي هغه هم په سرسري ډول یاد شي . خوشــال هم ترځان دمخه پیرته انتقادي ګوته نیولې ځکه نو وایي :

دمیرزا دیوان مې ومانده په ګوډي مسخر (مسخره ) مې ارزاني خویشــکي زمند کړ

څه شې چې دخوشال په دغه انتقاد کې په ځانګړې توګه دیادونې وړدي دادی چې دی په خپل انتقاد کې دهغه په عملي اونظري اړخونو باندې ټینګــارکوي ، غواړي دیوه رسالت مند کره کتونکي په توګه دومره روښانه لارښــونه وکــړي چې دغه جرات ان په اوسني کره کتونکي کې هم خورا لږ لیدل کیږي. پــه دی مانا چې دی په رښتیا هم کره کتنه کوي ، اودشعرپه ماهیــت بانــدې د زړه لــه کومې پوهیږي ، خوشال په دغه برخه کې په دي پوهیږي چــې شــعرڅه شــي اوڅوک یې باید ووایي ؟ دده د زړه خبره داده چې وایي :

په جهان ترشاعری بدڅه نشته خدای اخته مه کړه سړی په دا جنجال

خوشال دشعر په وړاندې دمسوولیت احساس پــه جــدی توګــه لــه پامــه نــه غورځوي ، مانا داچې څوک باید شعر ووایي اوڅنګه یې باید ووایي ؟ داهغه څه دي چې دی اندیښنه لري اوسپارښتنه کوي چې باید دغه کار د کاراهل ترسره کړي ځکه نو په بل بیت کې په روښانه توګــه آِرمطلــب تــه راځــي او خپلــه تیوري په دغه اړه په ډاګه کوي چې :

دهغه شاعر دانې وشه په ژبه چې دشعر در دانې پلوري په مال

(c) ketabton.com: The Digital Library

( ديوان دکابل چاپ ۵۲۴مخ )

داډول تمايلات په علمي لحاظ مورږ ته يو ټکی را په ګوته کـوي اوهغـه داچـې خوشال د اصولو له مخې يوه اديب کره کتونکی دی ، نه عالم کره کتونکی ، پـه دغه اړه لوی توپير له ادبي پديدې سره د ليکوال او کره کتـونکي چلنـد دی ، هغوی چې له ادبي ژبې ، شاعرانه انداز او نورو ادبي ځانګړنو څخه کاراخلي هغه ته اديب کره کتونکی وايو او هغه چې د ادبي تلازماتو او اندازونو پرځای زيـات پرفکتونو او اصولو او منطقي استدلال ټينګارکوي ، هغه

---

(۱) زرين کوب پورتنی اثر (۳۳۱)مخ

ته مورږ عالم کره کتونکي وايو.چې ترډيرې کچې يې کره کتنه او قضاوت دادبي آثارو او ادبي پديدو په اړه له علمی او انتقادي پلوه دباور وړهم دي.
په هرډول ، که چيرې غواړو چې په منځي ادبي بهيرکې دکـره کتنـې پـه اړه خپله خبره را ونغاړو ، نوپردغه ټاپي باندې درېرو چې ددغه ادبي بهيرپـراوړدو او لنډو ، ماناداچې له روښاني دورې رانيولې بيا تر ميراحمدشاه رضواني پـورې دکره کتنې بهيرديوه ډول ترچترلاندې راځي چې هغه ته پوهـان د (ذوقـي ) کره کتنې نومونه يادوي ، دکره کتنې ددغه ډول په اړه ويل شوي چې : « ذوقي کره کتنه دکره کتنې هغه ډول دی چې يوشمير شاعران او ليکوال يې ديوبـل په باب وايي او ليکي ، په دغه عصرکې هم لکه دپخوانو پـه شـان دود وه چـې دسياليو او رقابتونو بهير دغه اصل ته په زړه پورې لوړتيا ورکړه ، ددغه عصـر شاعرانو او ليکوالو نه يوازې خپلو آثارو او خپل اسلوب ته په خپلـو خبروکـې ګوته نيوله ،بلکې دنورو پخوانيو او معاصرو شاعرانو په باب يې هم خبرې کولې او هم يې خپلې علمي رايې ځرګندولې چې له هغـو څخـه جـالبې او پـه زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورې ګټې ترلاسه کولای شو ، لکه څنګه چې دپخوانو پــه بــاب دهغــوی لــه ستاینواو درناوي څخه پوهیدل کیږي ... »(۱)

پرته له منځنۍ دوره کې همدغه اصل برلاسی دی اوپرهمدغه میتود باندې کره کتنه دلته خپل دریځ پرمخ بیایی اوبرلاسی میتود بلل کیږي څکه پــه پښــتو منځنۍ ادبي دوره کې زیاترو شاعرانو یاد ځان اویاهم دنوروپــه اړه دســتاینې اوکله کله غندنې په لامل له دغه میتود څخه کاراخیستی دی ، دوی کله دځان ستاینه اود نورکمی ویلی دی، چې خوشال هم په دغه برخه کې خپل کــارکړی دی. دده په کره کتنوکې یوه هم په سواتنامه کې داخون درویزه پــر (مخــزن ) باندې کره کتنه ده چې زیاتره لیکوالو، کره کتونکو دکره کتنې له مخــې ډیــره لوړه ارزولې ده او په دغه دوره کې دکره کتنې ترټولو ښه اوپه اصولو پوره کــره کتنه بلل شوې ده.  خوشال په دغه اړه وایي :

درویـــزه چـــې بیـــان کـــړی خپـــل کتـــاب دی
نـــوم یـــې مخـــزن الاســـرار کـــړی جنـــاب دی
هربیـــان یـــې نـــاموزون مجهـــول بـــې رنګـــه
خـــالي پـــاتو لـــه دانشـــه لـــه فرهنـــګ
کـــه یـــوه مســـره پـــه شـــل بلـــه پـــه ســـل ده
نامربوطـــــه ناموزونـــــه پـــــه ویـــــل ده
قافیـــــه یـــــې لام و دال ســـــره وهلـــــې
پـــه ردیـــف کـــې یـــې نـــون واو ســـره پیلـــی
قصـــــیده د بوصـــــري ترجمـــــه کـــــړې
عربـــــي یـــــې ترپښـــــتو مضـــــحک راوړې

---

(۱) زرین کوب پورتنی اثر ( ۸۶)مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

هــر هربيــت دقصــيدې چـــې در مرجــان دی
پـــه پښـــتو كـــې تراوربشـــو لا ارزان دی
معمـــــا د (آذری ) ترجمـــــه كـــــړې
تصـــوف يـــې وعـــالم وتـــه نومـــوړې
ترجمـــه د( شاناصـــر) يوڅواشـــكاله
وعـــالم تـــه جـــوړه كـــړې لـــه مقالـــه
مســـلې يـــې نظـــم كـــړی پـــه پښـــتو دي
درتــه څــه وايــم چــې څــه دي دايســتودي
پـــه داهســـي شـــان كتـــا ب مباهـــات دي
دجامي تر (هفت اورنـگ) ورتـه ناويـات دي
گنـــده پـــز د گنـــده خـــور ســـره جـــوړ يږي
خاص په خاص اوعام په عام ويـل خوښـيږي
پـــه حيـــرت بـــه واړه گـــوتې وچيچلـــې
اخـــون پـــه مخـــزن چـــا گـــوتې كښـــيولې
هرسړی چـــې پـــه مخـــزن بانـــدې څـــه وايـــي
پـــه دنيـــا كـــې ترســـاعته بـــه څـــوك پـــايي

استاد روهي په دې باب ليكې چې :« ... خوشال نه يوازې دمضمون په لحاظ د اخوند درويزه پر(مخزن ) باندې انتقاد كړی دی ، بلكې دهغه فورم اوشكل تـه يې هم گوته نيولې ده
.د اخون درويزه پرمخزن باندې انتقاد كول هم څه آسانه خبره نـه ده ، ځكـه چې يوسفزيو پردې كتاب ډيره كلكه عقيده درلوده ...»
اومرحوم استاد حبيبي هم دخوشال دا انتقاد دسواتنامې په پايڅوړو كې موجه ښودلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه ټکي ته مو باید پام وي چې په منځني پیرکې زیـاترو پښـتو شـاعرانو لـه ذوقي کره کتنې څخه کاراخیستی خو دا ددي مانا هم نه لري چې ګـواکي پـه دغه دوره یوازي همدغه تګلاره دکره کتنې په برخه کې برلاسي تګلاره وه ، نه ، په دغه برخه کې دیوشمیرشاعرانو له خـوا دکـره کتنـې نـور ډولونـه هـم دشاعرانو اود هغوی دآثاروپه اړه کارول شوي دي دبیلګي په توګه موږ کـولای شو دحمید ماشوخیل له خوا د برهاني کره کتنې لـه میتـود څخـه هـم کـار اخیستل شوی دی. خو له دی سره سره با ید ووایو چې زیاتو لیکوالو له ذوقـي تګلارې څخه کار اخستی دی چې ځوبیلګې یې دلته لومړی دځان ستاینې پـه اړه را اخلو :

خوشال وایي :

چې لاپ وهي دشعر　　　نن په دا دور دي ډیر
خدای دې نه کا چې به وایم　　　حال د دویو تیراوبیر
ځوک پاوی ځوک نیم پاوی　　　قلندر په کې نیم سیر
چې دموږه په حساب دي　　　هیڅ می نه دی واصل هیر
بل فقیر دولت دري پاوه　　　زه ترې ځوشیرهی تیر...

بل ځای له همدغه شعرسره په توپیرکې داسي انتقادي توره را کاږي او لیکي :

یوپه حال اوپه ماضي کې هسې نه و
چې ښکاره یې دخبرو راته خوند کړ
دمیرزا دیوان مې ومانده په ګوډي
مسخره مې ارزاني خویشکي زمند کړ
که دولت و که واصل و که دا نور وو
په خبرو مې دهریوریشخند کړ...

(کلیات ۳۴مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library

دخوشال په شعر کې داډول ګوتنوي ډيرزيات ليدل کيږي ،که څه هم په دغه ډول شعرونوکې دده ځان ستاينه خورا زياته او دپاملرنې وړښکاري ، خو دا ددې مانا نه لري چې ګواکي دی يوازې ځان وينې او جهان نه ، خوشال چې څومره دځان په باره کې رښتيا ويلي همدومره يې کټ مټ حقايق دنوروپه اړه هم په رښتيايني سره په ډاګه کړي دي ، اودشعرپه ډګر کې يې دنورو استعدادونه هم پرته له هرډول تعصب اوکينې څخه تشريح کړي او ستايلي دي. زه په دغه اړه په دې نظريم چې خوشال په خپل عصر (منځني دور) کې دټولو شاعرانو لپاره دکره کتنې په برخه کې دلاربښود حيثيت او مقام لري ، ده ديوه لاربښود په توګه ددغه پيردشاعرانو وړتيا وې او نيمګړتياوې دواړې په انتقادی ليد سره په ډاګه کړې دي. اودخپل دغه ليد له امله موږ ده ته دپښتوکره کتنې په تاريخ کې دلومړيتوب حق ورکوو. ده چې هرڅه ويلي هغه يې دکره کتنې داصولو له مخې ويلي دي ، ترده دمخه که ميرزاخان او نورو هم څه ويلی وو او يايې دچا په شعراوکلام باندې قضاوت کړی و ، هغوټولو دستاينوبڼه درلوده اودانتقاد څه په کې نه وو اويا لږ وو ، خو خوشال بيا په خپل وار په دغه اړه يونوی ګام پورته کړ او دلومړي ځل لپاره يې انتقا د دهغه په رښتيني او علمي مانا سره وکړ. دکره کتنې داصولو له مخې دانتقاد موخه ښيګړې او کمزورۍ دواړې په ګوته کول دي ، خوشال داکارکړی او په دغه برخه کې يې په خورا دقت سره ځان دقضاوت په ډګر کې درولی او داخبره نورو ته هم په خپل وخت کې په ډاګه شوې ده . دپيرمحمد کاکړ خبره دخوشال په اړه پرځای ده لکه چې وايي :

تل په شعر کې هم سيال دخوشال نشته

که څه درشت دی دا دده سخن دان شعر

(c) ketabton.com: The Digital Library

دځان ستاينې خبره په ټولو شرقي ادبياتو کې دود او معموله خبره ده ، په اردو، هندي او دری ژبو کې په سلګونو شاعران شته چې دغه ټکی يې په ځانګړې توګه سمبال کړی او په دغه برخه کې يې قلم چلونه کړې ده. دپښتو ادب په منځنۍ پيرکې هم دغه موضوع د بيلابيلو شاعرانو له خو ځارل شوې ده . نوميالی شاعر رحمان بابا هم دا کار کړی او ويلي دي :

خوشالا اود ولتا مې غلامان دي
زه رحمان په پښتو ژبه عالمګير يم
دميرزا د ارزاني دعوي به پرې کا
قدردان دشاعرانو رحمان راغی

کيدای شي ډيرخلک داسې فکروکړي چې رحمان بابا يوعاجزاوملنګ سړی و، دهغه په دغو کارو باندې کار نه و، خو داډول نظراو فکربيا دملنګ او قلنګ پرضد دی اوسړی دا ويلای شي چې رحمان يو مفکر، يوعالم اوپه هنري ارزښتونوباندی پوه او ملا مفکرو ، ده چې کومه ايجاد ګري کړی، هغه ديوه عالی فکراو تلاش پايله ده هماغسې چې خوشال وايي : « دشعرپايه لويه ده ، دحکمت سره ياد شوی ...» رحمان بابا چې د خوشال اودولت غوندې شاعرانو پرکلام باندې ګوتنيوی کوي، هغه په خپل ذات کې دغه ټکي په ډاګه کوي چې رحمان يولوی مفکراودشعرپه هنر باندې په هراړخيزه توګه پوه عالم تيرشوی دی. او داخبره چې هغه يو عادي ملنګ او له دنيا لاس په سر و ، په خپل ذات کې يوه بې مانا او دټيټ ذهنيت او درک څرګندونه کوي چې بايد اهميت ورنه کړل شي.

دپښتودشعر استاد حميد ماشوخيل دمنځني پير له وتلو شاعرانو څخه دی ، چا چې په دغه برخه کې شاعري کړی ، هغوی ټول ده ته ، دده پوهې ته د زړه له کومې ارادت لري ، هغه هم دځان ستاينې په برخه کې ځان آزمويلی دی ، داکار د ذوقي کره کتنې له مخې علماً زيان نه لري ، خو په دې شرط چې دروغ

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه وي . حمید په ځان ستاینه کې دنورو شاعرانوپه اندول ډیرمـاهیر او ځـرک دی ، په دي ماناچې کله دی په دغه برخه کې قلم چلوي ، هغه په خپل وار لـه داسې باریکیوسره مل دی چې جالب اودپاملرنې وړ انتقاد له ځان سره لیږدوي لکه دغه بیلګې :

داناپان به ورته غوږ نیسي حمیده
ناد ان څه پوهیږي ستا په درسفتن

( دیوان ۳۱۷)

فارسیانو دحیرت ګوتې په غاښ کړې
چې حمید سخن سازي کا په پښتوکې

( دیوان ۲۷۸)

مهمه خبره داده چې حمید لکه خوشال غوندې دکره کتنې په اهمیت باندې د زړه له کومي پوهیږي او د هغې رسالت دزړه له کومي مني . دکره کتنې لپـاره لیوال او تږی دي ، هغه شاعران چې په شعرکې یې نوښت او ابتکاروي ، هغو ی تل په خپلو آثارو باندې دقضاوت لپاره سترګې په لار وي ، خو له بده مرغه چې حمید په دغه دوره کې یـوازنی څـوک دی چــې دخپـل شـعرلپاره یـې پـه پښتنواوپښتو کې قدردان نه دي موندلی ، حمید ښه شاعردی، دی پـه خپـل وخت کی لومړني شاعراو هنرمنددي چې دشعرغلا (ادبي غلا ) ته یې چې نـن سبا یې په ادبي کره کتنه کې ځای ځانګړی دی اشـاره کـړی، او پـه دغـه اړه ځانګړي سپارښتنه لري لکه وایی :

دانسته مضمون دزدي له بله نه کا
دحمید ویل پخپله دي لذیذ

( دیوان ۹۴ )

(c) ketabton.com: The Digital Library

داچې حمید لوی شاعر دی مانا داده چې لویه اوپراخه پوهه هم په دغه برخــه کې لري ، په ستاینه هم پوهیږي ، په غندنه هم ، او په کره کتنــه هــم ،ځکــه فریاد کوي :

دحمید دمینې ګوټ به کره ووزي
که پري پوه شي قدر دان صراف

( دیوان ۱۶۰ مخ )

پیرمحمد کاکړداحمدشاهي دورې نومیالي شــاعراولیکوال اوګرامــر پــوه هــم دخپل وخت دنومیالی پوه اوشاعرپه توګه د پښتو ژبې نومیالي شــاعران ټــول لوستي ، څیړلي او د دوی شعرونه یې ارزولي دي ، هغه ددغــو شــاعرانو آثــار خپلې مخې ته اچولي اودهغوپه اړه یې خپل نظرڅرګند کړی دی :

دمشهورو شاعرانو حال مې ووې
نه و ماته دنورو عیان شعر ،

چې انصاف زه پیرمحمد کړم لافې نه کړم
په هم عصرو کې مې خوښ دي دځان شعر

( دیوان ۴۲مخ )

قلندر بل شاعردی چې هغه ځان ستاینه کړې اوپه دغه پیرکې دشــاعرانو پــه حال او استعداد باندې غږیدلی دی ، دهغه په دیوان کې هم دکره کتنــې دغــه ډول ته اشاره شوې او خپل نظر یې داسې بیان کړی دی :

دپښتو ژبې په شعر په داخپله زمانه کې
پرې دی نه ښود قلندره بې حمید بل حریف

په پښتو منځنې ادبي بهیرکې زما لپاره ددغې دورې ترټولو مهــم او دپــاملرنې وړشاعرنومیالی شاعر په ځانګړې ډول دپښتوکره کتنې په تــاریخي بهیرکــې دیادونې او ستاینې وړدی ، دغه نومیالی شاعراو ادیب دخوشال دمکتب ترټولو ځوان او ورستی خانزاده کاظم خان شیدا دی. کوم څه چــې خــانزاده کــاظم

(c) ketabton.com: The Digital Library

شیدا په منځني ادبي بهیرکې دکره کتنې اړوند ویلي اولیکلی هغه زما په انـد ترخوشال خان هم دپشتوکره کتنې لپاره په علمی اومیتودیک لحاظ دپاملرنې وړدي ، کاظم خان شیدا، هغه لوی شاعراومفکردی چې دهند په نیمه وچه کې یې وده کړې او دلته یې په ادبی هستونو باندې لاس پورې کړی دی ، دی دهند په بیلابیلو ژبو لکه اردو - هندي اوفارسی په ښه توګه پوهیده اوددغو ژبـو لـه ادبي شهکارونو سره یې هراړخیزه آشـنایي وه اود یادوشـویو ژبـو لـه ادبـي بهیرونو سره په تمامه مانا بلدو، همداده چي دی هم په دغـه ځـانګړي ادبـی بهیرکې یولړداسې خبرې لري چې هغه زموږ لپاره زموږ له موضوع سره اړونـد خورا مهمې دي ، دکاظم شید انظریاتي تمایل موږ ترهرڅه دمخه دده ددیـوان په مقدمه کې له ځان سره لرو ، دی په دغه سریزه کې دکره کتنـې یورنګینـه تحلیل زموږ په واک کې راکوي ، دغه تحلیل دویم تحلیل دی چــې مــوږ هغــه ددغه نومیالي ادیب دفکری ، ادبی اوانتقادی لید یوعلمی او میتودیک تحلیــل بولو ځکه نو دلته دا اړتیا محسوسوو چې دغه مقدمه لومړی له ځان سره ولرو، بیا یې ولولو او په پای کې له لوستونکو څخه هیله وکړو چې ویې ارزوي . کاظم خان شیدا دخپل دیوان په پیل کې دخپلې دغې سریزې په ترڅ کې مــوږ تــه دیوه نوښتګر او دهندي سبک د نومیالی سرلاري په توګه لیکي :

« راقم ددې صحیفې محمد کاظم ، شیدا تخلــص ، ختــک نســب ، حنفــي مذهب، نقشبندي مشرب (غفرالله تعالی ذنوبه وسترعیوبه ) په عرض دســخن شناس ، روشن قیاس رسوي . هرچند په نزد دخردمند ، شــان دســخن رفیــع وبلند دی.

بیت

آب بود معنئ روشن غنی
خوب اگر بسته شود گوهراست
اواهل ددي فن عزیز وارجمند-

(c) ketabton.com: The Digital Library

بيت

ازسخن ما را دماغ ديگراست

چون صدف مغز سرما گوهراست

ليكن زه چې په دوكان كې دشاعرۍ قليل البضاعت يم او په ايوان د زبان آورۍ زرنګار دصناعت نه لرم ،و خپل مناسبت فطري له دې شيوې سره په محل دقصور كې مومم اوموانست جبلى له دې وتير په مراحل دورتر، با وجود آن په عنفوان الشباب كې مې استراحت دحضر په محنت دسفرمبدل شه او الى آن مې په شام دغربت صبح دوطن مالوفه طالع نه دى ، انواع دمحن دلشكن چې لازمه دسفرومنافي د راحت وفراغت دى ، لاحقه دخاطرفاطر.

بيت

مدتى شد چون قلم در مشق سرگردانيم

تاچه آرد برسرم آخرخط پيشانيم

بالجمله په كلبه دجدايى او په ناويه دتنهايۍ كې په مصداق ددې مضمون يم :

فرد

دل مى تپد ونيست كسې را درس ما

ازقافله دوراست خروش جرس ما

به آنكه خواهش دهسې دولت لرم چې حلاوت دانزوا شم او حاصل ددې قيل وقال ، مطابق زما دحال دى.

فرد

آئينه ام ازنور نظرميكشد آزار

تاعاقبت كارمن ازهم نفسان چيست

بل مبرا له ځان اوجهانه وم او بهرمند له دې شان ونشانه ،

په دغه دوره كې داډول تمايلات چې دكره كتنې په برخه كې دپاملرنې وړدي، ديوزيات شميرشاعرانو له خوا وړاندې شوي دي اوپه آثارو كې يې ځاى

(c) ketabton.com: The Digital Library

موندلي دی ، دغه بهیر په خپل وار ترهرڅه دمخه دغه ټکی په ډاګه کوي چې وايي:« دهراديب په دننه کې يونقاد هم وي » .

موږ په منځني پيرکې ديوشميرشاعرانوله دغه شان نظرياتو سره مخامخ کيږو چې په ټوليزه توګه دوه اړخه لري، يوداچې يوشميرخو دقدماووپرشعرونو باندې يوازې د ارادت له مخې خبرې کړي دي ، خودويمه ډله بيا په انتقادي ډګرکې ولاړه ده اوپه جدي توګه يې انتقادکړی دی . اودځانګړو شاعرانو په شعرونو باندې غږيدلي دي چې په دغه برخه کې اشرفخان هجري ، عبدالقادرخان ځټک ، قاسم علي ، کاظم شيدا ، شمس الدين کاکړ، عبدالعظيم رانيزی ، ميرزاحنان ، ميراحمد شاه رضواني ، عبدالله پوپلزی ، دولت لواڼی ، قلندر اونوردي . ددې لپاره چې اصله موضوع موښه روښانه کړې وي ، ديوشميرشاعرانو په شعرونو اوکره کتنو په ترڅ کې دهغوی تحليل راواخلو :

شمس الدين :

که څوک ونيسي په لاس ميزان دشعر په عروض کې سنجيده بيان دشعر

وبه نه رسي په شعرله رحمانه که هرڅو کوي هوس افغان دشعر

په تحقيق سره رښتيا لسان الغيب دی لياقت يې درلوده لسان د شعر

پس له دويه موشګاف عبدالحميد دی باريکي يې دکلام ده ځان دشعر

درست ديوان يې له نوخطوګفتګوی کا هم يې واخيست له نوخطوشان دشعر

ښه مربوط شعربيان عبدالقادر کړ ځکه دی په پښتانه کې کان دشعر

په غزل کې يې لږ پست وبلند نشته برابريې دی تما م سامان دشعر

عليخان په رنګين شعرکه خبرشې هرغزل يې دی تنها ديوان دشعر

نه رسيږي دچا لاس دده ترفکر هسې شان يې کړ بلند ايوان دشعر

دخوشال خټک په شعر نظر وکړه چې څکوي په يوه تار کاروان دشعر

دفقير ميرزا په شعر ويل نشته بل به نه وي هسې شان دکان دشعر

په رديف کې برابردی ولې دريغه بې معنی الفاظ يې کړه عيان دشعر

قلندر و دميرزا ديوان موجزدی منتخب يې څوغزل بيان دشعر

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل شاعر عبدالرحیم دبخارا دی        چې یې نه لیده ردیف پایان دشعر
پیرمحمد کاکړ په شعر کې نامدارو     یووړقبر لره ده ارمان دشعر
که د واړو شاعرانو حال بیان کړې    نه کړي څوک پرشمس الدین ګمان دشعر
( دیوان ۴۱مخ )

پیرمحمدکاکړ وایی :

جـــوړ پــــه شـــعرکې رحمــــان غیـــب اللســـان دی
پــــه داڅیرنشــــته هرګــــز د انســــان شــــعر
ترمصــــرع یــــې ځارشــــه لــــړ دمرغلــــرو
پــــه څــــه تــــاریې اویختــــه کړیکســــان شــــعر
تــــل پــــه شــــعرکې هــــم ســــیال د خوشــــال نشــــته
کــــه څــــه درشــــت دی دا دده ســــخندان شــــعر
کــــه څــــوک بحرمــــواج وایــــی ورتــــه ښــــایي
پــــه دیــــوان کــــې یــــې مونــــده شــــي هرشــــان شــــعر
هــــیڅ ترشــــعره د رحمــــان بــــه ډیــــرکم نــــه وي
ومنصــــف تــــه دخټــــک خوشــــال خــــان شــــعر
لکــــه شــــعر دی دده پــــه پښــــتونخوا کــــې
بــــل بــــه کــــم وي پــــه داوخــــت دافغــــان شــــعر
بیــــا رنګــــین شــــعر بیــــان عبــــدالقادرکړ
داشــــرف دی هــــم دده نــــه ســــوزان شــــعر
پــــس لــــه دویــــه موشــــګاف عبدالحمیــــد دی
چــــې یــــې ووې ښــــه نــــازک نکتــــه دان شــــعر
دمیــــرزا شــــعر بــــه جــــوړ و ولــــې دریغــــه
پــــه وحشــــي الفــــاظ ده کــــړو ویــــران شــــعر

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمشهوروشـــــاعرانو حـــــال مـــــې ووې
نـــه و مـــا وتـــه دنـــور بيـــان شـــعر ه
چـــې انصـــاف زه پيرمحمـــد كـــړم لافـــې نـــه كـــړم
په هـــم عصـــرو كـــې مـــې خـــوښ دی دڅـــان شـــعر

( ديوان مخ )

كه وغواړو چې پردغو دواړو شعرونو باندې څه وليكو، په دغه اړه يوازې دومره ويلای شو چې دشـــمس الـــدين كـــره كتنـــه هـــم دوه اړخـــه لـــري ، يـــوداچې ديوشميرشاعرانو لكه رحمان بابا ، خوشال خان ،علی خان حميد او نورو ته په اهميت قايل دی ستايي خو دويمـــه ډلـــه لكـــه ميرزاخـــان تركلـــك او قلنـــدر تركمزوري انتقاد لاندې راولي ، په داسې ډول چې په خپل انتقاد كې تعادل هم نه شي ساتلی او داسې تصور له سړي سره پيداكوي چې ګواكې انتقادي يې هـــم پرتقليد باندې ولاړ دی ، شمس الدين شاعردی ، خوكه يې د كـــره كتنـــې پـــه دريغ كې دروو ، په هغه حال كې سړی ويلای شي چې كه ميزار دانتقاد وړ دی ، نو خوشال هم له آسمانه نه دی راغلی هغه هم ستونزه لري ، اوپه شعركې يې لكه دميرزاخان په شان زيات وحشي ( ناآشنا اوكله كلـــه د نـــه ويلـــو ) الفـــاظ ترستركوكيږي ، بله داچې خبره اوانتقاد يې نوی نه دی ، همدغه كټ مټ خبره پيرمحمد كاكړهم كړې ، هغه هم وايي :

دميرزا شعر به جوړ و ولې دريغه
په وحشی الفاظو ده كړ ويران شعر

په داسې حال كې چې ميرزا خان دپښتوادب په دغه ادبي پيركې له مخكښانو څخه دی ، دوی ته دا خبره بايد معلومه وای اوپه دغـــه اړه يـــې بايـــد پـــه پټـــو ستركو قضاوت نه وای كړی ، دميرزا په اړه له دغې خبرې پرته بله خبره يـــوه شاعر هم نه دي ويلي ، اوكه يې ويلي نو هغه بيا داسې چا ويلـــي لكـــه دولـــت

(c) ketabton.com: The Digital Library

لواني ، نوميالي شاعر او په پښتو شعر کې دشاعرانو سردار ، هغه دميرزا په اړه وايی :

میرزا ګنج راته خپل وښوده غني شوم
بیهوده صفت به ولې دبل چا کړم
هيڅ افغان ده غوندې شعرکړی نه دی
دی په خپل عصرکې هرچانه بهترو
يادا چې ميرزا حنان وايي :
يوميرزا ميرخان دولت دعلم کان وو
دسلوک شعريې کړی دی افضل

خوشال په خپله ټوله لويی سره په دغه اړه وايی :

له چا نه په پښتو کې ما ميزان ليدلی نه دی
ميرزا په دا لسان کې ويل کړي دي تللي

که خبره لږ را لنډه کړو ، پيرمحمد کاکړانتقاد کـړی او شـمس الـدين دهغـه دمبلغ دنده سرته رسولې ده ، پیرمحمـد کـاکړ اشـاره دميـرزا پـه شـعرکې عروضې باريکيو ته دی ، په دغه اړه بايد ووايو چې له دولته پرته زياتره پښــتو شاعران په خپلو شعرونو کې له عروضي پلوه نګوښيدلي دي ، دمصراعو انډول او وزن يې نيمګړی دی لکه دغه شعر :

هرسالک چې دسلوک په لارکې سم مري
چې دحقيقت دمينې پرصنم مری
(ديوان ۲۰۹) مخ

يوځل بيا د کاظم خان شيدا نظرته ورګرزو دی بې شکه په شعرپوهيږي اودکره کتنې ارزښت ورمعلوم دی، دی هم په دغه برخه کې ترنورو يوڅه زيات دمخــه شوی اوپه پښتو ژبه کې يې دشعراوشاعرۍ په څرک پسې دخپـل نظـر نيلــی

(c) ketabton.com: The Digital Library

زین کړی اوپرهغه توله نازکخیالي چې دی يې په شعرکې لري، پرهغه څه چې ده دهند پرفرهنګي چا پیریال کې دځان کړی او پښتو ته يې دګـل پـه شـان رنګینه دیوان ډالۍ کړی وايي :

دپښتو ژبه تمامه    ده بې نظمه بې نظامه
چې اشعاروته يې ګورې    خود زما ترشعرپورې
جوړ دنثرعبارات دي    مسجع په فقرات دي
عندلیب وايي وځان ته    راشي دي زیبا بوستان ته
ګل پریشان کا له آهنګه    بیا غنچه کاندي دلتنګه
په دا هونره پښتنوکې    بیا په ژبه دپښتو کې
یومرزا ، دولت واصل هم    ښه کلام لري حاصل هم
چې قلم په لاس دخان شو    مرتب يې لوی دیوان شو

کاظم خان شیدا خبره را سپینه کړې، اوپه پښتو کې پرهغه سـتونزه غړیـدلی دی چې هغه ترننه هم پښتوشعرته ور دغـاړې ده ، اوس پـه پښـتوکې زیـات شمیر شاعران له عادي پوهې برخمن نه دي ، اوس هم لکه چې کاظم خان پـه ډیرادب سره ویلی (ګل پریشان کا له آهنګه ) پـه پښـتو ژبـه کـې دکیفـي شاعرۍ په مانا نه پوهیږي ، کاظم خان یوله هغـو شـاعرانوڅخه دی چـې پـه هندی او فارسی دواړو کې د استادۍ ترپورې رسیدلی دی ، ده ته موږ له شکه پرته د شعراو هنر استاد ویلی شو هغه وايی :

کړه يې وا لکه ګره دتورو زلفو
باریکي لري تمام دیوان زما

اوداهغه خبره ده چې په ژورې پوهې ، هغه هم په ادبیاتوکې سړی درک کـوي او پرهغې به دهنر په معامله کې ځان عیاروي . ځکه نو سړی ویلای شـي چـې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دده انتقادي نظرپه دغه برخه کې ځانګړی دهاستاد بینوا دده دفن او فکــر پــه اړه کاږي :

« سره له دې چې سخن شناسان اودفن ماهرانو ته دا صلاح حق ورکوي . بلکی دهغوی اصلاح دځان په حق کې يوډول احسان ګڼي . بياهم دخپلو اشعارو لــه ويونکو څخه يوه بله هيله لري اوهغه داچې دوی بايد د شيدا اشعــارو تــه پــه سرسري نظر ونه ګوري اوڅه قدريې په تامل او دقت سره ولولي . ځکــه چــې دده دځينو اشعارو مفهوم او ادبي خوند په سرسري نظر نه ځرګنديږی ... » (۱)

دکاظم خان شيدا کره کتنه په پښــتو منځنــي ادبــي بهيرکــې دپښــتو شــعر دغوړيدوپه برخه کې له يوې خوا دپاملرنې وړده او له بلي خوا ښه لارښونکې ، ځکه چې دی په دغه برخه کې ډيرژورفکرکوي داسې چې داوسنيو شاعرانو له توانه هم نه دی پوره ، شعرته پرهنري ارزښت برسيره له ملــي پلــوه اهميــت ورکوي ، نوښت او نويوالی اوهنري وړتياوې هغه څه دي چې دپښتوشــعرپه اړه يې هرهغه چا ته چې شعروايې سپارښتنه کوي چې دا وړتيا دپښتو شعرد ودې او پرمختيا يوازني لامل بولي .

رضواني په دغه کاروان له وروستيو کسانو څخه دی چې دپښــتومنځني پيــر دشاعرانو په اړه يې خپله ايده اونظريه ويلې ده، دی هم اته تنه شــاعران چــې هغه خوشال خان دپښتو شاعرانو پاچــا ، عبــدالقادرخان لکــه چــې دی يــې دخوشال لومړني زوی بولي او يوه تيروتنه ده ، هجــري ، کــاظم خــان شــيدا ، رحمان بابا ، حميد ، عليخان ، بابوجان ته داســتادی پــه ســترګوګوري، ديــوه اوږده شعرپه دغه ترخ کې ده هم هغه څه ويلي لکه چې له نورو مو ولوســتل ، دی دخپل شعر په پای کې وايي :

| | |
|---|---|
| وو په قدرومنزلت کې په خپل دور | دا اته واړه په مثل د شاهان |
| نور د ډول اود سورنې شاعران ډيردي | رضواني دغه شميرلي استادان |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پا يله :

دانتقادي مطالعاتو له پلوه څه چې دپښتو منځني پيرپه ادبياتو اوپه تيره بيا په کره کتنه کې دپاملرنې وړدي هغه دادي چې زياتره شاعرانوچې څه دځانو او يا نورو دشعراو اوافکاروپه اړه ويلي ، دهغــوی ډيــری د (مفــاخرې ) بڼــه لــري ، مفاخره د زياترو ادبپوهانو لکه ايراني

---

(۱) کاظم خان شيدا ، ديوان ، کابل ۱۳۳۱ کال سريزه

ليکوال لطفعلي صورتګر او افغان ادبپوه اروابناد الهام په کره کتنه کــې نــه ده شميرلې ، خو پښتو کلاسيکو شاعرانو په منځ کې داسې کسان هم شته چې په عين مفاخره کې يې شديده انتقادي

روحيه هم دځان کړې ده چې دغه تمايل زه فکرکوم له نقــد څخــه نــه شــي بيليدای. بله خبره چې ددغه ادبي بهيرپه اړه يې بايد وکړو ، هغه داچې له کره کتنې سره دوه ډوله چلند شوې دی ،

يوداچې سم او دکره کتنې له اصولوسره برابر چلند او دويم ستايوال چلند دی ، په دې مانا چې ليکوالواوشاعرانو ځان دنورو شــاعران د افکــار تراغيزلانــدې راوستی ، هغوی ته يې دومره امتياز ورکړی چې له ډيره درنښته يې کره کتنــه له ياده وتلې ده اوپه دغه برخه کې يې نظر نيمګړی دی . دريمه خبره داده چې په دغه بهيرکې هرڅه چې ويل شوي هغه د(ذوقــي ) کــره کتنــې ترســيوری لاندې دي اودغه ډول په دغه برخه کې برلاس ډول دی ، ذوقی کره کتنه لکــه چې له نامه څخه يې ښکاري د نړی په ادبياتو کې دځاني ذوق بڼه او اصول لــه ځانه سره لري ، او څه ناڅه دغه ډول پردغه مهال پــه زيــاترو شــرقی ادبــي بهيرونوکې لکه چينايی ، هندی ، فارسي اوان عربي کې ددغــو ادبيــاتو دکــره کونې په لړکې کارول شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پردغو ټکو برسیره باید ووایو چې په دغه پیرکې دیوه مهم اثرچې هغه هم لــه کره کتنې سره تړاولري هم را منځ ته شوی چې هغه (پټه خزانه ) دی ، دغه اثر دمحمدبن داود له خوا په ۱۱۴۲هجري کال کې په کندهارکې لیکل شــوی دی، دغه اثریوه ادبي تذکره ده، په هغې کې دادبی آثارو په ایجاد باندې خبرې لري او دهغې په ترڅ کې یې په ادبي پدیدو او ایجاداتو باندې قضــاوت کــړی دی. نومیالی لیکوال زلمی هیواد مل ددغه اثر په اړه لیکي :

« ... دپخوانیو شــاعرانو پــه بــاب دمحمــدهوتک لــه دې ډول قضــاوت څخــه څرګندیږي چې ده دهغو شاعرانو دکلام په باب نظــر څرګنــد کــړی دی چــې دیوانونه یې ورته لیدلي دي، یایې دکلام ډیرې ستونزې ورته په لاس کې وې ، دمعاصرو شاعرانوپه کلام داکثرو آثارو او دیوانونه یــې لیــدلي دي ، او پرهغــو آزادانه نقد کوي او حتی دپاچا دشعرپه باب که ضعفونه او خامی ولري پرته لــه هیڅ ډول ملاحظې او ویرې خپلې خبرې کوي ... » (۱)

په علمي لحاظ دمحمد هوتک کره کتنه هم په خپل جوړښت کې ډیرنوي څــه نه لري ،څه چې ده په دغه باره کې ویلي هغه ترډیــره حــده دشــاعراولیکوال فزیکي اکر باندې دکره کتنې پرځای غږیدلی دی ، له بده مرغه چــې همدغــه ساده تشریح په راوروسته کې هم یوشمیرلیکوالو ان زموږ په دري اوپښتو کې په همدغې آسانۍ سره څارلې چې زیاتره د ادبي پدیــدې پرځــای دشــاعرپه څیره او جوله باندې بوخت شوي دي. محمد هوتک یوخل بیــاهم هغــه تیــره خبره په ساده نثرکې داسې کښلې ده : « خوشال بیګ هم دغزلو دیوان لرینه ، چې دده غزلونه ډیرښه دي، او کله کله هزل په شعروایی ... » (۲)

اوداهم هغه خبره ده لکه چې پیرمحمد کاکړترهرچا دمخه په دغه اړه کړې ده، ځکه نوداکومه نوې خبره نه شو بللای ، خوله دې سره سره دا دویلو وړده چــې په دغه اثرکې دپښتو ژبی اوادبیاتو، پښتو شعر او هنرپه باب خبرې راغلې دي او یواړخ یې دکره کتنې له موضوع سره تړاو لري ، داچې دا دسلیمان ماکو لــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تذکرې وروسته دويمه تذکره ده نوېې ديوه مقدماتي اثرپــه پــه توګــه ونــډه دپاملرنې وړده. محمد هوتک په اثرکې دمحمد يونس په اړه ليکــي : « محمــد يونس په پيښور کې علمونه اوکتابونه ولوستل او په هغه وقت کې عبدالرحمان بابا ژوندی و دهغه شاګرد شو. اود شعر ديوان يې جوړکا، چې ډيرغــزل لــري ، محمد هوتک حکايت کا، چې محمد يونس په خپله ديره کــې ډيرپــاتې کــړم اوهره ورځ يې ماته ويل چې يوه نن شپه لا وکړه بيا نو ولاړسه . يــوه مياشــتې يې زما عزت وکااوهره ورځ به يې اشعار ابدار ويل ... (۳)

---

(۱) دمحمد هوتک ژونداومزار ، کابل ۱۳۶۲ (۷۸)مخ
(۲) پټه خزانه ، کابل ۱۳۵۷ (۳۸)مخ.
(۳) همدغه اثر (۶۲) مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دويم څپرکی

## دپښتو اوسنی کره کتنې پيلامه

### (د شلمې پېړۍ لومړۍ نمايي )

دپښتو هنري ادبياتو د ودې اوايجاد دپيــل پــه برخــه کــې دنولســمې پيــړۍ وروستي کلونه پـه ځانګړې توګه دیادونې وړدي ځکه چې په دغوکلونــو کــې چې د منځني او معاصرپير ترمنځ پوله بلل کيدای شي،دپښتو ادبياتودايجــاد په برخه کې دنوي ادبي خوځون نښې نښانې را وټوکيدې . په دې مانا چې نــور نوکلاسيک ادب خپله شکلي اوماناوي وړتيا په نوي رنګ او نويو فورمو کې چې دنوي عصر ايجاديات ورته وايي رامنځ ته شول، په دغه برخــه کــې ترهرڅــه دمخه په پښتو کې دمنشيانو(منشي احمد جان ، مولوي احمــد اونــور ) هلــې ځلې او يو لړادبي کارونه ديوې پيلامې په توګه ديادولو وړدي. برسيره پــردوی يوڅه راوروسته استاد راحت زاخيلي په دغه بهيرکې دهنري ستوري په شــان په نوي ډول او نوې روحيې سره دپښتوادب پرآسمان باندې راوپړکيد. اونثريې له شکه پرته په نوي بنه هغه څه زموږ په واک کې راکړل چې په تمامه مانــايې دعصرله نړيوال بهيرسرههم سيالي کوله او هم يې ورته والي ورسره درلود ، ده يوشميرداسې آثار لکه ( شليدلې پڼه ) (کونډه نجلۍ ) اوتردغوهم اوچت (ناول دمارخې ) اونورايجاديات پردغه مهالپښتو ادب ته ور ډالۍ کړل چې دغو ټولــو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خپل ذات کې د نوي انداز او نوي طرز اوعصرکې پیغام په شکلي او معنــوي لحاظ له ځان سره درلود. هرڅوک چې دغــه آثارپــه لــومړي نظرګــوري نــو داپوښتنې ورسره رامنځ ته کیږي چې ولې په پښتوادب کې د منشیانواو راحت په آثارو سره دپاملرنې وړ توپیر رامنځ ته شو ؟ ولې د راحت آثــارو پــه خپــل عصرکې دنوي ادب ځانګړتیاوې دځان کړې ؟ او یا ولې د راحت په ادبي جــاج اوتفکرکې دادب په تیره بیا دمعاصریت او معاصرو ادبي ژانــرو خبــرې دیــوې اړتیا بڼه وموندله ؟ دغو ټولو خبرو ته ځواب کیــدای شــي دا وي چــې راحــت پردغه ځانګړي مهال دیوه داسې لیکوال پــه حیــث را وپړکیــد چــې دخپــل عصرادبي روح یې په عامه اود پښتو ادبي بهیراړتیایې پــه خاصــه توګــه درک کړه اوپه دغه ادبي بهیرکې یې په نویو او نوښتني هستونو باندې لاس پورې کړ ځکه نو دده په باب داخبره سمه ده چې وایي : « پښتو په موجوده ترقي یافتــه ستایل کې اچول د راحت صاحب ایجاد دی . په دې لحاظ که ورته دنوې پښتو موجد وویلای شو نو بې ځایه به نه وي (۱) . که موږ راحت اودهغه ادبي افکارلږ په غورسره وګورو او ویې لولو ، زه په دغه اړه داخبره په پوره باورسره کــولای شم چې د اوسنۍ کره کتنې نظري طرحه په کوزه پښتو نخواکې د را حــت لــه افکارو سره تړلې ده اوده ته منسوبیدای شي داځکه چې دادب پــه اړه داســې فکرکول په خپل ذات کې دیوه دقیق او علمي درک پایله بلل کیــدای شــي او آثاریې په خپل ذات کې دعصرځانګړنې په خورا دقت دځان کــړې دي ، دی د ناول دمارخې یا نتیجه عشق په مقدمه کې لیکي : « ناظرینو دا کتاب فی الوقع صحیح قصه ده ، مګردیوې وجهی اصلی نوم پری ایښــی دی ، امیــد دی چــې ناظرین به دې قصی لره په نظــر درغبــت وګــوري ځکــه چــې دحــال زمــانې سرګذشت دی او زما دچشم دید واقعه ده چــې پــه ســنه ۱۹۰۶، ســنه ۱۹۰۷ ، ۱۹۰۸ او ۱۹۰۹ کې تیره شوې ده ... (۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library

داخبره په خپله دا په ګوته کوي چې ، دی که ایجاد ګرو ، نو څیړونکی هم و، او دتخلیقی او تحقیقی ادب په رمزونو باندې د زړه له کومی پوهیده ، ځکـه دده په اړه هم هغه عموي وینه په ښه توګه صدق کوي چې : « دهرشاعر او هنـرمن په دننه کې یوکره کتونکی رمزهم پټ دی » ځکه نو د راحت له شخصیت سره که څه هم دی شاعردی اوکیسه لیکونکی خولـه دغـو ځانګړنوسـره یـې پـه آثاروکې انتقادي خبرې هم شته چې دهغو له مخې یې یـوکره کتـونکي هـم بللای شو.دا سمه ده چې مورږ هغه ته یو مسلکي کره کتونکی نـه شـو ویـلای ځکه چې دی تل ایجاد کوي او دغه اړخ یې ترانتقادی هغه پیاوړی دی ، ده پـه ( ستړي مه شي )کی د ټولنیزانتقاد یوه برخه زمونږ په واک کې راکړې ده.

په افغانستان کې محمود طرزی لومړنی لیکوال و چې د پخوانۍ زمانې شـعری بهیراو پخوانی شعر، شعري سمبولونه او تشبیه ګانې ، چـې پـه هغـه شـعري بهیرکې یې هنري انځورونه جوړول دخندا وړاویا په بله ویناداننتقـاد وړوبلـل ، محمود طرزی د اوسنی نوی شعرپلوی شاعراو منتقدو چې له ده وروسته دغـه تګلاره دسراج الاخبار زیاترو لیکوالو اوشاعرانو دځان تګلاره کړه ، دوی ټولـو بیا پرپخواني شعراو دهغه په شعري جوړښت باندې کلک انتقادونه وکـړل. پـه افغانستان کې دپښتو ژبې ګوتې په شمارلیکوال هم په دغه برخه کې د محمود طرزي پرلار روان شول، اوهماغه انتقادی بهیریې دپښـتو شـعرپه برخـه کـې وځاره . دسراج اخبارپه پاڼوکې چې څه مورږ د کره کتنې د ډولونو په نامه څـه وینو هغه زیاتره د کتاب معرفی ، دشاعرانو ژوند لیکونه ، په پخواني شعر باندې ګوت نیوي دي چې دتقریظ او مقالو بڼه لري. دبیلګې په توګه دمولـوي غـلام محې الدین افغان دسراج الاخباردپنځم کال په (۴) ګڼه کې د ( حالات خوشال خټک ) ترسرلیک لاندې مقاله خپره کړه ، په دغه مقالـه ده د خوشـال خـان دشعرپه څرنګوالي باندې په بشپړه توګه خبـرې او انتقـادي کتنـه کـړې ده ، ترکومه ځایه چې د لیکنې شکلي جوړښت دی ، هغه په هراړخیزه توګه دیوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړنی انتقادی اوادبي مقالي بنه لري او ليکنه يې ديوې انتقادي ليکنې ډېرې ځانګړنې لري ، افغان دغه مقاله په فارسي ژبه ليکلې ده چې په يوه برخه کې د خوشال په اړه وايي : « ... ديوان خوشال خان کـه بحـر زخـار پندونصـايح وضرب الامثال وجواهرنا ياب است درحجم از کتاب ديوان حافظ (رح) بـزرگ مى باشد، ديگردرعلوم وفنون مختلفه اين شـخص زايـد ازيـک صـد کتـاب تصنيف کرده است. اما الحال ازتصنيف او همين ديوان وفضل نامه و فرخنامـه ورياض الحقيقه وعياردانش(*) ترجمه انوارسهيلى به مشکل ميسرمى شـود. اين بديع افغان دراکثرمعقولات ومنقولات علامه

---

(*) وروستيوڅېړنوونبودوه چې دغه ژباړه دخوشال خان نه بلکی دهغه د نوميالی اواديب زوی ده .

دهرگذشته است. علاوه ازين خان موصوف درشجاعت وجوانمردی وسـخاوت رستم وقت وحاتم دوران خود بود... اشـعارافغانی او بـی مثـل واشعارفارسـی خوشال خان بدرجه اعلی مى

باشد... » (۱)

انتقادي اوادبي مقاله دکره کتنې يومهم ژانردی چې په هغه کې دادبياتو مهمې ځانګړنې ، بهيرونه او سبکونه څېړل کيږي ، د سراج الاخبار ليکوالو هم له دغه ادبي ژانرڅخه کاراخيستی او يولړادبي اوټولنيزمسايل يـې پـه دغـه ژانرکـې توضيح کړي دی ، ترکومه ځايه چې څرګنـده ده،دسـراج الاخبـار د ليکوالـو انتقادي ژبه په نثراونظم کې يوډول نه ښکاري اونه هم په دغه برخه کې خپـل انډول ساتلی شي ، دوی ادبی کره کتنې ته پاملرنه کړې ، خو زياتره هغه څـه چې په نثراو انتقادی مقاله کې ليکي ، هغه ګرده دهغو له شعروينې اوکره کتنې سره په تمامه مانا توپيرلري ، په دې مانا چې د دوی شعری ژبه ترنثـري هغـې دادبياتواو شعري تحليل په اړه ډېره تيزه ده. دمثال په توګه که چيرې دافغـان

(c) ketabton.com: The Digital Library

له مقالې سره دهغه شعرپرتله کړو ، نو دهغه له شــعره مــوږ تــه دهغــه وړتيــا اوانتقادي ژبه له هره پلوه سمه ښکاري شعريې دادی :

بياچې مخ د دلبرشمس وقمربولې          په تخمين به دا سودا کوې ترکومه
لمرپه دوو ګوتو هيچا نه دی پټ کړی          ته به داد حق اخفا کوې ترکومه
نه رسيږي دچا لاس به وکاکل ته          ته د زلفو به سودا کوې ترکومه
دلبران ټول بې وفادي وفا نه کا          ته يې طمع د وفا کوې ترکومه
معشوقان دعاشقانو قاتلان دي          ته دترکو تمنا کوې ترکومه
دفرنګو په تيغ زړه زما سوری شو          دجرمن به نمنا کوې ترکومه
ديورپ وحال ته ګوره حال يې څه شو          خوشالي به په ايشيا کوې ترکومه
راشه راشه سترګې ومورږه بيدارشه          دنرګس به تما شا کوې ترکومه
دغنم په شان خاموش شه خوله که پټه          ته به ګل غوندې خندا کوې ترکومه
حميد څه شو چې بيدل دپښتنو وو          ته رحمان غوندې وينا کوې ترکومه

نه څوک غوږ باسي نه پند اخلي افغانه
چپ شه ته به دا وينا کوې ترکومه

زه فکرکوم چې دمعاصرشعراو شعری بهير په برخه کې ددغه شعرانتقادي اړخ ډيرپياوړی اوډپاملرنې وړدی ،کله چې پردغه شعربانديې دکره کتنې پــه پلمــه خبرې کوو، نو ترهرڅه دمخه مو دغه پوښتنه ترسترګوکيږي چې دا انتقاد دی که نه ؟ هو، انتقاد دی خودشکل له مخې دمعاصرې کره کتنې بڼــه نــه لــري ، داسمه ده چې په دغه انتقادسره زموږ دادبي بهيرتګلوری ديوه نوي پرمختــګ په لور پرانيستل شو، دشعردبدلون طرحه له همدغه ځايه را پيــل شــوه، خــو بياهم دشکل له مخې دغه انتقادهماغه بڼه لري لکه چې په تيرڅـــپرکي کــې موديوشميرپخوانيوشاعرانودنظرياتو په ترڅ کې ولوسته، کيدای شــي داســې

(c) ketabton.com: The Digital Library

طرحو ته هم په معاصرمفهوم ( ذوقي ) کره کتنه وواېو. دکره کتنې په اړه دا خبره دیوزیات شمیرپوهانو له خوا منل شوې چې په دغې پوهه کې دمسایلو

---

(۱) سراج الاخبار ، پنځم کال ، ۴ګڼه ، ۱۳۳۳ هجري کال.

دښې تشریح په موخه یومهم اصل چې په پام کې نیول کیږي ، هغه دنوي او زاړه ترمنځ د دیالکتیکی اړیکوداندول په نظرکې نیول او خوندي کول دي چې دغه ځانګړتیا د کرکتنې د روزنیزاړخ دپیاوړتیا لامل دی . سره له دې چې په دغه شعرکې دیوې نیمګړتیا نښه له ورایه داده چې له پخوانې شعري بهیرسره ډیرسرسري چلند شوی دی ، خو دلته باید دا ټکي په ګوته کړو چې کله ذوقی کره کتنه یادوو، هدف دلته هغه نومونه ده چې ادب پوهانو له اوږدې مودې را په دې خوا په تیره په ختیزو ادبیاتوکې ددغه ډول انتقاد لپاره غوره کړې ده ، که چیرې ( ذوق ) دښکلاییز مفهوم په توګه په عام ډول په پام کې ونیسو، کیدای شي دامفهوم بیا دادبي خیړنو په نورو برخو کې مطالعه او وڅیړو. دافغان ددغه شعرپه ترڅ کې زموږ لپاره دکره کتنې په برخه کې یوڅرک ترسترګوکیږي چې دهغه له مخې دغه کره کتنه دنوښت په لحاظ هم زیات اهمیت لري ، لکه چې مخکې هم اشاره وشوه ، په دغه کره کتنه زموږ په شعري بهیرکې یوټاکونکی بدلون رامنځ ته شو دا چې مثبت بایدوارزول شي اوکه منفی داپه خپله یوه فردي ذهني مساله ده ، شعراو ژوند ، ژوند او شعر یوبرید شو چې په نوي ډول یې په معاصرادبي بهیرکې دیوه فکري بدلون ساه ننه ایستله او په افغاني ادب کې دغه پوله د تحول او بدلون پوله ده ، که چیرې دا خبره هم وکړو چې دغه پیراو دا ډول نظریات په علمي اوعملي توګه ، ددې لامل شول چې په شعرکې باید زاړه انځورونه ، سمبولونه او ان تخیلونه له یوه بدلون سره مخامخ شي او له یونواخته موضوعګانوڅخه دي په نوښتي ادب کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېره وشی ، دافغان اودده دعصرله يارانوسره ادبی بدلون يوه اړتيا شوه اودغــه اړتيا په خپل وار کره کتنه اودهغې واک اوځواک و. چې دغه شعرپه دغه برخه کې ديوې بيلګې په توګه ځان په ځانګړې وړتيا سره زموږ په وړانــدې طرحــه کوي اودکره کتنې يوه ښه اوعلمي بيلګه بلل کيدای شي لکه چې يــو ليکــوال ليکي :

« کره کتنه دادبي آثارو بهيربدلوي، دادبي اثرپه ميتود اوکړنلاره بانــدې ژورې اغيزې کوي که ادبي کره کتنه نه وي ، نو په نوښتي آثاروکې زياتې بې لاری او ګډوډی رامنځ ته کيږي... » (۱)

لنډه داچې که نوی شعرزموږ د زماني حتمي غوښتنه وي ، که نوی شعردټولنې دنوي برخليک په بدلون کې ځرګند رسالت لري ، که له شاعر سره دنــوي ادب او فرهنګ دبداېي پوښتنه وي ، نو دا ځانګړتياوې هم ددغه شعرپه انتقادي ژبه کې ځرګنده ، مثبته ، روزونکی او علمي کره کتنه ده.

---

(۱) لکچرهای آموزشي ، (ګستتنر) دکابل پوهنتون چاپ ۱۳۶۲ (۱۴۵) مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د شلمې پېړۍ د پړشم کلونه

## ۱ــ پښتونخوا :

دپښتوکره کتنې په پيل کې د رواني پيړۍ ديرشم کلونه پــه ځــانګړې توګــه ديادونې وړ دي، هغه علم چې په راتلونکې کې بايد د اوسنۍ کره کتنې په نامه ياد شي دهغه دپيل کلونه اود ودې پړاو له همدغو کلونو را په ديخوا پيل شوی دی ، په دغوشپو ورځوکې يوشميرخپروني له کوزې پښتونخوا خپــرې شــوې چې هغو په ادبي اوهنري لحاظ ډيراهميت اوځــانګړی دريــځ درلــود اود کــره کتنې نوې بحثونه يې را پيل کړل ..

په دغوخپرونو کې يو شميرداسې ليکنې زموږ ترسترګوکيږې چې هغوتــه پــه هراړخيزه توګه په پښتوکې د اوسنۍ علمي کره کتنې په برخــه کــې لــومړنې علمي بيلګې ويلای شو. دلته دوه ډوله ليکنې زموږ ترسترګوکيږې يا پــه بلــه وينا دانتقادي ژانرونو دوه ډوله دلته وينوچې يوه يې انتقادي مقاله او بلــه يــې کتاب پيژندنه يا پيژندګلوې ده ، په دغو ليکنــوکې پښــتو ادبــې بهيرتــه پــه انتقادي نظرکتل شوي خو دغه انتقادي کتنه بيا هــم ترډيــره حــده د پښــتو ادبياتو دغه پيرته ديوې بشپړې او سالمې لارښوونې دنــده نــه شــي ترســره کولای چې لامل يې يوازې او يوازې دمسلکی کره کتونکونشته والی بللای شو، يوشميرليکوالو او کره کتونکو په دغه وخت کې په ځانګړې توګه دپښتو دهغو شعرونو لپاره چې په مشاعروکې ويل شوي دي يولړلارښوونی په ګوتــه کــړې دي ، دا ډول ليکنې پردغه مهال په ( پښتون ) اخبارکې خپــرې شــوې دی. د ۱۹۳۸ کال په هغې مشاعره کې چې د کوهاټ پــه پوليټکــل مشــاعره باندې نامتوده نامتو اديب ، شاعراو ليکوال عبدالاکبرخان وويل :

(c) ketabton.com: The Digital Library

« ... ځما رونړو ! دشعرخاوندانو ! دقام جوړول او تباه کيدل ترډيره حده پــورې ستا سې لاس کې دی ، تاسو قوم له يونوی تخيل ورکونکي خلق يــې ، تاســې دقامې جذباتو احساســاتود آينــو خاونــدان يــې ، تاســې دقــام اود جــذباتو بيدارونکي يې . تاسې دقام په احساساتو جذباتو لوبي کونکي يې ، هغــه ! يــو عرض کوم چې هميشه دخپل فن دترقی خيال ســاتي . هميشــه شعروســخن خپل تخيل دقامي ستاينې تمدن تعمير په لارکې دصرف کولو کوشش وکړئ . دنيا ځان پسې روانه کړئ او تاسې دنيا سره ځی . زه دامنم چې دبدقسمتی نه زمونږ پښتون قام دادب طرفته توجه په داسې وقت کې وکړه، چې هغــه ډيــره دبي ارزی زمانه ده ، تمامي دنيا په بلا اخته ده ، دسياسي کشمکشی زمانه ده ، پښتون هم په سخته ابتلا کې دی ، لوږه ، بی آرامي دسياسي ابتکارشوق مــونږ کوټلی کارته نه وزګاروي په داسې وخت صحيح لتريچر پيداکول ګرانه خبــره ده ولی بياهم که چيرې هغه خلق چې د سياسياتونه جدا دي اووخــت ورســره شته ، هغوی دا کارپه لاس کې واخلي . د ی طرفتــه توجــه وکــړي اودا قــومي خدمت اوکړي نو دابه يولوی جهاد وي ، زه دخپل قوم په خدمت کې عرض کوم چې دداسې خلقو قدر وکړئ ، دهغوی حوصله زياته کړئ ، ولــي چــې صــحيح ليتريچر دخلکو دخيالاتو عکس دقوم حال او مستقبل ښه کولی شي ... » (۱)

په همدغه اړه په (پښتون ) کې يوبل ځای لولو:

« ديوقوم دلتريچرنه مراد دهغه تحريري کارنامه ده، چې دهغې نه مونږ دهغــې قوم دعروج او زوال حال معلومولی شوو. په دې ريکارد کې د تاريخ لويه حصه ده . دويمه درجه دفلسفې ده ، ددې نه ديوه قام د ذهني قوت حال معلوميږي. دې ته کوټلي يا وزني ليتريچرويلی شوو. دريمه حصه دادب ده چې هغــې تــه ادب لطيف وايي يا لايت ليتريچر په دې لحاظ سره يوازې ضروري نــه ده چــې هغه قوم ديوقوم جمالياتی ضرورت پوره کوي ، روح يې تازه کوي ، لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

(۱) پښتون اخبار، ۱۹۳۸ کال دنوامبرمیاشت (۲۹) مخ .

ددې لحاظ نه هم ډېرضروري دی چې دهغې نه دیوه قام تخلیقي روپ صـــحیح اندازلګي. دادب لطیف شوق ذوق چې په هغې کې شاعري ، افسانه نویســـي او تمثیل نګاري داخل ده ، په یوه قوم کې هغه وخت پوخوالي ته ته رسي او ترقي کوي چې د روزی دګټلــو، دکشــمکش دمنــزل نــه تیرشــوی وي او د ذهنــي اوجسماني سترِوالي دلرې کولو دپاره ، د آرام اودسکون طلب ګاروي. چونکــه دقومونو د ژوند دا دور صرف نزاکت خیال سره تعلق لري ددې دپــاره دیوقــوم دادب لطیف نه مورِ دهغې قوم دحالت دا انداز لګولي شو چې ده په دنیــا کــې دکشمکش حیات خــومره درجــې تیــرې کــړې دي او دخــومره مصــیبتونو - سختیونه پس بې آرام موندلي دی. اود جذباتو او احساساتو د نزاکت دلحاظ نه دخومره ذهني ریکمالی اوصفایی ورته ضررت پیښ شوی دی.

حضرات ! اوس راحئ چې په دې رڼاکې مورِ دپښتو ژبــې پــه ادب نظروکــړو او وګورو چې مورِ څه کړي دي، څه راته پاتې دي ، او مورِ له څه په کاردي اوڅــه رنګ به مورِ خپله ژبه ددې تقریرقابله کړو ، دابه مورِ پــه دوه طریقــو ګــورو ، یودهغې وخت ادب چې دنیا کې دعلم دومره چرچه نــه وه . او یــوددې وخــت یعنی دموجوده دورحال چې هرقام د ژبې علم وفن دلحاظه په تړپونو روان دی ، دجمالیاتي لحاظه نه هم او دغیرجمالیاتي لحاظه هم . » (۱)

داډول فکري تګلاره دکوزې پښتونخوا په زیاتروخپرونو(*) کې لیدله کیــږي، خو دایوپوښتنه داوسنیوعلمي پرمختګونو له مخې ورسره مطرح کیږي چې آیا مورِ داډول طرحې په ادبي کره کتنه کې وشمیرو اوکه په ادبي تیوری کې ؟ نن سباد ادبیاتواو ادب پوهنې ساحه په بیلابیلوعلمي څانګو باندې ویشله شــوې څکه نوپه دغه برخه کې خبره په یوه څانګه باندې نه خلاصه کیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

له بله پلوه زه فکرکوم دغه لنډه تبصره به بې ځایه نه وي چې با ید وویله شي هغه داچې: په دغو لیکنو هم دادبی کره کتنه اوهم ادبي تیوري دواړه سره ګډ شوي اواوډل شوي دي. کله چې دپورتنی لیکنې پیل لولو، هلته په ډاګه یوشمیرخبرې یادې شوي چې هغه د ادبي تیورۍ په میتودلوژۍ باندې برابرې دي، خوکله یې چې دپای ټکي ته راځو، هلته بیا داسې څه لولو

---

(۱) پښتون اخبار ، ۱۹۳۸ سپتمبرد لومړۍ نیټي ګڼه ، (۴۱) مخ .

(*) په دغو خپرونوکې نومیالې مجلې : لار، رهبر، پښتون، خپلواک .... اونورې راخې.

چې هغه له کره کتنې سره سرلګوي همداده چې مونږ دا ډول لیکنې اوطرحې هم ادبی تیوري بللای شواو هم ادبي کره کتنه ، په دې چې علمی بیس بې خورا پیاوړی دی، په مستقیمه اوغیرمستقیمه توګه دادبي ودې له کاروان سره په زړه پورې مرسته ، لارښونه اوپریوه سمت باندې دهغه لارښونه خپله رسالت او دنده بولي ، وګورئ دا چې اکبرخان وایي : لطیف ادب په یوه مقام کې هغه وخت دپوخوالي مرحلي ته رسیږي چې د « روزی ګټلو دکشمکش دمنزل نه تیرشوی وي » داهغه علمي نظریه ده چې نن سبا یې مارکسستي پوهان حواله په مارکس اومارکسیسم ورکوي اوادب په اړه یې دهغه په نبوغ کې شمیري. کیدای شي مونږ هم دپښتون مفکر دا خبره په ادبی تیوری کې راوړو ، خویوڅه چې باید په ډیردقت سره زمونږ په پام کې وي هغه داده چې دپورتني لیکنې ترمهاله په ختیزکې پوهان لاهم په دې نه پوهیدل چې ادبي تیوري اویانورادبی علوم به له یوه او بله دومره سره بیل وي لکه ادبی کره کتنه او ادبي تیوري ، زه اوس هم په دې باوري یم چې د ادبی تیوری ، کره کتنې او ادب تاریخ دخیړنو دپولو خبره لاهم په ډیرو برخوکې ګونګه ده ، لاهم نازکه ده اوپوره بیلتانه ته لاهم وخت پاتې دی. دپښتوادب په علمي وده کې دکوزې پښتونخوا ونډه په دې دپام وړ ده چې هغوی ترمونږ مخکې دنړۍ له ادبیاتو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهغوی له ادبي بهیرونو سره آشنا شول اوهغه ځانګړني چې لویدیزادب ته پــه تحقیقی او تخلیقي برخوکې وربرخه وې دهغو له مخې دلته (په پښتو ژبه کې ) ډیرخه دهغو په شان اودلویدیزبهیرونو تراغیزلاندې ترسره شوي دي . خو لــه دغو ځانګړنو سره سره ختیزادب په تولیزه توګه لاهم له دودیزپوښ څخه چې تردغه وخته په ختیزکې دود و نه دی راوتلی چې پښتو یې هــم یوبرخــه وه ، دلته هم کره کتنه لا دخپوړ دور وهي اوپرمخ ځینه ...

په دغه اړه یوځه دکره کتنې عملي برخې ته را ستنیږو چې هغه دکره کتنې د ژانرونو برخه ده ، موږ دپورتنیو نظریاتو په څنګ کې دکــره کتنــې د ژانرونــو یوشمیربیلګې له ځان سره لرو چې دهغو له مخې هم کولای شو دکــره کتنــې یوه برخه په ډیره ښه توګه وڅیړو او ویې پیژنو، دکره کتنې دبیلابیلو ژانرو پــه ترڅ کې یوهم اعلانامه ده ، دا یو ژانردی چې نن سبا یې پوهان دکره کتنې پــه برخه کې دپاملرنې وړبولي ، په کوزه پښتونخوا کې ددغــه ژانرزیــاتې بیلګــې دکتابونو پرپشتیوباندې ګوروچې په ځانګړې ډول سره یــې لیکــي چــې دوې بیلګې یې دادي :

## شهیده سکینه:

« دا هغه مشــهوره اوزړه غوځــونکې ډرامــه ده ،چــې پــه لوســتویې دســړي دسترګونه بې اختیاره د اوښکو سیلاب روانیږي ، په دې کې د پښــتو زنانــه وو مظلومي په داسې طریقه بیان کړې شوې ده چې یو سنګدل نه سنګدل ســړی هم بې اثره نه شي پاتې کیدی » . (۱)

## خوږ ژوندون:

« دایوه نوې ډرامه ده چې په (پښتون ) کې مسلسل شایع شوې ده او اوس پــه کتابي شکل کې میدان ته راووته . ددې متعلق به داقدر ویل بس وي چــې پــه پښتوژبه کې ددې مثال نشته ، په دې کې زموږ هغه عیبونه ښکاره کــړه کــړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوي دي چې دکومو په سبب پښتون قام په غاردتباهی کې پروت دی ، قيمت صرف څلوراني »(۲)

---

(۱) پښتون اخبار، (۱۹۳۸) دسپتمبردګنې پښتې.
(۲) همدغه اثر د دسامبرګڼه .

## ۲ــ افغانستان :

په افغانستان کې دا ډول ليکنې چې دشکل اومحتوا په لحاظ زموږ لــه بحــث سره تړاوموندلای شي زموږ لپاره ځانګړي اهميت لري ، يوه خبره چې بايد پــه دغه برخه کې مخکې له مخکي وشي داده چې په افغانستان کې د پښــتونخوا په اندول دتحقيقي ادب لمنه ترزياتې اندازې پراخه اود پاملرنې وړده، همداده چې دلته دادبي کره کتنې په اړه هم ډيرڅه چې ددغې پوهې له طبعيت سره نږدې ترسره شوي دي . همداده چې بره پښتونخوا له کوزې هغې
په ډيروبرخوکې توپيرلري ، په افغانستان ترټولو مخکنې خپرونه (طلوع افغان ) ده چې يوشميرمقالې يې دکره کتنې په اړه ديــادونې وړدي ، دادبــي آثــارو مطالعه ، څېړنه او تحقيق په دغه خپرونه کې ترسره شوی اود ادبــي جريــانونو پرتليزجاج هم په ډيروبرخو کې دلته ترسترګوکيږي. دطلــوع افغــان اونــورو خپرونو په ترڅ کې پرکره کتنه باندې ديوې عصري او ادبــي اړتيــا پــه توګــه خبرې شوې دي ، اوداهغه دپاملرنې وړخبره ده چې په راتلــونکې کــې زيــات شميرليکوالوهغې ته ديوه شعوري حرکــت پــه توګــه پراختيــاورکړه اودايــې دپښتوادب دودې اوترقۍ ترټولو ښه اوعلمي لاره وبلله اود داسې يوه حرکــت نښې په دغه برخه کې رامنځ ته شوې لکه چې يو ليکوال په دغــه برخــه کــې اشاره ورته کړې ده : « که څه هم خلک اوتاريخ ترټولو باخبره قضاوت کونکي دي اوخپل وروستي قضاوت دادبي او هنري پديدو په باب ترسره کــوي ، کــره

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوونکی دي چې ټاکلې پولې په ګوتو کوي اوپه خپلــه څېړنــه بانــدې ديــوې ابداعي پديدې په دننه کې دې نتيجې ته رسيږي چې کومه يوه يې ارزښتناکه اوکومه يوه مبتذله بې پيامه تکراري او تعقيدي ده ... »

هغه وخت چې استاد حبيبي دطلوع افغان چلونکی و په دغه وخــت کــې يــو لړآثارله پورتنی ميتودلوژۍ سره سم رامنځ ته شول ، دمثال په توګه د ( ۱۳۱۷ ) لمريزکال په (۱۷) ګڼه کې « دکابــل دپښــتوټولنې اقتــراح تــه يــوه کتنــه » يوسرليک خپورشوی دی ، هلته دنومــوړې اقتــراح پربنســټ دوی پوښــتنې طرحه شوې :

۱ ـ پښتو به څه ډول لوړه شي ؟

۲- پښتو به په څه ډول خپره شي ؟

دغه دوه اصله هغه موضوع وه چې پرهغې باندې يوزيــات شــميرليکوالو لکــه سيدقاسم رشتيا اونورو په خپل وار وار خپلې نظريې وليکلې، دغــه لــړۍ پــه څوګڼوکې اوږده شوه ، رښتيا په خپل نظرکې په دغه اړه ليکلــي دی اوعلامــه حبيبي هغه بيا انتقاد کړی دی په لاندې ډول :

« ... په څلورمه فقره کي فاضل ليکونکي دپښتودالفبا اصلاح ته توجه کړې ده ، دا فقره زما په عقيده تروخت دمخه ده د ژبو د رسم الخط اصلاحات ياترميم يا تبديل هغه وخت کيږي چې په يووار ژبه په صــحيح ډول مــخ تــه راووزي،اود ژوندون ساه وبومي ، بيا نو په دې خبرو کې څيړنه کيږي. تراوسه لازمــوږ ژبــه عاموخلکو زده کړې نه ده. په رسمياتواوليک کې يې پل نــه دي ايښــی ، آثــار اوکتب يې ورک دي ، اوس که موږ د ريم الخط په سمون بوخت شوو ، يــوادبي عام فوضويت به جوړشي ، چې بيا يې علاج هم ګران دی، په دې باب کې مــوږ ته دنوروملتو تجربه هم پرته ده ، دوی هغه وخــت د رســم الخــط پــه اصــلاح کامياب شول چې يوواريې خپلې ژبې ته وجود ورکی . اوس کــه مــوږ پــه دي ګران کاربوخت شو اولکه چی جنــاب رښــتيا ليکــي مــثلا : د مرکباتوپرځــای

(c) ketabton.com: The Digital Library

مفردات غوره کوو اودحرکاتو پرځای لکه لاتین حروف مخصوص حروف ولیکو داکار علاوه پردي چې اوس زموږ له لاسه نه دی پوره ذاتآبه هم مسلم او مفیـد نه وي ... » (١)

---

(١) عبدالحی حبیبي « دکابل دپښتوټولنې اقتراح ته یوه کتنه » طلوع افغان ١٧٠ ګڼه (١٣١٧) کال ، (١٣) مخ .

ددغې اقتراح په ترڅ کې چې زموږ په خپرونو کې یې دغه لـومړني بیلګـه ده، ډیري اوپه انتقادي لحاظ دپاملرنې وړخبرې دعلامه استاد حبیبي له خوا ویـل شوي او وړاندیزشوې دي. هغه د ښاغلي رښتیا ځواب په ادبي لحـاظ ورکـړی دی. مانادا چې نقدیې کړی ، خو رښتیا بیا پرنقد باندې نقد کـړی ، زه فکرکـوم چې دا په افغاني ادب کې دنقد پرنقد لومړنۍ بیلګه هم وي ، نقـد پرنقـد پـه اوسني علمي کره کتنه کې دآثاروا ادبي بهیرونو دپیژندنې او تشریح په برخه کې په علمي اوانتقادي لحاظ یومهم او دپاملرنې وړانتقادي اصـل دی. ښـاغلی رښتیا هم خپله لیکنه د (ځواب توضیح نه دی ) بیـاځلي خپـل ځـواب دنقـد پرنقد په بڼه وړاندې کړی دی.

په هرډول، په افغاني ادب کې ددې ډول لیکنولړۍ چې دکره کتنې په لومړنیـو بیلګو کې راځي یوه جالبه لړۍ ده، که چیرې موږ وغواړو چې پـردواړو لیکنـو باندې یوه پرتلیزه کتنه وکړو، نو بیاهم دعلمي کره کتنې له عینکوورته وګورو اوداویلای شوچې دغه دواړې لیکنې پرهغو عواملو باندې نـه راڅرخـي ، هغـه چې دپورتنیو دوو پوښتنو په اړه طرح شـوي دي، کـه مـوږ د دواړو لیکوالـو طرحې لږ په غورسره ولولو، دیوه دریم ګړي نظرله مخې سـړی دا ویـلای شـو چې دواړه لوري په دغه اړه حق په جانب دي ، دواړو دیوې مفکورې له دریځـه موضوع ته کتنه کړې ،او په یوه شان یې له مسالې سـره تحلیلـی اوانتقـادي چلند کړی دی. د دوی تحلیل او دلایل دپوښتنې وړ نه دي ، یوازنی څـه چـې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوستونکي او څېړونکـــي تـــه دپوښـــتني وړدي هغـــه دادي چـــې دوی بيـــاهم دوروستي ټکي يا په بله وينا پايلې په توګه څه نه دي په ګوته کړی اوداددغې کره کتنې نيمګړتيا بللای شو.

په هرډول دابايد ووايو چې په طلوع افغان کې خپرې شوې کره کتنې په خپل عصرکې يو دپاملرنې وړټکي موږ ته راپه ګوته کوي اوهغه داچې ددغو انتقادي ليکنوبڼه ځانګړې ده څکه نودا په ګوته کوي چې ددغو کره کتنو پربنسټ موږ کولای شو په راتلونکي کی ديوشميرجالبواو دپاملرنې وړکره کتنو شاهدان وو.

دطلوع افغان دليکنولړۍ مخ په لوړده ، دپښـــتونخوا لـــه هغـــو ســـره پـــه يـــوه توپيرکې ترسترګوکيږي. دلته دطلوع افغان او پښـــتون اخبـــار د اعـــلان نـــامو يولنډ پرتليزجاج اخلو، دپښتون هغه مو مخکې ولوستی ، داهم د طلوع افغـــان څخه دخوشال دکلياتو دچا پ اعلانامه :

« وپښتنوته دعلمي اوادبي سوغات دی ، چې په (۱۱۲۸) مخ او (۸۴) مخه کـــې دخوشال خان سوانح او دده پراشعارو او تبصره چې ټوله (۱۲۱۲) مخه ضـــخيم ادبي اثردی . دا کتاب فقط خوسوه جلده له ډيرو قلمي نسخو څخه چا پ شوی دی، شايقين دی ترتماميدو دمخه په کندهار کې د طلوع افغـــان اداري څخـــه جلد په (۱۰) افغانۍ رانيسی ...» (۱)

---

(۱) طلوع افغان . (۱۹) ګڼه ، ۱۳۱۷ کال (۴) مخ .

په هرډول ديوې نتيجې په توګه :

دکره کتنې بهيرپه بره اولره پښتونخوا څه ناڅه له يوه او بل سره همرنګي لري ، لاهم دخپل پيل په لومړني پړاو کې دی ، په پښتونخوا دغـــه بهيرلـــه نړيـــوال ادبي بهيرسره په ارتباط کې په نوي ډول او نويواصولو سره روان دی ،خـــو پـــه افغانستان کې دننه دغه عصره دغې برخې ته ديوې ځانګړې پوهې او ځانګړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسلک په توګه یوڅه لاره پردغه مهال لاهم په مخ کې وه خو له دې سره سره باید ووایو پرکوم شي چې سړی ډاډمن کیدای شي هغـه دادی چـې عمـومی لیوالتیا ددې لپاره شته چې کره کتنې ته باید په اهمیت سره وکتل شي. کـوم لیکوال چې په دغه برخه کې په دغه دوره کې کـارکوي ، دوی مسـلکی کـره کتونکي نه دي ، دوی هغه لیکوال اوایجادګردي ، چې په دواړو خـواوکي قلـم چلوي ، دکره کتنې ډول یې هم ددغه علم داصولوهراړخیزه ځانګړنـه نـه پـه ګوته کوي ، یوازې دکره کتنې په یوه اړخ چې هغه هم تاریخي اړخ دی هرڅـه راڅرخوي ، د ډولونو خبره یې هم یوازې د تقریظونه بنه لري چې ان هغه هم د بشپړو تقریظونو ځانګړنی په ځینووختوکې نه لري ، خوله دي سره سـره هـم داســتاد حبیبـــي کارونـــه او تقریظونـــه او څرګنـــدونې چــــې دخوشـــال اوعبدالقادرخان پردیوانویې لیکلې ترټولو مهمې اومخکنۍ بیلګې دي چې پــه علمي لحاظ حساب پرې کیدای شی . ځکه نو ویلای شو چې دی لومړنی څوک و چې دلومړۍ پښتو کره کتنې له پیل سره دده نوم په لومړیتوب کــې راځــي. ترده وروسته بینوا په دغه برخه کې رغنــده ګامونــه پورتــه کــړي دده کــوم تقریظونه چې دپیرمحمد کاکړاو کاظم خان شیدا پردیوانو باندې راغلي دي په انتقادي لحاظ ځانګړي دي ، داستاد الفت او پوهاند رښتین کارونه ( دحمیـد پردیوان ) لومړۍ انتقادي هڅې دي چې دکره کتنې په برخه کې یــې ترســره کړې دي. همداسې په پښتونخوا د استادکامل ، همیش خلیـل او پــه لســګونو نورو انتقادي کارونه څه دمعاصرو ادبیاتو په اړه اویاهم د کلاسیکو ادبیـاتو پــه اړه په علمي او ادبی لحاظ دپاملرنې او یادونې وړدي. کابل مجلې پــه خپـل وار په دغه موده ( لومړۍ نیمایي ) دانتقادي لیکنو په خپرولوکې ډیره مهمه دنــده ترسره کړه ، په دغه موده کې له دغې لارې په سلګونو انتقادی لیکنې خپــرې شوې چې دهغو له لارې موږ دیولړانتقادونو او جوړونکو آثارو دخپرولو شاهدان یو ، لکه : دپښتوښه شاعرڅوک دی ؟ (۱۳۱۹) . ملــي ادیــب کــوم یــودی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**(۱۳۱۹ ) . دهندوستان نومیالی شاعرټاګور (۱۳۱۸) . فضلت او انتقاد (۱۳۱۷ ) او په لسګونو نورهغه سرليکونه دي چې دکره کتنې پورتنۍ ځانګړنې سره له دې چې لومړۍ بيلګې ورته ويلای شو زموږ ددغه پيردنوميااليو ليکوالــو لــه خــوا ليکل شوي دي.**

======

« ... اوهغه آثار چې له انتقادڅخه پاتې شي
دخلکو په نظر ارزښت نه لري ... »
روهي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دريیم څپرکی

## پښتومعاصره کره کتنه د ودې پر لور

د رواني میلادي پیړۍ په دویمه نیمایي کې هسې چې پښتو ژبــه اوادب د ودې اوپرمختګ لاره نیسي همداسې کره کتنه هم پــه دغــه تــرڅ کــې وده کــوي اودزیات شمیرلیکوالو په وړاندې دهغې داهمیت خبره هم رامــنځ تــه کیــږي. زیاتره لیکوال اوشاعران دادبي تیروتنو اوغلطیو دمخنوي په موخه کره کتنــې ته په کلکه اړتیا محسوسوي ځکه چې د زده کړې کچه لــوړه ځــې هغوافغــان ځوانانو چې په خارج کې د ادبیاتواو فرهنګي ځانګوپــه برخــه کــې زده کــړې وکړې، هغوی په دغه برخه کې له یوعالم تجربــو ســره هیــواد تــه راســتنړې اودخپلوتجربو په رڼاکې پښتو ادب او په خاصه توګه کره کتنې تــه نــوي ســاه ورکوي چې یوه بیلګه یې هم په پښتو ژبه کې دکره کتنې وده اوپرمختــګ دی چې خبره یې دمسلکي کره کتنې ترپولې پــورې رســیږي. داســې چــې دوی دادبي آثــاراواو ادبــي بهیرونــو دودې لپــاره دکــره کتنــې جهادتــه ملاتــړې اودخپلومترقي خیړنو په ترڅ کې دوی په دقیقه توګه دکره کتنې په برخه کې په علمي لحاظ لاس په کارکیږي. خو په ځنګ کې یې یوشمیرداســې لیکــوال اوڅیړونکي هم شته چې هغوی لاهم له عصري پرمختګو څخه ناخبره او یوازې پرهم هغه دودیز دول لیکنې اوڅیړنې کوي ، چې ګټورتیــا یــې لــه مــوادو را

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولولوپرته په نورو برخوکې ډېره محسوسه نه ده ، خو له دې سره سره داهــم باید ووایو چې ددغې ډلې دا ډول کارونه (دموادو راټولول ) داسې هم نــه دي چې سرې يې په هيڅ وشميري برعکس زه په دې باوريم چې کارونــه يــې پــه خپله برخه اوان دموادو د راټولو په برخه کې د ستاينې قدرداني وړدی. دهنري موادو اوآثارو يا په بله وينا دمعتبرونسخو کشف او پيژندنه چې دغــو ليکوالــو هغوی چې زموږ يوشمير ورته د دوديزو څيړنو پلويان اوپيروان وايي دعصــرد ادب په تاريخ کې دپاملرنې وړڅېړکی او برخه جوړوي. دوی سره لــه دې چــې لوی کاريې کړی دی ، دوی په کره کتنه کې له
خورا ساده ډولونواو تګلاروڅخه کار اخيســتی دی (*) دهغــوی دليکنولمنــه دکره کتنې دعلم له

---

(*) په دغه برخه کې هدف ټول هغه کسان دي چې پرآثارو باندې تقريظونه دکره کتنې په نامه ليکي دي ، په داســې حال کې چې دوی په هغوکې دکره کتنې پرځای په نورو مسايلولکه ادبي تيوري او ادب تــاريخ بانــدې ږغيــدلي دي اودتقريظ ځانګړني يې په پام کې نه دي نيولې .

مخې ډېره وړه او تنګه ده. ځکه دوی پرهغو ميتودونو او اصولو لکه چــې مــوږ ورباندې پوهيږو نه پوهيدل اوياداچې کله کلــه يــې ان پــه لــوی لاس نــه دي غوښتي چې کره کتنه وکړي ، دوی برعکس له کره کتنــې څخــه دقــدما وو د آثارو دکره کولو په برخه کې کرکه کړې ده اوپه دغه کار سره يې دخپل عصرله ادبي بهيرڅخه يو مصــنوعي ادبــي بهيرجــوړ کړی دی. پــه دغــه برخــه کــې يوشميرليکوال چې ددغو نويو او پخوانيو ترمنځ يې دوصل کړی جــوړه کــړې هم شته چې ددوی نظرياتو له موږ سره د معاصرې اوعلمي کره کتنې په برخــه کې ډېره مرسته کړې ده ، په دغه ډله کې يوهم علامه حبيبي دي چې نظريــې دادی :

(c) ketabton.com: The Digital Library

« مادمخه وويل چې په پښتوشعرکې د فکري تحول نوې دوره لــه (۱۳۱۰ ش ) کاله څخه شروع شوې ده. اوداد یوه قرن څلورمــه برخــه تــر۱۳۳۵ پــورې زه دمنځګړو دوره ګڼم څکه چې دغه دوره دپښتودکلاسیک شعراونوې غورځنګ ترمنځ دیوې منځنې دورې حیثیت لري ... په دې دوره کــې دپښتوشــعرفورم اوقالب هغه دخوشال خان او رحمان او ددوی دملګرو په څیرو خو فکريې نوی و دشعرمحتوی اوښتې وه ... » (۱)

له همدغه شعري بهیرسره سم زموږ کره کتنه هم په تیره په افغانســتان کــې ځنګ په ځنګ روانه ده. زیاتره هغه شاعران او لیکوال چې پردغــه مهــال پــه دغه منځګړي دور پورې اړه لري د څېړنواو هستونو په کار بانــدې لاس پــورې کوي. چې دوی ترډیره حده په دغه برخه کې له یوشــمیربریاوو ســره مــل وو. دوی پښتو ته نثر په نوې بڼه ور ډالۍ کړ، داسې چې تردوی دمخه پښتو نثر په افغانستان کې دلوستلو نه و. څکه نودابايد په ډاګه کړو چې په دغه دوره کــې دمنځګړو لیکوالو آثار او ایجادیات په ځانګړې توګه دیادونې وړدي.

اوس که چیرې ، په ځانګړې توګه په همدغه هنري چاپیریال کې د کره کتنــې حالت څېړو ، دلته دپخوا په انډول ډیرکوچنی تحــرک زمــوږ ترســترګوکیږي. داڅکه چې دغه پیل دي اوهرڅه په پیل کې له یولړستونزو سره مله وي ،خــو له دی سره سره هم دکره کتنې په برخه کې هم دلته په افغانستان کې اوهم په پښتونخوا کې کوټلي کار پیل شوی، مانا داچې کره کتنه په یوډول نه یو ډول د ادب اوهنر زړه ته لاره ور مومي او یوشمیرداسې بیلګی یــې زمــوږ ترســترګو کیږي چې دهغو پرستنو باندې موږ کولای شو د راتلونکې په لور کوټلي ګامونه پورته کړو او کره کتنه په یوه نوې او جوړونکي بڼې سره ووینو. چې دلته ورتــه یوه لنډه کتنه کوو:

---

(۱) عبد الحی حبیبي ، په اوسني پښتو شعرکې د ژوند څپې ، ۱۳۶۰ کال (۲۷) مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## الف : په پښتونخوا کې:

په پښتونخوا کې دکره کتنې دغه سترجهاد ترډیره حده، یوشمیرخپرونو لکــه (خپلواک ) (رهبر) ( دوران ) اوداسې نورو اخبارو په غاړه واخیست ، هغه آثــار چې په دغوخپرونو کې دکره کتنې په بڼه خپاره شوي دي ، هغه ترډیره حــده هغه لارښونې دي، چې هغو له شکه پرته دپښتو ادبیاتو دودې اوپرمختګ پــه ترڅ کې خپله لاره پرانیسته، دوی یوشمیرداسې څه دخپلوخپرونو له لارې په دغه برخه کې خپاره کړل چې په هغو کې په رښتیا هم په فــاکتونو او حقــایقو باندې خبرې شوې دي چې دهنري ادب او هنر دودې اوپرمختګ په برخه کــې په نړیواله کچه منل شوي علمي بهیردی ، یوله هغو لیکوالو څیړونکو څخه چې په دغه برخه کې په لومړي قدم لاس ورباندې ایښــودای شــو ، هغــه نومیــالی لیکوال ایازداودزی دی چې لیکنې او څیړنې په دغه برخه کې دنوی غلمی کره کتنې په برخــه کــې لارښــونکې اود پــاملرنې وړدي. ایــازداودزی پــه دغــو شپوورځوکې د کره کتنې په برخه کې ډیرځلیدلی دی ، ده چې څه پــه دغــه وخت کې لیکلي ، پرهغو باندې هغه خالیګاوې ډکې شــوې، هغــه چــې ددغــه وخت هنري ادبیاتو دهغو لپاره اړتیادرلوده، دبیلګې په توګه هغه په خپلــواک خپرونه کې د ( پښتواونثر) تر سرلیک لاندې یواوږده مقاله لیکلې ده ، دایــوه په رښتینې مانا انتقادي مقالــه ده ، ددغــې مقــالې پــه ســر کې د اخبارمــدیر یولنډیزلیکلي چې په هغه کې لولو:

« ایازداودزی هرڅوک پیژني ، ځکه چې ایاز یوښه فنکاردی، یوښه شــاعردی ، او ډیراوچت نقاد دی ، ایاز چې پــه پښتوشــاعری کــې دفــن اوښــکلا کــومې مرغلرې پیلې دي، نوهغودپښتوشاعری سینګاراو ښایست یوپه دوه کړی دی، ولې بل خوایې چې دنثرپه میدان کې د ژوند په هراړخ کې قدم راپورتــه کــړی نودقلم دزور یې ډیره ستاینه شوې ده... »

(c) ketabton.com: The Digital Library

داياز داودزی دغه کره کونکې مقاله ډیره اوږده ده ځکه نو ددې اړتيا شته چې دهغه دکره کتنې وړموضوعات بايد دلته راپه ګوته کړل شي پــه لانــدې ډول :
دمقالې په پيل کې يوه مهمه موضوع چې ( پښتو پښــتو غــواړي ) رامــنځ تــه شوې ده ، په دغه اړه دده ځانګړې رايه چې يوانتقادي ليد دی، داســې ليکــل شوي ده :
« پښتو ، پښتو ځکه غواړي چې پښتنو ورسره چيرې هم پښتو نه ده کړې، نــه يې چرې دځان سره دليکنې مانۍ ته بوتلې ده ، او نه يې دعلم اوزده کړې پــه مسند دځان سره کينولې ده ، چې پاچايی به يې کوله، خيته به يې مړه وه نــو پارسي به يې ويله ، شايد دايې ګڼله چې ګني هم دادوړو ترِو ، بربنډو او لغــړو ژبه ده ، اوړې خيته بــه پښــتو وايــی او مــړه خيتــه بــه پارســي... دلوســتلو پښتنوهمدغه کاردی چې دپښتونه اول په فارسي ، عربي اونن اردو اوانګريزي زيات مين دي، دا مينتوب څه بدنه دی ، بايد بنده ډيرې ژبــې زده کــړي خــو پکارداده چې کومې ژبي زده کړي نو چې دهغې علمي او ادبــي ننګــه دتــوان مطابق په خپله ژبه کې واوړې او دخپلې زبې لمن د رنګ رنګ ملغلرو نه ډکــه کړي ... »
په دغه مقاله کې دويمه موضوع « په پښتوکې نثرولې نشــته ؟ » ايــاز داود زي په دغه برخه کې پردغه ټکي باندې لاس کلک نيولی چې ولي موږ شعرويلو ته هڅه کوو، ولې په پښتو کې نثرنه ليکل کيږي . هغه په دغه مقاله کې دمســالې بيلابيل اړخونو څيړلې دي اوموخه يې داده چې بايد پښتو نثرپه هــرډول چــې کيږي بايد وده وکړي، عام شي اودهنري هڅو په ترخ کې بايــد وغــوړيږي ، ده په دغه اړه دخپل زړه بړاس ډيرښــه ايســتلی ځکــه نــو ديوشــميرليکوالو او شاعرانوپه اړه ليکي :
« په خيبرکې خدای پاک حمزه پيداکړو چې پښتوادب به ورباندې تل فخرکوي ، هغه شاعردی ، ښه شاعردی ، ځکه چې دهغه ټول ژوند هډو يوشعردی . هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل ژوند په خپل فن قربــان کــړی دی، خــو ددغــه ســترې هســتۍ اثرپــه خیبرداوشو چې دخیبرهره ګټه پورته کوې نو شاعرترینه دلاندې نه راوځي او نثر... ؟ دکابل دپښتو ټولنې دایرکټر ښاغلی ګل پاچا الفت (غوره اشــعار) نــوم کتاب چې په لاس راغلو نوهم مې اوخندل اوهم مې وژړل ، خندامې ځکه کوله چې داسې ښکلی چاپ شوی کتاب اوپه پښتوکې . ژړا مې په دې خبره راغلــه چې دکابل دټولنې دایرکترچې هم شاعرشو ، نو دچا نه به څوک څه ګیله کوي منم چې هغه به نثرلیکي ، ښه به يې لیکي ، علمی څیزونه يې هم لیکلــی دی ، خو دهغه دشعراثر به دهغه په چاپیرچل کې هم هغه وي کوم چې دخوشال دی یاد حمزه دی ، هسې خو رښتین هم شاعردی ، مجروح ، بینــوا، قیــام الــدین خادم اوداسې نور ټول شاعران دي ، خو چې دټولنې مشرشــاعردی نــو نوربــه ارمرو شاعري کوي،دلته هم زموږ ټول مشران شاعران دی ، ګران کامل صــیب که مورخ اومحقق دی نوشاعرهم دی ، عن چې هغه کاکاجی هم شــاعردی ... »
(۱)

که چیرې دایاز داودزي دغې کره کتنې ته لږ ځیرشو او دیوې ادبي مقــالې پــه توګه يې تحلیل کړو ، ترډیره حده په کې دیوې جامع ، روزنیــزې کــره کتنــې ځانګړنې په هراړخیزه توګه ومومو، داځکه چې هغه په دغه ځــانګړې زمــاني شیبه کې زموږ دلیکوالو پاملرنه په ادبیاتو کې هغه مهم اصل ته ور اړولې چــې هغه نه یوازې دپښتو ژبې لپاره حیاتي ده بلکې له دغې لارې مــوږ خپلــه لاره دنړیوال ادبي بهیرپه لور ورباسو. ده نثردیوې اړتیا په توګه، دیوې طرحې پــه توګه مطرح کړی دی ، اودایې په ګوته کړې چې ولې باید ټول ددې لپاره هڅــه وکړو چې باید شاعران شو ، دایاز داودزي د نثرلویوالی اواهمیت په دې کې دی چې ده په خپله دغه مقاله کې دهنري نثرخبره او اړتیا رامنځ تــه کــړې چــې دغه نوي ټکي يې کره کتنې ته لوی اهمیت ورپه برخه کړی دی. کیــدای شــي چې ددغې کره کتنې لوی اغیزبه داهم شوی وي چې موږ په راورسته کې لــوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

نثرليکونکي ومونډل لکه بینوا او الفت او لسګونو نور رامنځ تـه کـړل ، ځکـه نوداخبره بې ځایه نه ده چې اوس یوشمیرلیکوال اوکره کتونکي دالفت نثرتـه هم دهنریت له امله شعروایی . لنـډه داچـې د ایـازداود زي کـره کتنـه پـه هراړخیزه توګه یوه روزنیزه کره کتنه ده چې موږ د روښانه لرلیـدونو پـه لـور هڅوي.

همدارنګه مقالې پـه (رهبر) خپرونه کې هم ترسترګو کیږي چـې یادونـه یـې اړینه بریښي ، په دغه خپرونه کې چې موږ کومې انتقادي لیکنې لولـو، دهغـو یوشمیرپه زړه پورې دي اویوشمیرنه ، دلته موږ یوازې پرهغـو لیکنـو بانـدې رڼااچووچې هغه هم دپښتونخوا په یوشمیرنومیالیو پورې اړه لـري، د رهبرپـه ډیرو کره کتنوکې یوه هم هغه کره کتنه دیادولو وړده ،چې دکامل صـاحب پـر (رحمان بابا) نومي اثرباندې د تقویم الحق له خوا لیکل شوې ده ، په دغه مقاله کې دانتقاد ټکی دادی چې کامل صاحب د رحمـان بابـا د ژونـد نیټـه غلطـه ښودلې ده ، دمیا تقویم الحق په ځواب کې کامل صاحب لیکي چې :

« ګرانه میا صاحبه : وعلیکم السلام و رحمة الله وبرکاه ، ړومبی به ددې خبـرې معافی وغواړم چې کتاب مې په خپله خپل لیک سره درونه لیږلو پـه هرحـال خلیق صاحب سره دخدای ښه وکړي چې ځما پرځای یې دافرض ادا کړو. هغـه بله ورځ مې په (رهبر) کې په (رحمان بابا ) ستا سو قیمتي اود قـدروړخیالات چې ځما په نامه مو دخط په شکل لیکل وو ولوستل، په کتـاب کـې د دومـره ژورې دلچسپۍ اخیستلو او ما له مو په خپلو خیالاتو دوباره غوراوفکر دموقعی راکولو دپاره ډیره ډیره مننه کوم. په خپل فاضلانه تنقیـد کـې تاسـو ځینـې خبرې خوداسې لیکلې دي ، دهغودځواب دپاره خـو شـاید چـې ځمـا دغـه عریضه کافي ده. خوځینې داسې بحثونه مو هم ځیږلي دي چې دهغـو دحـل کولو دپاره به ځما تر پوهې دامعروضات هیڅ کله کـافي نـه وي، پـه هرحـال

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترخپله استعداده د (رهبر) ځای سره سم په دخپل موقف د وضاحت کوښښ وکړم.
ستاسو وړومبی اعتراض دادی چې ما درحمان بابا د زیږیدو کال دلوستونکو عرض ته د (۱۰۶۰او ۱۰۷۸ هجري ) منځ کې پریښی دی. حال دادی چې دهغه په دیوان کې یوشعردی چې په دي باب زموږ ښه رهنمایی کوي ، په دی باب ما دومره اوږد بحث کړی دی چې دهغه خلاصه هم دلته راوړل هم راته ګران ښکاري ... » (۱)
دغه کره کتنه یو اوږد بحث او انتقاد دی ، خو دکیفیت له مخې دومره زیاته خوځونکې او ژوندی یا په بله مانه ډیره اغیزناکه نه ده ، داسمه ده چې کامل یو عالم لیکوال دی، خو که یې کره کتنه د ایازداود زي له هغې سره پرتله کوو ، دایازداودزي کره کتنه پرې اوچته ده اوپه

---

(۱) دوست محمد کامل مومند، رحمان بابا ، رهبر ۱۷ګنه ، ۱۹۵۸ کال (۷) ګنه.

علمي لحاظ یې ارزښت خورا لوړدی. خوله دې سره سره هم کامل صاحب ددغه عصرپه کره کتونکو کې ځانګړی ځای او مقام لري په تیره د متنپوهنې په برخه کې، دده ځای ځانګړی دی ، ده د زیاتوپښتو آثارو سمونه کړې اود زیاتو آثارو سریزې یې دخپل وخت دکره کتنې په برخه کې دیادونې وړدي.
دپښتونخوا ددغو شپوورځو په کره کتنوکې زیاتره دکره کتنې یوشمیرژانرونه لکه انتقادي مقالې ، تقریظونه ،کتا ب پیژندنهدي، چې دیولړیې یوشمیربیلګې لکه پورتنې دوې موږ په دقیقه توګه ولوستې چې د کره کتنې علمې بیلګې ورته ویلای شو. پورتنی دوې مقالې په دغومجلوکې ډیرې جالبې اود پاملرنې وړ مقالې وې چې دعلمي کره کتنې په اړه جامع بیلګې زموږ په واک کې راکولای شي. همدغه بهیرپه یوشمیرنورو مجلواو اخبارو لکه (پښتو) (

(c) ketabton.com: The Digital Library

جمهوریت) (اولس ) (سیلاب ) ( لار) او داسې نورو کې هم لیـــدای او لوســـتای شو،خوداټکی باید ووایو چې تردې ټولو خپرونو د ( پښتو) مجلې لــړۍ دکــره کتنې په بهیرکې یوځه پرله پسې والی ښیی چې کیدای شي دغه لــړۍ دکــره کتنې په برخه کې نوره هم په دوامداره توګه وځیړل شي ځکه چـــې پــه دغــه مجله کې دنوې کره کتنې له اصولو سره سمي کره کتنې دیوزیـات شــمیرهغو پښتنولیکوالو له خوا چې دوی ددغې زمانې اړتیا پرضرورت بانــدې پوهیــدل لیکل شوې او خپرې شوې دي. په دغو کره کتنوکې یوشمیرداسې کره کتنـــې هم شته چې که په دقیقه توګه وځیړل شي اوولیدل شي ، کیــدای شـــي چـــې دهغوله مخې دپښتو ژبې په یولړمهموآثارو او تذکروباندې چـــې ددغـــې ژبـــې لرغونتوب دویمې هجري پیړۍ ته رسوي ډیرویارانو ته شکونه پیداشـــي ، لــه بلې خوا یولړداسې کره کتنې هم شته چې په هـــیڅ ډول راتلـــونکې او د نویــو پدیدو دودې لپاره دښه نیته موخه له ځان سره نه لري ،لکه دغه انتقادي لیک چې د آزاد نظم دغندنې په خاطر پــه ( دوران ) کـــې خپورشـــوی دی : « ... زه دهرنوي ځیزخلاف نه یم، خو موږ ته داهم کتل په کاردي چې موږ دکوم ځیـــز چې ابتدا کوو دهغه انجام به څه وي ، آزاد نظم د اردو او انګریزې ادب کې اوس ځان ته بیل مقام جوړکړی دی ، خو پښتو کې د آزاد نظم رواج لانشـــته او زمـــا یقین دی چې که آزاد نظم پښتوکې راغی نودابه ډیریاران بې لارې کړي . آزاد نظم دپاره تجربه ، دعروضوعلم ، د اوزانوپیژنـــدګلوۍ ســـره ســـره دموســـیقي قدرتي حس پکاردی اودا ځیزونه د ډیرو کمو خلکو په نصـــیب دی . پښـــتوکې زاړه دومره صنعتونه شته دي ، اوهغوصنعتونوکې نورې دومره زیـــاتې تجربـــې شوې دي اوکیدای شي ، چې د آزاد نظم ضرورت هـــم مـــوږ تـــه نشـــته او کـــه هردپښتو شاعرآزاد نظم لیکل شروع کړي ( ځکه چې نن آساني هرچا ته مزه ورکوي ) نودا به دپښتودتنزل په لوري کې اولي قدم وي اردو کې ما پـــه خپلـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

آزاد نظمونه ليکلی دي ، خو پښتو سره زما قدرتي مينه ماته اجازه نــه راکــوي چې زه پښتوآزاد نظم وليکم ... » (۱)
کيدای شي چې له پورتني ليکوال ســره دده داخبــره ومنــو؟ نــه ، ځکــه زه فکرکوم چې ترده بې ميني او بدبين ليکوال په دغه پيرکې ډيرلږ ليدل کيږي ، دی په دې نه پوهيږي چې آزاد نظم يا آزاد شعر دنوي عصــر ډالــی ده ، داکــه ځوک غواړي اوکه نه ، دشعردغه ډول به خپل تکلوری دپرمختياپه لور پــرمخ بيايي اودخپل عصرتاپه به خامخا پرخپله تنده باندې وهي، هيڅوک به

---

(۱) دوران دويم ټوک ، (۳۲-۳۱ ) ګڼه ، (۱۹۵۸) کال (۵۰) مخ .

داورسره ونه مني چې ده غوندې له دغې اړينــې پديــدې ســره دې دښــمني وښيی اودهغې په مخ کې دې ډب شي. داکوم منطق دی چې اردو او انګريــزي دې آزاد نظم ځانګړی مقام ولري او په پښتوکې دې بيا ډيرياران بې لارې کړي ؟ که شعرپه رښتيا هم شعروي ، نو دا به بيشکه په نوي فورم کې ښکلي او پــه زړه پوري وي ، آيا دا سمه ده چې پښتو ژبه او ددغې ژبې شعري بهيــردې لــه دغه پرمختګه وروسته پاتې شي او يابه دا انصاف وي چې پښتو بايد پــه لــوی لاس دپرمختګ له دغه کاروان څخه پريوه خوا وساتو، آيادا انصــاف دی چــې زموږ پښتون شاعرپه نورو ژبوکې آزاد نظم وايی او په خپله ژبه کې بيا له هغــه څخه ډډه کوي ؟
دغې ستونزې ته ځواب له هره پلوه منفي دی ځکه نودا ويلای شو چې ددغې کره کتنې علمي بنسټ اواســتدلالي منطــق لــه يــوې خــوا لوســتونکي تــه ډيرکمزوری ښکاري اوله بلې خوا يې خبره له تشو احساساتوپرته بل څه نه ده .

په دغه بهيرکې داسې کره کتنې هم شته چې ديوې ادبي پيښې ، يوه ادبي اثر اويو شاعر خو لاڅه کوې چې ګردسره يی ديوه ادبي بهيراو يوې رسالتمې ادبی

(c) ketabton.com: The Digital Library

پديدې اوبهير په مخ کې هم دچا خبر ه دشګوبندونه درولي دي ، سره لــه دې چې دغه بندونه به دومره مهم اوعلمي بنسټ ونه لري خوبياهم ديو شمير پــه وړاندې تريوه وخته کولای شي يوذهنيت رامنځ ته او مدلل کړي .
دپښتونخوا په ادبی بهيرکې دکتاب داعلان ژانر هم لــه پخوانيــو ډولونوســره ډيرلږ توپيرلري ،دبيلګې په توګه د ۱۹۵۸کال د (رهبــر) پــه (۱۷) ګڼــه کــې داجمل خټک دغيرته چيغي په اړه ليکل شوي : "دغيــرت چغــه دپښــتونخوا دمشهور اديب اوشاعر اجمل خټک دپښتني غيرت نه د ډکو او دزمانې ناترسو څپيړو دلاسه دسولو نظمونو مجموعه ده اوريدو سره مړغيرت را ژوندی کــوي او اوده غيرته را بيداروي په چا پ شوو مجموعو کې په هرلحاظ مثالي مجموعه ده " (۱)
که چيرې پورتني اعلان دتيرو پنځوسو پخوانيو کلونو له هغو سره پرتله کړو ، له هغو سره دجولې او منځپانګې له مخې ډيرلږ توپيرلري ، په دغه اړه کــولای شو چې له دغه اعلان سره د ( شهيده سکينه ) اعــلان دخپلــې دغــې ادعــا دثبوت په خاطرسره پرتله کړو. که څه توپيرهم په کې وي نو هغه به يوازې يــو کوچنی لفظي توپيروي او بس.
دتقريظ په برخه کې هم د پښتونخوا دادبياتو په اړه داخبره کولای شو چې لــه يو لږمحدودو تقريظونو پرته چې دکره کتنې له مخې په وړو اصولو سمبال دي ، په نورو کې ديوه انتقادي تقريظ وړتيا وې خورا لږ ليدل کيــږي. پــه دې چــې زياتره تقريظونه يوازې نګه ستاينې دي او پرهمدغه موخه باندې ليکل شــوې دي ، ځکه نو په هغوی کې داثرله محتوا سره اړوند څه په کې نشته په دی مانا چې په اثرکې خبره پريو څه ده اوپرتقريظ کې ليکوال داثر له موضــوع څخــه دباندې په نورو موضوعاتودي . خو په عين وخت کې يوشمير تقريظونه داســې هم شته چې هغوته په کره کتنې برابر تقريظ ويلای شو ، اوهغه ټولې ځانګړنې له ځان سره لري ، هغه چې ديوه انتقادی تقريظ ځانګړنه بايد وي . ددې لپــاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې  ديوه ښه تقريظ ځانګړني مو دلته په ګوته کړې وي ، په دغه برخه کــې  د (تربور ) د ډرامې تقريظ را اخلو ، دهغه له مخې چې مورِ کــولای شــو  ددغــې درامې په ټولو ځانګړنو باندې په ښه توګه پوه شو دغه تقــرظ دحــافظ محمــد ادريس له خوا  داسې ليکل شوی دی :

" ... په تربورکې دمال ، دولت دبربادی ، دخــراب مجلــس ، دجــواری دشــرابو دتعليم اودقتل وغيره مسئلوبحث شوی دی ، خودا بحثونه قابــل مصــنف پــه داسې انداز کې کړې دي چې نه يې دځانه واعظ جوړکړی دی اونه تنها ديندار، خپل ځان يې شاته ساتلی دی اوځنګه چې واقعات په خپله  ښــويدل دغســې ورسره  دقلم سياهی هم په کاغذ خوريدله ... دتربور ترتيب دلوستو سره تعلق لري ماورته د رقابــت پــه ســترګه کتلــې دي ، خــوداول نــه ترآخــره پــورې دهرکردارخصوصيتونه دهغې په بره ختل ، بياد هغې راکوزيدل ټول پــه ځــای شوي دي  هرکردار هغه قسم کارونه کوي او په هغه لهجــه کــې خبــرې کــوي کومه چې دهغه دپاره مقرره ده " (٢)

دايوه ښه بيلګه ده ، چې دپښتونخوا په معاصر ادب کــې داډول بيلګــې خــورا زياتی

---

(١)  رهبر  (١٧) ګڼه  (١٩٥٨) کال د کتاب  وروستی پښتی

(٢)  حافظ محمد ادريس ، تربور  (١٩٦١) کال ، سريزه

ترسترګوکيږي ، ځکه چې ټولو ليکوالو يوازې دې خوا ته پاملرنه نــه ده کــړې چې بايد يوازې دکتاب دساده پيژندګلوی په موخه څه وليکي ، دوی بــرعکس په دغه برخه کې هڅه کړې چې داثرپرمنځپانګه باندې دهغه لــه پيژنــدګلوی سره يوځای يوځه دلوستونکي پــه واک کــې ورکــړي اوداثرهغــه ځــانګړې را برسيره کړي ، هغه چې داثراړانه جوړوي. په دغه برخه کې داهم دياددولو وړده چې دلته هم زياترو ليکوالو دکره کتنې  ځای په خپلو تقريظونــو کــې دادبــې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تیوری مسایلو ته ور پرېښې دی او دلنډکي تقريظ پرځای یی تیوریکي بحثونه کښلي دي.

دپښتونخوا دکره کتنو په لړکي یوبل ځلاند مشال هــم زمــوږ ترســترګوکیږي چي هغه قلندر مومنددی ، ددغــه نــامتو لیکــوال زیــاتره کرکتنــې زموږپــه پښتوکره کتنه کي هغه څه دي چي د پښتوادب په وده او وړتیا پیژندنــه کــي زموږ لاربښونه کولای شي . کله چي موږ دده زیاتره لیکنې لولو او يايي د تحليل منګولو ته سپارو ، قلندرمومند يولړ داسي ليکني هم لري چي په تولیزه توګــه کولای شي دهغو تیروتنو سمونه په کې وشي چې هغه ديو شــمير ليکوالــو او پوهانو له خوا دهغوی داحساس په لمنه کي پرپښتو ادب باندي وراړول شــوي دي. دقلندر مومند د ډيرو نامتو کره کتنو په ترڅ کي چي لوړ ادبي ارزښت لري ، يوه هم هغه کره کتنه ده چي د ۱۹۷۹کال په (پښتو) مجله کي خپره شوي ده ، ددغې کره کتنې سرليک داسي دی : (پټــه خزانــه فــی الميــزان ، د يــونس دديوان شهادت )

په دغه کره کتنه یا انتقادي ليکنه کې ديونس پرديوان اوهغه بحث باندي پوره رڼا اچول شوي چي ديونس په باب په پټــه خرانــه کــې راغلــی دی ، ډيرښــه استدلال په کې شوی اود يوه معاصرنقاد په توګه يي موضوع په مستنده توګــه دعصرله تېولو ځانګړتیاوو سره اړونده خيړلي اوتحليل کړې ده . مخکې تــردې چې ددغې کره کتنې يوه برخه دلته راواخلم بايــد ووايــم چــې دکــره کتنــې موضوع يي ډيره جالبه ، واقعآ ادبی کره کتنه يا کره کونه بايد دکره اوناکره آثــا رو کره توب ته ځان وقف کړي ، دهغو مانا، مفهوم او ارزښت بايد لومړی خپلــه کره کتونکی درک کړي اوله هغه وروسته يي بايد نورو ته وليږدوي. لکــه چــې اشاره وشوه دغه کره کتنه ډيره جالبه ده ، خوداچې له دغه ډول ليکنې څخــه پښتنو ضد کسانو زياته ګټه پورته کړې ، زما په نظر داموضــوع بايــد اوس پــه دغه خاصه زماني شيبه کي بياهم ديوې پوښتنې په حال کي پريږدو ځکه کــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسناد او رښتيني واقعيتونه څوکاله نورهم زموږ لاس ته رانه شي ، فکرکوم چي بيا به موږ خپله په ډاګ پاتې شو ، زما ددغه اثر لارښود استاد پــه خپــل يــوه يادښت کې زما د لارښوونې په موخه يوه ډيره په زړه پوره خبــر ه ليکلــې ده داسي چې :

"که زموږ نيکونوموږ ته غني ادبي ميراث نه دی پريښي ، دا ستا يا زما قصور نه دی ، په زوره بايد امتياز ورنه کړو "

که داډول پرعلمي پرنسيپ ولاړې خبرې په ټوليزه توګه دپښتو کره کتني پــه اړه په پام کې ونيسو نو رښتيا ده چې فرهنګ او فرهنګی پديدې په احساساتو باندې وده نه شي کولای ، ممکن تريوه وخته اويوه حده په دغه ترڅ کې يو څه پرمختګ ترسترګوشي، خو علم ، هغه هم کره کتنه ډير بــی رحمــه علــم دی، ډيرزر دخپلو علمي څيړنوپه ترڅ کې په علمي منطق سره دهــرې ادبــی او نــا ادبی ليکنې کره توب اوســمون زمــوږ پــه واک کــې راکــولای شــي ، علمــي پرمختګونه د عصرله شونيتاوو سره په تماس ډيرپه بيړه روان دي اوقضــاوتونه لکه آزادې فرښتني زموږ پرسر حاضراو ناظر دي . قلندر هم ځان پــه واقعيــت سمبال بولي اوليکي :

" ... ديونس او رحمان بابا ترمنځه داستادۍ او شــاګردۍ رشــته هــم درحمــت هوتک دافسانې يوه حصه ده ،چې ديونس ديوان پرې هيڅ شهادت نه ورکوي، صرف په دي بنيادچې ديونس په ديوان کې يونظم داسې دی چې د رحمان بابا مرګ ته په کې اشاره شوې ده دا دعوی کول چي يونس دهغه شاګردوو صحيح نه ښکاري په خپله دغه نظم کې چې يونس شعرونه لــري ، پنځــه شــعرونه د رحمان بابا په حقله دي او شپږشعروکې د (ښويارانو دجدايی ) فرياد شوی دی ، په دې لحاظ دانظم د رحمان بابا او يونس ترمنځه دشاګردۍ په ځای د دواړو ترمنځه د دوستۍ په ثبوت کې پيش کيدی شي اوداهم هله چې موږدچا مرثيه ليکل صرف دهغه دمعاصر ذمه واري وکړو اوکه داسي وشي نو بيا محتوا کاشی

(c) ketabton.com: The Digital Library

او میرانیس چې دامام حسین علیه السلام مرثیې لیکلي دي هم دحضرت امام معاصروګڼرلي شی ... " (۱)

په دغه اثرباندې دهمدغې مجلې په ترځ کې نورلیکنې هم شوې دي چې دکره کتنې په برخه کې دیادولو وړ دي ، . دقلندر مومند په مقالو برسیره یولړخپلواک ایجادي او ترجمه شوي آثارهم دپاملرنې وړدي چې یویې هغه چې تراوسه دوه ځله چا پ شوی هم دي د (تنقید ) په نامه یادیږي چې دکره کتنې په برخه کې له موږ سره په علمی او تیوریکی لحاظ ډیره مرسته کولای شي.

دغه اثر (تنقید،تلخیص او تنقیح) لکه څنګه چې له نامه یې ښکاري اوخپله قلندرخپله هم وایي چې دهدسن ( متوفی ۱۹۲۰ ) دمشهوراومعرو ف کتاب دیوه باب لنډیزاوخلاصه ده . ( introduction to the study of literature)

که چیرې دنوموړي اثرمحتویات په عمومی لحاظ دکره کتنې اوپه ځانګړې توګه په پښتوژبه کې ددغه علم دمینه والو لپاره په پام کې نیسو ، زه فکرکوم چې په دغه ځانګړي وخت کې دځانګړې پاملرنې وړو. دا لومړني خارجی اثر دی چې په دغه اړه په دغه وخت کي دیوه ځانګړي اثر په توګه چاپیږي ، قلندر لکه چې دکره کتنې په برخه کې ما دده علمي دریځ اومقام ته اشاره وکړه ، په پښتونخوا کې بی له شکه یو سترګور،عالم اوپوه کره کتونکی دی ، ماته ددغه اثر په خپرولو سره دیوه ځانګړې لید خاوند ښکاري ، ده په دغه اثرکې له یوې خوا دکره کتنې په اړه هغه مهم نظریات را اخیستي چې ددغې پوهې دتګلوري په ټاکلوکې مهم دي ، خومهم تردي لاداچې ده له یوې خوا داکار دلیکوال دنظریاتو ترڅنګ ترسره کړی خو له بلي خوایی ددغو نظریاتو او اصولو په اړه خپل نظریات ور زیات کړي دي ، دده خپل نظریات په دغه اړه دکره کتنې په اړه دده د نظر څرګندونه هم زموږ په واک کې راکوي . دویلیم هدسن داثردتلخیص شویو مطالبو په پایله کې قلندر هم ځای ځای یوځه ور

(c) ketabton.com: The Digital Library

زيات کړي دي اويايی دليکوال په نظرياتو باندي خپله تبصره هم کــړې ده . زه باورلرم چې دا په پښتو ژبه کې لومړني اثردي چې دشلمې پيړی په اوږدو کــې دکره کتنی په اړه تيوريکی نظريات او اصول موږ ته ددغه تلخيص په ترڅ کــې راپيژني اوقلندر په دغه برخه کې لومړنی ليکوال

(۱) قلندر مومند ( ديونس د ديوان شهادت ) پښتو مجله (۱۱) ګڼه ، (۱۹۷۹) کال پيښبور (۲۴ ) مخ .

دی چې داډول نظريات په پښتو ژبه زموږ په واک کې راکــوي. دغــه کــوچني اثرټول په پنځوبرخو کې خلاصه شوې ، چې په لومړی برخه کې يی تنقيد څه ته وايي ؟ دتنقيد عام تعريف ، په تنقيد عام اعتراضونه ، ولټر او مورلي ،تنقيد يو تخليقی عمل دی ، دتنقيد غلط استعمال ،دتنقيد صــحيح اســتعمال ، پــه دويمه برخه کې يی : استقرايي تنقيد ، نقاد دمشرح اومفسرپه توګه ، دحکمی اواستقرايي تنقيد توپير، تاريخی تنقيد، دحکمی تنقيد مثالونه ، جديــدنقاد ، په دريمه برخه کې : تنقيدی ادب دادب يوقسم، دنقاد لپاره ضروری څيزونه ، بصيرت ، غيرجانبداري ، په څلورمه برخه کې : دنقادی تقابلي مطالعه ، دتنقيد تاريخ دادبي تاريخ حصه ده ، تنقيد او تخليق ، اوپه پنځمه برخه کې : ذاتی او انفرادي تنقيد ، دلسنګ او اناتول فرانس نظريات ، دنقادانو اجتماع، دکلاسيک مفهوم په ادب کې ،دبقا بهترين اصــول ، دهــم عصــرادب څيړنــه ، کلاســيک دمعيار په حيث . اونور انتقادي اوتيوريکی معلومات راغلی دي .

دقلندر بل اثر (نظميات ) دی، ايوب صابر په خپل اثر (جديدپښتوادب ) کې په دغه ټکي معترف دی اودايي په ګوته کړې چې قلندر دنــوي تنقيــد پــه کــره کتونکوکې هغه څوک دی ، چې په دغه برخه کې ځانګړې مقام لري .

دپښتونخوا په ادبياتو کې ديوې ټولنې نوم چې هغه ( ادبي تنقيدي ټولنه بنو ) وه داټولنه ترډيره حده لکه چې نوم يې سړي ته ورڅرګندوي ، سړی فکرکوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

، دلته به هم دکره کتنې په اړه څه ترسره شوي وي ، خوداسې نه ده ، ځکه چې دغه ټولنه بيا د اولسي تنقيدي ټولنې په نامه هم ياده شوې ده اومرام يې داو چې : « ... مختصراً بايد ووايم چې اولسي تنقيدی ټولنه ددې مقصد اونسب العين دپاره جوړه شوې وه ، چې په دي کې به دليکوالو په داسې ډول تربيت کيږي ، چې هغه انساني مسايل دادب په نسخه کې شامل کړي اوعام ولس ته يې د ور کړي يعنی زموږ مطلب د داسې ليکوالو وجود و چې زموږ د ژوند حقيقی کشالې هم د رمان په ژبه بيان کولی شي . او دداسې ادب تخليق کول وو چې هغه نه يوازې ديوې شيبې ذهنی سرور پيداکوي ، بلکې هغه زموږ شعور دغفلت او دلاپوهۍ دخوب نه بيداروي » (۱)
ترکومه ځايه چې د (بنون ادب ) له سريزې څخه ښکاري ، ددغې ټولنې ليکوالواو شاعرانو ددې پرځای چې ځانونه په ادبي دنده باندې بوخت کړي . برعکس په ځانګړو اختلافاتو چې هغه هم ځانګړې او کله کله مفکوروي دي اخته پاتې شوي دي، چې څرګنده بېلګه يې همدغه اثر(بنو ادب ) هم بلای شو.په دغه اثرکې هم ددغه ليکوال په وينا دمترقی ليکوالودمعرفۍ لپاره يومعيار اودشاته راښکونکولپاره بل معيار په نښه کړی دي. په داسې حال کې چې دادبی آثارو دتحليل اومعرفۍ لپاره بايد يوازې يو معيار ، هغه هم ادبی انتقادي معيار په پام کې وي.
په هرډول ، دابايد ووايو چې دپښتونخوا په ليکوالوکې دکره کتنې په برخه کې يوشميرليکوالو لکه هميش خليل ، کامل صاحب ، رسا (دادبي تنقيد ليکوال چې اثريې په نسبي توګه دکره کتنې په باب ښه اثرګڼل کيږي ،اوشايد چې دکره کتنې په برخه کې لومړی چاپ شوي اثرهم وي ) مولانا عبدالقادر ، قلندر مومند ، محمد اعظم اعظم د (پښتوافسانه ) ليکوال اوداسې نور

---

(۱) مجبور سورانی ، دبنوادب ، پيښور ۱۹۷۱ کال (۱۱) مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

يادولاى شو . دوى په رښتياهم دكره كتنې په برخــه كــې پــه علمــي لحــاظ ډيرمهم كارونه ترسره كړي او په دغه برخه كې يي دنړيوالو آثارو په پــام كــې نيولوسره علمي آثار ليكلى اوخپاره كړي دي. په دغه برخــه كــې پرپورتنيــو ليكوالو برسيره د ددغو ليكوالو آثار اونومونه په ځانگړي ډول ديــادوني وړدي لكه ، سمندرخان سمندر (دقرآن ژړا ) سحر يوسفزى د (ادب څه دى ) ليكوال ، ايوب صابر، افضل رضا چې دوه اثره (تحقيق اوتنقيد ) (تخليق اوتنقيد ) يــې دمعاصرې كره كتنې په برخه كې په ځانگړي توگه ديادوني وړدي.

## ب : بره پښتونخوا (افغانستان ) :

په افغانستان كې هم په دې وروستيو كلونو كې دكره كتنې په برخه كې دلــرو كره كتنو په شان يواوچت گام پورته شوى هغه داچــې دلتــه پــه پښــتوادبي بهيركې دتحقيق برخه دپښتونخوا په انډول تريوه حده پياوړي ښــكاري ، پــه دغه اړه تراوسه دپوهانوداخبره بى له شكه منلاى شو چې پښتونخوا اودهغــې ادبى بهير په تخليقي برخه كې ترافغانستان مخكي دى، زه دا نه وايم چې پــه افغانستان كې به تحقيق ترپښتونخوا دعلمي دلايلو له مخــې ډيرمخكــې وي ، ښايى نه وي ، يوازې يوڅه چې په دغه برخه كې څرگند دي ،هغــه هڅــې دي چې په تيره نيمه پيړۍ كې په افغانستان د پښتوادب او ژبى لپاره په پرله پسې ډول راپيل شوې دي. ددې په څنگ كې داخبره هم ده لكه چې زياتره پوهــان په دي باور دي او وايي چې تحقيق پــه بــره پښــتونخوايا افغانســتان كــې او تخليق په كوزه پښتونخوا (اوسنۍ پښــتونخوا ) كــې بــې ســارى دى، ځكــه دتحقيق په برخه كې چې كوم بهير په پورتني زمانى پيركــې روان و او كومــو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهانوچې په برخه کې دپاملرنې وړ کارپیل کړي و ، هغه ددې لامـل دی چــې افغانستان په تحقیقي لحاظ اوچت اوبرلاسی وښیي ، زه خپله داخبره د کـانې کرښه نه بولم ، ځکه باور لرم چې دغه بهیربه یومهال یا دیر ښه شي او یابه هم کمزوری ، همداده چې زه په خپل عصر کې په دغه باره کې خبرې کوم اوبس .
که چیرې موږ اوس همدغه خبره دیوې پوښتنې پــه توګــه مطــرح کــړو چــې داډیرکار او ډیرخه چې په دغه اړه ترسره شوي هغه څه او کــوم کارونــه دي ؟
په دغه اړه لکه چې ما مخکې هم یادونه وکړه یوه دتسلسل موضوع ده ، چــې په دغه برخه کې په ځانګړې توګه باید له علمي پلوه په پام کې ونیول شي ، په دغه دوره کې یو شمیرنخبه لیکوال او څیړونکي که څــه هــم دوی د( علــوم ادبیه ) د مکتب شاګردان وو لکه علامه حبیبی ، الفت ، بینوا ، خادم ، رښــتین او رشاد ، دوی په خپل وخت کې دادبیاتو او په تیره بیــا دکــره شــعور اوکــره کتنې په برخه کې په علمي اونظري توګه دپاملرنې وړ کارونــه ترســره کــړل ، دوی په دغه تاریخی مقطع کې هغه څوک وو چې لــه یــوې خــوا یــې د ادبــي آثاروپه موندلوپسې پښې را لوڅې کړې وې او له بلې پلوه یې باید هغــه خــام مواد پاخه او معرفی کړي وای ، همداده چې دوی دوه ګونې دندې ترسره کــړې دي چې په هراړخیزه توګه په علمی لحاظ په دغه زماني برخه کې د پاملرنې او ستاینې وړ دي. داخو دقضیې یو اړخ شو ، بله خبره چې پــه دغــه اړه پردغــه مهال په ځانګړې توګه دیادونې وړده هغه داده چې یوشمیر علمي هڅې چې د پورتنیو لیکوالو دمطالعاتو پرتګلوري یې وده وکړه ، هغه دادي چې موږ په دغه زماني پیرکې د کره کتنې په برخه کې دمسلکی څیــرو او نقــادانو ســره چــې اصلی دنده یې ترډیره حده کره کتنه ده له علمي کارو سره هم مخامخ کیــږو، په دی مانا چې دلته یوشمیر کره کتونکي داسې هــم رامــنځ تــه شــول چــې ترپخوانیو لیکوالو او څیړونکو یې لیکنې اوڅیړنې ژونــدۍ او دمعاصــرې کــره کتنې له اصولو سره برابرې ښکاریدې. دوي په خپلو کره کونــو کــې د علمــي

(c) ketabton.com: The Digital Library

قضاوت خبره جدي نيولې وه او په دغه برخه کې يې په پښــتو ادبــي بهيرکــې دکره کتنې په نامه يونوی ميتوديک څپرکی پرانيست.

دغه ډله او د دوی نظريات د روانې پيړۍ په څلويښتمو کـالونو کــې پــه کابــل مجله کې تر سترګوکيږي او دا په ډاګه کوي چې په نسبي توګه دکــره کتنــې پرعلمی متيود لوژۍ برابر څه را منځ ته کيږي همداده چې دلتــه دوه جريانــه موږ ليدای شو ، يو هغه چې دنورو ليکوالو د نظرياتو پربنسټ رامنځ ته شوی او بل هغه چې د پښتو ليکوالوپرنظرياتو رامنځ ته شوی او يايې وده ورکــړې ده . مانا داچې په دغه وخت کې کره کتنه د وروستيو علمي پرمختګونو لــه علمــي روح سره خپله لاره زموږ تر پښتو ادبی بهير پورې هم راباسي او سړي پــه دي ډاډه کوي چې دغه انتقادی هلي ځلې کــولای شــي دادبــي مطالعــاتود يــوې روښانه راتلونکې په لور خپله لاره ور وباسي . دباندنيو ليکوالو په ډله کې يوهم روسي پښتو پوه ګ . ف . ګيرس دی چې په دغه مهال کې دکره کتنې پــه اړه ليکي :« په افغانی مطبوعاتو کې انتقادونه اود ادب مسايل شته ،خــو عمــومي جنبه لري ، او په خصوصي ډول سره ددغه انکشاف جريان دتجزيي لاندې نــه دی نيول شوی . دپښتنو فلالوجستانو ډيرمقالې داسې دي چې يوازې توصيفی رنګ لري نه واقعي ...» (۱)

دګيرس خبره هم هغه د (علوم ادبيه ) دپلويانو ده چې دوی دهرڅه په باره کې ليکل اودهرڅه په باره کې يې خپلې خبرې درلودې ، دده مراد له واقعيتوبه زه فکرکوم هماغه علمي انتقادي ليکنه ده چې دادبی آثارو دشکل اومحتوی پــه باره کې بايد خپل تحليل، تجزيه او نتيجه ګرې وړاندې کړي . ګيرس پــه دغــه برخه کې يوڅه علمی هم مخکې تللي دی اويولړعلمي ليکنې يې هم کړې دي چې يوه يی هم داستاد رښتين پر ( پښتو ادب تاريخ ) باندې تبصــره ده چــې ليکي :

(c) ketabton.com: The Digital Library

« ... ددې کتا ب ليکل دپښتوادبياتو دتاريخ په موضوع کې لـومړی کـاردی او همداوجه ده چې له نيمګړتياوو څخه بې برخې نه دی ، دپښــتو دادب  د دورو ويش چې دکتاب له خوا پيشنهاد شــوي دی صــحيح نــه دی ، ځکــه دا دورې دپاچهانواو اميرانو دتغيراو تبديل پربنسټ ټاکل شوي دي ، بايد دادب  د دورو ويش په خپله د ادبي پيښو دوختو له مخــې ټاکــل شــوې واى . ايــدياالوژيک مسايل او ديوه ليکوال داستادۍ فن په کې تشريح شوي نه دي ، ددې پرځــاى چې د اوسنيو نثرليکونکو آثار تجزيه کړي ، مولف يــوازې  د دوى نومونــه پــه فهرست کې  درج کړي دي »(۲)

---

(۱)  ک . ف . ګيرس ، پښتو ادب ته يوه عموي کتنه ، کابل مجله ، (۱) ګڼه ، ۱۳۴۱ کال  ۱۳ مخ .
(۲) همدغه اثر (۱۴) مخ

دګيرس کوم آثار چې اروابښاد معتمد شينوارې په دغو کلونو کې له روسي ژبې پښتو ته راژباړلي ، هغو زموږ ددغه عصر دانتقادى بهيرله ودې ســره د علمــي لاربښود په توګه  مرسته کړې ده ، مانا داچې دغو آثارو لږترلږه داخبره موږ تــه را په ګوته کړې چې پښتو کره کتنه کارغوارې چې بايد دهغې دعامولو او ودې ورکولو په کارکې رغنده کارته ملاوتړل شي  ځکه نوزه فکرکــوم چــې ددغــو ليکنو روزنيز اړخ زموږ د راتلونکولپاره په علمی لحاظ دپاملرنې وړو.
دهمدغي لړې ( دکابل مجلې په څلويښتم کالونه ) په ترڅ کې دپوهاند رښتين ، الفت ، خادم ، استاد روهي او شپون يولړ ليکنې ځانګړې تګلاره وهــي  چــې دلته يې په يوشميرليکنو باندې لنډې خبرې کوو :
د پوهاند رښتين له خوا په دغه دوره کې يو لړ ليکنې په کابل مجله کې خپرې شوې ، چې په علمي لحاظ د پخوا په اندول د پاملرنې او يــادونې وړ دي ، مانــا داچې له کره کتنو يې يو څه علمي تومنه ترلاسه کيــداى شــي ، او پــه خپلــو ليکنو کې کولاى شي دښه اونيمګړي اثر ، کره او ناکره ترمنځ  خپل قضــاوت او

(c) ketabton.com: The Digital Library

انتقاد په سمه ژبه اوادبي انداز سره وکړي، دده ددغه مهال په ليکنو کې يوه هغه ليکنه دپاملرنې وړ ده چې ده د رحمان بابا دمشاعرې د ارزونې په باب کړې ده ، ددغې ليکنې يوه برخه دلته په ګډه ديوه نسبتاً ښه عملي انتقاد په توګه دلته را اخلو :

« بختاني هم ښه شعري طبعه لري ،مګر دلته ده د پخوانيوشاعرانو يادونه په ساده او روانه ژبه کړې ده ، او کوم نوي شی په لاس نه دي ورغلی . د ملګرو ياد عنوان هم سم نه دي ، ولې چې لرغوني شاعران هيڅکله د ملګرو په نامه نه يادېږي . په ملګرتيا کې هم عصري ، او هم فکري شرط دی ، يوازې کيدای شی چې هميش ، ساقي ، ساغر د ملګرو په نامه وبولي »(١)

داستاد رښتين دليکنې دغه لړۍ تقريباً په همدغه شان ترپايه پورې رسيدلي ده ، ترکومه چې ښکاري اوما دده دغه کره کتنه په غور سره ولوسته ، نو دا ټکی په کې له شکه پرته ښکاري چې د کره کتنې يوه ښه او په منطقي لحاظ يوه کره روزنيزه ليکنه او کره کتنه ده .

استاد الفت په دغه لړکې بل ليکوال دی چې ليکنې يې له تخليقي مزاج سره په رابطه کې رامنځ ته شوي ، دی لکه څنګه چې په خپلو ليکنو کې يو انتقادی ليکوال بلل شوی ، همداسې په خپلو کره کتنو کې يې هم دځانګړې ډول کره کتنې په پا م کې نيونکی کره کتونکي ليکوال دی ، دده کره کتنې هم يوډول تخليقي اړخ لري ، چې مور ته د يوې معياري کره کتنې حال او قال دواړه راپه ګوته کوي . دلته دده دهغې کره کتنې يو بيلګه را اخلو هغه چې د نامتو ليکوال

---

(١) صديق الله رښتين ( درحمان بابا مشاعرې ته يوه کتنه ) ، کابل مجله ، (٢) ګڼه ١٣٤١کال ، (١۴) مخ .

او شاعر بينوا په ( اوسني ليکوال ) باندې يې کښلې ده. الفت په داسې يو مهال او چاپيريال پورې اړه لري چې هغه د کره کتنې لپاره په ټوليزه توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهضميدو حوصله نه لري ، خو داچې دلته يې جرآت کړي دهغــه لامــل دادی چې دي پربينوا باندې باور لري اوپوهيږي چې بينوا ديوه ليکوال په توګه ددې زغم لري چې دده خبره هم واوري او هم يې وزغمي ځکه نو ليکي :
« ګرانه بينوا په عمر او په قلم دې برکت !
ستا په اجازه ستا په کتاب (اوسني ليکوال ) څه ليکم ، يوازې ستاينه نه کــوم ، په تاباندې اعتراض هم کوم ،ځکه چې ته هغومره تريو او تريخ سړی نه يې چې څوک درنه لا په خوب کې هم وډارشي . ســتا يــو خصوصــيت دادی چــې تــه محبوب کيدای شې او مهيب کيدای نه شې ... په هرصورت داويلی شــو ، چــې ته په خپلو قضاوتونو او ادبي تبصره کې آزاد نه يې او انتقادي جنبــه پــه دغــه کتاب کې نيمګړې ده . زه هم دغه نيمګړتيا دمجبوريــت او معــذوريت اغيــزه ګنم او تا نه ملامتوم ، مګرنورو خبرو ته دې توجه را اړم ، چې کــه زمــا نظريــه درته ښکاره شي په نورو جلدو کې به ورته اعتنا وکړې اوهغه دادي : زمــا پــه فکر په دې کتا ب کې دتاليف او تصنيف په لحاظ يو مشخص او معين پروګــرام نه ی تعقيب شوی ، يعني دا توازن او تناسب په کې نه دی ساتل شوي چې پــه يوه ليکوال باندې بايد څومره بحث وشي اود بحث اساسي ټکي او مهمې برخې بايد کومې وي ... په دې کتا ب کې د ليکوالو اوشاعرانو په جمله کــې يــو نــيم سړي داسې هم راغلي دی چې په مسلکي او اجتماعي لحــاظ د انتقــاد وړدی مګر بينوا دا ونه شــوکړای چــې دهغــه اصــلي څيــره وښــيي ، امــا بــالعکس مجبورشوی چې په ښه رنګ اوښه يې معرفي کړي . دا کتاب اساسآ دتخلص په اعتبار الفبآ په ترتيب سره تدوين شوي او چا چې تخلص نه درلود نو بيايې نوم په هماغه ترتيب راغلي دی ،يعني د نامه او تخلص ګډوډي په کــې ده ،نــو کــه چيرې کتاب دنامه په لحاظ مرتب شوی وای دغه اختلاط نه پيښــيده ، ځکــه چې نوم هرڅوک لري او تخلص ټولو ته نه دی رسيدلی ، او بيــا لا داســې هــم شوي دي چې ځينې کسان چې تخلص هم لري تخلص ته يــې اعتبــار نــه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکړشوي بلکي نوم يې تخلص ګڼل شــوی دی ... دا و زمــا ديــوه ســطحی او سرسر نظرمحصول چې په دغه کتاب خرګند شو ، مګر زه دامنم چې زما دغــه کتنه نيمګړې ده ځکه چې ما ټول کتاب د کره کتنې په اساس نه دی کتلــې او يوازې دکتاب په ځينو برخو کې مې دغه څه وليدل چې ښــاغلي بينــوا دښــه سړيتوب او لويې سينې په اعتماد او زما اوډده د ټينګې دوستۍ او ملګرتيا پــه مرسته يې اظهار جايز وګڼل شو، زه ښاغلي بينوا ته سربيره ددغه مهم او درانه کتاب په تبرک داتبريک هم وايم چې ده په خپل د غه کتــاب بانــدې د ادبــې انتقاد ور پرانيست اوله هرچا څخه يې دکره کتنې غوښــتنه وکــړه ، يعنــې دا افتخار هم دده په نصيب شو چې له انتقاد نه ونه ويريده او ليکوال يې دخپــل کتاب دنقص اوعيب پلټلوته راوبلل ، مبــارک دې شــه ، بختــوره وروره دغــه کاميابي » (۱)
له دغې ليکنې څخه وروسته له ما او له هرچا سره داپوښتنه را منځ کيږي چې که چيرې

---

(۱) ګل پاچا الفت ، (اوسنې ليکوال ) ، کابل مجله (۱) ګڼه ۱۳۴۱ کال (۲۶ - ۲۷ ) مخونه

استاد بينوا او استاد الفت له يوبل سره دوستان نــه واې ، او دوســتې يــې نــه درلوداې ، څه فکربايد وکړو چې د الفت به دغه انتقاد په دومره صراحت ســره پربينوا غوندې ليکوال ، سياستمدار او ښه شاعر باندې هغه هم پردغه مهــال کيداې شو ؟ زه خو وايم چې که دوی دواړه دوستان نه واې دا ډول انتقــاد بــه هم کله هم پريو ادبي اثر ( اوسنې ليکوال ) باندې مونږ نه درلــود ، ځکــه چــې پردغه مهال خو کره کتنې ته زمونږ ليکوال اوشاعر په علمی نظر نه کتــل اونــه پرې پوهيدل ، استاد الفت په ډاګه وايي چې دې داسې نقاد نه دې چې څــوک يې نقد ونه زغمي نقد به وربانډې ونه کړي ، په داسې حال کې چې دا ډول بــې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلوي ، پرداسې لوی ليکوال او شاعر لکه الفت باندې هم په خپله يو انتقاد دی .

له استاد الفته را وروسته په دغه بهير کې اوس يوه بل پړاو ته ورمخه کوو ، هغه پړاو ته چې دهغه په ترخ کې پښتو کره کتنه دخپلې ودې له هــره پلــوه نــوي پړاو ته ورداخليږي، په دغه پړاو کې کره کتنه په يوه مسلکي تګلوري ور مخه کوي ، په پښتوادبي بهير کې دلومړي ځل لپاره موږ تــه ديــوه مســلکې کــره کتونکي پته لګيږي لکه استاد صديق روهي ، روهي سره له دي چې په ښوونه او روزنه او فلسفه کې يې زده کړې وکړې خو دعملي کار اوتحقيق ســاحه يــې بيا هم کره کتنه شوه ، په شرقی ادبياتو کې تراوسه پورې په دغــه برخــه کــې ديوه مسلکي ليکوال پته ان په نورو ګاونډيو ژبو کې هم نه ليدل کيــدل، خــو روهي په دغه بهير کې په يوه ځانګړي جراآت سره را څرګندشواود لومړي ځل لپاره يې د عالم کره کتونکي په توګه په ليکنو لاس پورې کړ. دده دليکنو لړۍ په تيره بياد کره کتني په اړه د کابل مجلې په ترخ کې ترسترګوشوې، د روهي په اړه به په راتلونکې ډيرې خبرې ولرو، ځکه چې هغه موږ دادبياتو په مادي او معنوي اړخ دخپلو مطالعاتو او څيړنو په تــرخ کــې آشــنا کــړو ، ده د روانــې ميلادي پيړۍ په دويمه نمايي کې وکولای شول چې دمعاصرې مترقي اوعلمي کره کتنې اصول پښتو معاصر ادبي بهيرته ورمعرفي کړی او دايــي د معاصــرو ادبي بهيرونو د اغيز په اړه ترټولو مهم راز او رمز وباله ، روهي په دغه ترخ کــې هغه مهال عملي ګامونه پورته کړل چې دی دکابل مجلې مدير وټاکل شو ، دده په دوره کې کابل مجله ديوې نګه ادبی او تيوريکی مجلې په توګه خپله دنــده پيل کړه . کومې ليکنې چې دده له خوا په دغو خپرونو (کابل مجلــه ، زيــري او نورو کې ) خپرې شوې ، هغه له يوې خوا زموږ دپښــتوعلمي کــره کتنــې پــه ځانګړې اوله بلې خوا دعمومي ادبی ودې په برخه کې د لارښوونو په توګــه را پړکيږي چې په خپل دريځ سره يې په خپل وخت کې ډير لړزانک پلونه ونړول

(c) ketabton.com: The Digital Library

، اودکابل مجلې په پاڼوکې يې ستره پانګه خپره کړه ، ده د روانــې پيــړۍ پــه دويمه نمايي کې دده په نغوته يوه کره کتنه لکه څرنګه چې دکتاب ليکوال يې له ده انګيري دهغه د ( دنبوغ او عبقريت کتاب ته يوه کتنه ) پــه نامــه خپــره شوې ده ، په دغه مقاله کې دخادم صاحب پورتنی اثر په علمي او دقيقه توګــه لوستل شوي او دنبوغ موضوع چې دخپل فلسفي ماهيت له مخــې پــه ډيــرو کمزورو دلايلو توضيح شوې دلته دمقالي دليکوال له خوا په معقولو دلايلو سره چې پرنوموړي کتاب باندې ليکل شوي انتقادشوي ده چې يوه برخه يې دلته را اخلو : « ۴ــ دنبوغ اقسام ، ترعنوان لاندې (په يوديرشم مخ کې ) ملنګ جان ، شيرزاد آهنګراو خليفه سکندر آهنګر دنوابغو له جملې شــميرل شــوي دي . ملنګ جان ته نا بغه نه شو ويلای ــ البته ملنګ جان يو ملي شاعردی ، دده له اشعارو ملي احساسات اودپښتونولي جذبه څرګنديږي په ساده اوعامه فهمــه ژبه يې خپل مطالب بيان کړي او شاعرانه تخيل يې درلــود. شــعري فکــر يــي دعوامو له فکر سره برابردي نو ځکه ځينی عوام خلــک ورتــه خوشــبين دي اوکه دهغوی په نظر نابغه ورشي هم د تعجب ځای نه دی امــا کــه پــه علمــي اجتماعي اوادبي اساس ورته ګورو نو دده شعر کــوم ابتکــاري شــعر نــه دی ، اوداسې مطالب يې ذکرکړي چې ترنه مخ کې ځينې نور شاعران پرې غږيــدلي دي اوپه دغه عصرکې خو هرسړی په دومره جزيی خبرو پوهيږي نن ورځ پــه افغانستان کې ښه شاعران شته چې د اجتماعي ، فلسفي ادبي افکارو خاوندان دي چې ملنګ جان ته داحق نه ورکول کيږي چې دهغوسره دي مقايســه هــم شي ځکه دملنګ جان او د دوی ترمنځ ډيرزيات فرق شته .

مګر دابه ومنم چې دعوامو شاعرانوپه ډله کې راتلای شي نو که څــوک ملنــګ جان ته دنابغه خطاب وکړي دامعني به ولري چې تقريباً هر شــاعر نابغــه دی » (۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library

که څه هم دغه کره کتنه داستاد روهي په نامه نه ده خپره شوې ، خــو داچــې دی دکابل مجلې چلوونکی دی استاد خادم خپله ځوابیه کره کتنه چې خــدای شته علمآ خواره ده روهي صاحب ته په ګواښ سره داسې پیل کــوي : « کابــل مجله د دپښتو ټولنې میاشتنې نشریه ده ، چې مسوول چلونکي یــې ښــاغلي محمد صدیق روهي دی ، زه هم په پښتو ټولنه کې کارکوم ، نو زه او دی دواړه همکاران یو. روهی صاحب دکابل مجلې دسږ کال په (۵۱۳) ګڼه کې یوه مقاله خپره کړې ده چې عنوان یې دی ( دنبوغ او عبقریت کتاب تــه یــوه کتنــه » دامقاله دعبدالحکیم هلالي پــه نامــه خپــره شــوې ده ، لیکــونکی د ادبیــاتو دپــوهنځي محصــل ښــودل شــوی دی خــو پــه تیــرو څوکــالوکې چــې زه دادبیاتودفاکولتې استادوم ، دغه محصل ما هیڅ لیدلی کتلــی نــه دی اوهــیڅ پیژندګوي ورسره نه لرم خو زما اریانتیاپه دي کې ده چې دوســتي او دښــمني خو دواړه دپیژندګلوي څخه پیداکیږي. » (۲)

خادم صاحب دخپلې لیکنې په ترځ کې په دغه اړه دوام ورکوي : « ... له دغــه پورته عباراتو ، طرز اسلوب ، سیاق او سباق څخه هرچا ته معلومیدای شي چې مقاله انتقادي نه ده ، انتقامي ده ، په دې خبره باندې نور دلایل او شــواهد هــم شته ، یو له هغو څخه دادی زه چې دپښتوټولنې سابقه دار غړی یــم ، روهــې صاحب زما مقالې دري څلور میاشتې ځنډوي اوپه کابــل مجلــه کــې یــې نــه نشروي او په مقابل کې یې دغسې مقــالې پیــداکوي او بــې دپښــتوټولنې لــه مشورې یې په خپل مسو لیت نشروي. که نه وي نو دیومحصل څه سرخوږیږي چې دحسادت او انتقاد له احساسه ډکه مقاله دپښتوټولنې دیــورکن پرعلیــه هغه هم دکابل په مجله کې خپره کړي. داخبرې که د فاکولتې دکوم استاد پــه خوله شوې وای خو یوه خبره وه ، مګر یو شاګرد څنګه کولای شي دبي موجبه قهر دسږولو دپاره دفاکولتې پراستاذانو اس وځغلوي ... » (۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخکې تردې چې دپورتنی لیکنې سره اړوند  د روهي یادګیرنه دیوې ښې کره کتنې په توګه

---

(۱)  عبدالحکیم هلالي ، ( دنبوغ او عبقریت کتاب ته یوه کتنه ) ، کابل  (۴) ګنه  ۱۳۴۱ (۵۳) مخ .
(۲) قیام الدین خادم ، ( دنبوغ او عبقریت کتاب ) کابل مجله ، (۸) ګنه ، ۱۳۴۱  (۳۱) مخ .
(۳)  همدغه ګنه (۳۴) مخ .

کتې متې رانقل کړو ، باید یوه خبره په پام کې ونیسو چې په پورتنې کره کتنې کې دوه ټکي دخادم صاحب کمزورتیا ډېره اوچته راڅرګندوي یو داچې وایي دښمني او دوستی دپیژندګلوی له مخې کیږي، داکومه ادبي خبره  نه ده ، دخادم صاحب په ځواب کې د انتقاد پرځای یوازې فردي ګیلې او اداري اړیکي په ګوته شوي دي ، چې داکار دادبی انتقاد په فرعي څنډه کې دبحث وړکیدای شي. بله مهمه خبره داده چې داډول دریځ نه شي کولای دیوشاعراو لیکوال ادبی مهارت او ماهیت په ګوته کړي ، برعکس خبره له اصلي مسیره پربله خوا بیایی همداده چې ترننه پورې موږ ځاني ګیلې او انډیوالي له ادبی مسایلو څخه نه شوبیلولای .

ددغې مشاجرې په پای کې استاد روهي  دکره کتنې پر میتود لوژی باندې ولاړه نتیجه ګیري کړې اوخپله کره کتنه یې چې د کره کتنې ځانګړنې په کې ښکاري زموږ په واک کې راکوي  لکه چې لیکي :  « کابل مجلې پښتوادب ته دخدمت په غرض همیشه تخلیقي اوتحقیقي  موضوعات خپاره کړې دي اوزیار یې ایستلی دي چې په پښتوادب کې دانتقاد (Criticism) لار پرانیزي ،همدارنګه دپښتو ژبې ، پښتنې کلتور او دپښتنې ادبي رجالو دمعرفی  دپاره یې موثر ګامونه او چت کړي دي اودخپلو هیواد والوداستفادې دپاره یې علمي او اجتماعي مضامین نشرکړي دي. مخصوصآ په دې وروستیو وختو کې یې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ادبي انتقاد خواته زياته توجه کړې ده . خوله بده مرغه زمــوږ اکثــره ليکــوال دانتقاد له فن سره لکه ښنګه چې ښايي آشنا نه دي ، زه دامنم چــې تراوســه پورې زموږ په ليکنو کې په سلو کې سل خالص او صادقانه انتقاد ډيرکم ليــدل کيږي او همدارنګه کوم ليکوال چې د انتقاد په معرض کې واقع شي ، دهغه پــه دښمني او شخصي اغراضو يې تعبيروي ، البتــه ددې خبــرې علــت واضــح او ښکاره دي اوهغه داچې موږ په دې برخه کې ابتدايي ګامونــه پورتــه کــوو ، او ابتدايي ګامونه کلک او مضبوط نه وي ، کابل مجلې دپښتومشــهورو ليکوالــو دمعرفۍ په سلسله کې دهيواد دپياوړو اديبانو لکه ښــاغلي رښــتين ، بينــوا ، ښاغلي خادم او ښاغلي الفت پرآثــارو او ليکنــو بانــدې انتقــادي تبصــرې او مضامين خپاره کړي دي ، موږ ته دا معلومه ده چې په مترقــي هيوادونــو کــې پرټولو مهمو آثارو او علمي شخصيتونو انتقادي مقالې ليکل کيږي اوهغه آثــار چې له انتقادڅخه پاتې شي ، دخلکو په نظر ارزښت نه لــري . دهمــدې اصــل پربنا موږ په مجله کې دعلمی او ادبي انتقاد دپاره دروازه خلاصه کړه اوعلمــي او ادبي انتقادونه مو خپاره کړل ، خو ددې انتقادونو دځينو په مقابل کې عکس العملونه را پيدا شول او په دې وسيله يې موږ خپلونيمګړتياووته ملتفت کــړو، هيله کوو چې په راتلونکې به دخپلو همکارانو او پوهو ليکوالــو پــه مرســته او لارښونه دمجلې انتقادي برخه ډيره ښکلې او ســپيڅلې شــي. مــوږ هروخــت انتقاد اوريدو ته حاضر يو ځکه چې بې له انتقادڅخه پرمختګ او ترقي منــتځ ته نه شي راتلای . دعلمي او ادبی کره کتنــې دروازه چــې د مجلــې لــه خــوا پرانستل شوې ده دعلمی او ادبی کره کتونکو پرمخ خلاصه وې او دانتقاد دفن دتعميم اوترويج دپاره به مقدماتي خدمت وکړي . دمجلې اداره پښتو ليکوالــو ته بلنه ورکوي چې ترټولو دمخه پرموږ انتقاد وکړي اودعلــم او ادب دخــدمت دپاره له موږ نه خپله مرسته اوهمکاري ونه سپموي » (۱)

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۱) محمد صدیق روهی ، ( یاد ګیرنه ) کابل ۱۳۴۱کال (۸) ګنه ، (۴۸) مخ .

داستاد روهي ددغه پیر په کره کتنو کې دالاندې کره کتنې دیادونې وړدي : « دکره کتنې تاریخي پس منظر او معیارونه ، دادبي کره کتنې ادب (ایتکیت) ، د روښانیانودنهضت خرنګوالی دتاریخ اوفلسفي په رڼاکې ، لـه روښانیانوسره داخوند درویزه او اخوند پنجو دمخالفت اصلي علتونـه ، داخونـد درویـزه پـه لیکنو کې دپښتنو دکلتور او اجتماعي سایکالوجي انعکاس، دمیافقیرالله جلال آبادي دپښتو شعرونو سبک ، دمیافقیرالله په ( طریق الارشاد) کـې دشـریعت اوطریقت موضوع ته کتنه ، دخوشال دښوونې اوروزنې فلسفه، دخوشال ختک سواتنامه ( دټولنیزو اصلاحاتو هینداره ) دخوشال اخلاقـي ایـډیال دخوشـال داخلاقی ایډیال په حیث ، دخوشال په آثـاروکې دمضـمون اوشـکل تنـوع ، رحمان بابا اود اشراق فلسفه ، دپښتو لومړنې درسـي کتـاب تـه یـوه کتنـه ، دپښتو یوه قلمي نسخه ، په پښتو کیسوکې ریالستیک تمایلات، دکابل مجلې دپنځوس کلنی نشراتی دورې عمومی خصوصیات او نور... »(۱)
په دغه دوره کې بل زموږ دنظروړ بل کره کتونکی حبیب الله تږی نیازی دی ( ما دخپل تیز دلیکلو پرمهال دیو شمیرسیاسي ملحوظاتواو بندیزونو له امله یو ازې نیازي لیکلي و ) نیازی دخپل وخت او دکره کتنې په برخه کـې علمـي او مترقي تګلاره پرمخ بیایي ، او په خپل عصرکې دکلکو علمي اصولو اومیتودونو پلوی و، ده هڅه کوله چې ادبي کره کونه باید دخپلو جـدی اصـولوپه رڼـاکې پښتو ادبیاتوته لاره ورپیداکړي. دتږي نیازي په اړه یو ټکي دویلو وړدی اوهغه داچې ده دخپل ادبی ژوند په ترڅ کې هراړخیزې هڅې کړې دي، پـه لومړیـو کې یې ادبي لیکنې زیاتې کولې، پرپښتو معاصرادب باندې یې لیکنـې جـالبې لیکنې دي همداده چې استاد روهي دده په اړه لیکي : « په ۱۳۳۷کـې حبیـب

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله ترې د مجلې (کابل ) مديرشو، دده دليکنې لهجه تونده وه نــو ځکــه د درو ګنو له خپرولو وروسته دمجلې له مديريت نه موقوف شو... » (۲)

دده دتوندې ژبې اوتوند ګوزار اغيزدده په آثارو کې هــم څرګنــددي، دادبــي آثارو دکره کتنې پــه برخــه کــې يــې تــل پــه بــې زړه ســوي ګــوزارکړی او بوشميرداسې کره کتنې ترې پاتې دي چې زموږ په معاصر کــې ادب ، او کــره کتنه کې په علمي لحاظ ځانګړی اهميت لري. دده په دغو ليکنو کــې ده يــوه ليکنه ( معاصر افغاني ادب ) ده چې په ۱۳۳۹ کال کې په کابل مجله کې چــاپ شوې ده ، ترې په دغه مقاله کې دپښتومعاصرادبي بهيــر پــروده ، او وروســته پاتې باندې خبرې کوي او ورسره سره پريو شمير ليکوالواو شاعرانو لکه خادم ، رښتين ، تره کي ، الفت ، مجروح، زمريالي ، بينوا او جلالي بانــدې يــې هــم خپله تبصره کړې ده. په دغه ترڅ کې دی دبينوا په اړه ليکــي : « بينواکــه لــه نورهرڅه بينوا دی ، نود شعراو ادب په نړی کې خو يي برخه په خپل وخت کې ترهيڅا کمه نه ده، دی هم په نظم او نثرکې ډيره ستره برخه لري ، آثاريې پــه مستقل او متفرق ډول د وطن په مطبوعاتو کې خپــاره شــوي دي. دبينــوا يــو ډيرستر امتيازدخپلې دورې په ليکوالو کې دادی چې د ډرامې په ليکلو کې هم ماهراو (زوړګنهکار ) يې ددې لړليکنويوه نمونه ده ، که دښاغلي بينوا په نثــر کې دابرخه نه وي ، نو سړی ويلای شي چې دده دنظم خوا لــه نثرڅخــه ډيــره قوي ده... بينوا په هرحال بينوا دی اودعيش اوعشرت باده يــې لــه بينوايــانو څخه نه شي بيلولي ، ځکه دی هغه څوک دي چې په اخترونوکې ديتيمانو پــه حال ځوريږي ، او دپرديسان په هديره اوښکې تويوي ... » (۳)

---

(۱) محمد صديق روهی ، ادبي څيړنې ، کابل ۱۳۶۰کال (۸) ګنه ، (۲۹۹) مخ .

(۲) همدغه اثر (۳۰۰) مخ .

(۳) حبيب الله نيازی ، معاصر افغانی ادب ، کابل مجله (۷) ګنه ، ۱۳۳۹ کال (۴۹) مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترې د خپلې مقالې په پای کې بیاهم د (نوي میلان ) تر کوچني سرلیک لاندې یونتیجه ګیري لري چې دهغې له مخې دده د کره کتنې او کره کونې مهارت او جرآت ډیراوچت ښکاري او لیکي چې : « دپورته خبرو په پای کې بایـد داهـم وویلي شي، چې په معاصر افغاني ادب کې یو نوی میلان د ورایه ځرګنداوهغـه دادی چې (ادب دژوند لپاره ) همدا میلان و چې له یوې خوا په افغاني ادب کې ولسي فکرغښتلی ا وله بلې خوا ادبي لیکنې ولســي ژبــې او ژونــد تــه رتــې ورنږدې شوې ، ځکه چې دامهال افغانی لیکوالو هم له دې ســترحقیقت څخــه ډډه ونه شوه کړای چې ادب باید یو هدف ولري ،اودا هدف باید ولس وي ، البته په دي کې شک نشته چې دکیسو ځینې مثالونه په افغاني ادب کې دڅه پخــوا مهال څخه هم ښودل کیدای شي ، اما په واضیح او ریالستي بڼه دا برخه هلتــه ځرګنده ده چې په غربي ژبو پوه افغانی لیکوال هم میدان ته راوځي اوپــه دې لاره کې ځوک چې سره له یوې لفظــي کمزورتیــا د اولیــت حــق لــري هغــه نورمحمد تره کې دی ، ځکه دی نه یوازې دوخت او مهال په لحاظ دمخــه دی بلکي په افغاني لیکوالو کې یواځنی لیکوال دی چې ادبي لاره یې یوازې همــدا لاره ده ، اوبس ... کوم لیکوال چې وروسته تر تره کي په دې لاره خوځیدلی او آثاريي په متفرق ډول سره په مطبوعاتو کې خپاره شوي دی ، دهغوی آینــده روښانه او دپوره ډاډ وړبریښې امید دی چې د راتلونکي لپاره پــه افغــاني ادب کې دآسمان ځلانده ستوري وي. » (۱)

لنډه داچې ترې نیازی زمور په معاصرې کره کتنې کې په علمي لحاظ یواوچت او عالم لیکوال اومنتقید دی ، هسې چې دده دخپلو ادبیاتو راتلونکي ته روښانه خوبونه لیدل او ددغو ادبیاتو لپار یې روښانه لارښــونې کــولې ، همداســې دی زمور دمعاصرې کره کتنې په روښانه تاریخ کې دقدر وړ روزونکي او لارښونکی دریځ او ځای لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ په انتقادي بهيرکې بل دپاملرنه وړ څيره سعدالدين شپون دی ، دغه نومیالي ليکوال هم دخپل ادبی خدمت په ترڅ کې دپښتو ژبې ، پښتو ادب، پښتو کره کتنې اوادبي تيورۍ په برخه دپاملرنه وړ ادبي مرغلرې زمونږ په واک کې راکړې دي. شپون په ليکوالۍ کې ډيرحساس ، خيرک اودپښتو ادب پرراتلونکې باندې ډاډمن ليکوال دی، مخکې تردې چې زه په دغه برخه څه ووايم ښه به داوي چې دبينوا ليکنه په دغه اړه دلته راواخلو : « ... که څه هم ما دښاغلي شپون ډيرآثار نه دي لوستي خو څه مې چې ليدلي هغه ډيرخوندوراودنوې زمانې دليکنو په څير با کيفه دی ، نو يقين دی چې دا زلمی ليکوال به ډيرژر دپښتو ژبې ښه يوخ عصري ليکوال او نامتو شاعرشي. » (۱)

---

(۱) پورتني مقاله (۷۵) مخ

(۲) عبدالروف بينوا ، اوسني ليکوال ، دويم ټوک ، ۱۳۴۱، (۷۵۵) مخ

شپون په پښتومعاصر په تيره بيا د کره کتنې په برخه کې د درناوي وړنامتوليکوال ځای او دريځ لري ، که څه هم ده په دغه برخه کې زياتې تيوريکي ليکنې نه دي کړې ، خو هغه لږ څه چې ده په دغه برخه کې ترسره کړي هغه ډيرمهم او دپاملرنې وړدي. دده تخليق هم په خپل ذات کې يو ډول ټولنيز نقد بلل کيږي ، خو څه چې ده د کره کتنې په برخه کې ترسره کړي، هغه په را وروسته کې د يوشميرلپاره نه يوازې د لارښود بڼه لري بلکه (يو شمير) تراوسه دده پرآثارو شخوند وهي ، اوان چې د غلا ترپولې يې دده له ليکنوکاراخيستی دی ، شپون لومړنی ليکوال و چې يو مهال يې داخبره کړې وه چې (ادبی ټوټه مه ليکي ، دهغه پرځای شعر ته پاملرنه وکړئ ) خو وروسته يو شمير نورو داخبره پرته له دې چې دده نوم ياد کړی په خپلو ليکنوکې ځانونه پرې خانتما کړاوهماغه ناره چې ده پورته کوله دهغوی له خولو پورته کيده ،همداده چې دده يادونه زما ددغه تحقيق په برخه کې زما لپاره مهمه وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

. شپون صاحب د کابل مجلې له لارې يو شميرمقالې دمعمولې کره کتنې يو لړ بيلګې خپرې کړې دي ، دکره کتنې په برخه کې دده ليکنې لکه ( داستايفسکي ) (هنرمندان معاصر) په باب يوه لنډه تبصره (دپښتو معاصرشعرته يوه کتنه) (پښتو ادبي نثر ) او داسې نورې دي . په پښتومعاصرشعرته يوه کتنه کې دپښتو معاصرشعر بهيرپه بشپړه توګه څيړل شوى دى. ترکومه ځايه چې ما ته ښکاري ، ده دغه کره کتنه د نيازي دکره کتنې پرمختللى شکل دى ، خو په يوه توپير هغه داچې په د غه کره کتنه کې دسراج الاخبار په شاعرانو باندې دشکل په لحاظ کلک انتقاد شوى دى. او وروسته يې دمعاصر شعراو شاعرانو پرآثارو باندې هم خپلې ليکنې ته دوام ورکړى دى ، کله چې د الفت ، خادم او بينوا د شعرونو بيلګې راوړي نو بيا دهغو دتحليل په پاى کې ليکي : « په پورتنيو نمونو کې مې فقط د دريوشاعرانوآثار وړاندې کړي دي چې اول قيام الدين خادم ، دويم ګل پاچا الفت او دريم عبدالروف بينوا دى ، دغه درى شاعران چې زما دليکنې په وخت کې ژوندي دي اولاهم د پښتولومړۍ درجه شاعران ګڼل کيږي. ما ددې دپاره غوره وګڼل چې يوهم مقلد نه دي ، او تريوه حده ځانله بيل بيل سبکونه لري ... له هغې وروسته الفت هم د ويښ زلميانو په ډله کې ورګډيږي او داسې اشعار لکه د« اعلحضرت حضورته »او « زما ګناه » « دنازميرمنې » له ۳۰کال څخه راوروسته دى اوتروروسته يې « دمونشن دسفريوه خاطره ) ده چې وايي : د هغواشعاروپه ډله کې دى، چې مونږ ورته دويمه برخه وايو او صلح کل ، ښکلاو هنراو دصلح نړۍ په کې راځي ، داهغه مرحله ده چې دالفت په جهانبينۍ کې ښکاره وسعت راځي ... تردغو دواړو پاس يادشوو شاعرانو بينوا زمونږ عصرته ډيررانږدي دى ، دبينوا په اشعارو کې مذهبي فکرما ونه ليد بلکې يوډول وطني او په عين حال شرقي انقلابي فکر دده په هرشعر کې تجلا کوي . دى هم د ويښو زلميانو په نهضت کې شامل و... » (۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپون همدازار داجمل ختک، غني خان او لايق ايجاديات يــې مطالعــه کــړي اوددغې کره کتنې په نتيجه کې يې ددغو شاعرانو په افکاروکې ښــه نوښــتي افکار هم موندلي اود هريوه په باب خپله نظريه وړاندې کړې ده ځکــه نــو يــو ځای دلايق او اجمل دشعرونو او افکــارو پــه بــاب ليکــي : « داجمــل او لايــق دشعرونو په منځ کې يو فرق دادی چې اجمل يوازې پښتانه يادوي ، اودخــاص پښتونخوا سره سروکار لري او لايق له بله پلوه داسې يوې ټولنې ته شــعروايي چې په هغو کې پاړسي وان ، هزاره ازبک اوتــرکمن پراتــه دي ،يعنــي دلايــق مخاطب داسې ټولنه ده چې په هغې کې له يوه نه زيات کلتوري واحدونه ژوند کوي ، سالنګ، چونغر، بدخشان او داسې نور شعرونه دلايق کلام ته يو وســيع شکل ورکوي اوداسې برينبي چې لايق تراجمله دډيرو سره غږيږي ... » (۱)

---

(۱) س.ش. پښتو معاصرشعرته يوه کتنه، کابل مجله (۷) ګڼه ، ۱۳۴۱ کال (۳۵) مخ.
(۲) همدغه مقاله (۱) ګڼه ۱۳۴۱ کال ، (۱۸) مخ

لنډه داچې پرشپون صاحب برسيره يــو شــمير نورليکــوال هــم وو چــې يــو شميرمقالې يې دکره کتنې په برخه کې دپاملرنې وړ وو ، ددغو ليکوالو مقــالې زياتره په زيري ، کابل ، کابل کلنۍ ، وږمه مجله ، ننګرهار مجله ، کندهار مجله ، پکتيا مجله (په دغو ټولو کې خپرونو کې يوازې کابل مجله ژونــدۍ ده دانــور ټولې يومهال خپريدې او له منځه لاړې ) اونوروخپرونوکې خپرې شــوې دي. د دويمې نمايې په کره کتنوکې يو شميرليکنې لکه د (چونغر ) سريزه ديوه ښــه تقريظ بيلګه بلله کيږي .
دادبي کره کتنې دژانروپه پراختياکې هم يو لړپرمختاوې ترسترګو کيږي ، مانا داچې دکره کتنې يو شميرژانرونو پردغه وخت کې وده کړې او يــو شــميرخو نوي هــم رامــنځ تــه شــوي دي لکــه انتقــادی مرکــه چــې دزيــرې او يــو شميرنوروخپرونو له لارې په دغه برخه کې ترسترګو کيــږي. د ۱۹۷۵او ۱۹۷۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلونو  په موده کې د زیرې جریدې اقتراحګانې چې پرهغه مهال دځـوان کـره کتونکي زلمي هیوادمل (*) په هلوځلو رامنځ ته شوې زمورږ دکـره کتنـې پـه تاریخ کې دیادولو وړ دي ، دا یوجالب بحث و چې نـامتو لیکوالـو لکـه علامـه حبیبی ، علامه رشاد ، پوهاند رشتین او نورو برخه په کـې واخیسـته اود یـو شمیر ادبي مسایلو په اړه که څه هم په ځینو برخـو کـې خـورا تونـد هـم وو انتقادي مقالې ولیکلې. په دغه بهیر کې دحبیب الله رفیع او هیواد مل نومونـه په ځانګړي توګه دیادونې وړدي. رفیع صاحب په دغـه زمـاني پیرکـې د یـو شمیرآثاروا دیوانو په خپرولو باندې کاروکړاوپرهغو باندې یې لیکنې اوهڅې د متني کره کتنې په برخه کې د یادونې وړدي .همداسې دڅه کم دریو لسیزو په اوږدو کې دهیوادمل هلې ځلې دپښتوادب دبډایی په برخه له یـاده نـه شـي وتلای ، دده یوشمیر لیکنې د وړمې مجلې او زیرې لـه لارې ډیـرې مهمـې او جالبې وې ، دده ترټولوفعاله برخه اخیستنه دزیرې دمسـوو لیـت پرمهـال وه چې دپښتوکره کتنې په کیفي او کمي وړتیا کې نه هیرودونکې دي.

په همدغو کالونوکې دوږمې مجلې کره کتنـې پـه تیـره بیـا د پوهانـد زیـار دمدیریت پرمهال ځانګړی انتقادي ارزښت درلود.زیارپردغه مهال پـه وږ مـه کې دکتاب پیژندنې یو جالب بحث ترلاس لاندې ونیو چې د هغه په ترڅ کې به پښتوخپاره شوي آثارپه ادبی او ژبنـې دواړو لحـاظو معرفـي اوارزول کیـدل. استاد زیار په دغه دوره کې د همیش خلیل پر (چارګل ) باندې کره کتنه کړې چې یوه برخه یې دلته را اخلو :

« لیکونکی ، همیش خلیل ، دخپروونکي دارالتصـنیف چاپخانـه ، منظورعـام پیښور (پریس)

دخپر یدو نیټه ۱۹۷۳ کال ، فبروری ، مخونه  (۱۱۶ ) کچه ۱۲. ۱۸ سم.

دهمیش دامثلیکی دځلورونه ، چې دنهوهمیشـه ګلونو(افسـانو) یـو ښـکلی جونګ دپښتونولی پتنګ اودخپلواکی لیوال لیکوال په دي لنډکو انځورونوکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دخپلوملي ځارځيلو هلو ځلو منډو ترړو ، دردونو، سوزونو، اوامرانو څو سپرغۍ رانغاړلې چې د ډيرو ډبرينو زړونو څخه لمبې پورته کوي ، او له ډيرو ليموڅخه دسرامنو اوښکوچينې بهوي، په دی توګه دغه لپاند انځور ګر څنګه ښــه نــور خپلې سوځندۍ نړۍ ته بيايی به غرو رغونو ، کوډلواوبنګلو اوبيا جيل په جيــل له ځان سره ګرزوي . له (اخري بس ) نه پرته چې له پرانسي نه پښــتو شــوی اودپښتنو غوندې په کلتوري ښکيلاک اخته « الزاسيانو» پورې اړه لــري نــورې اته واړه افسانې د پښتنې ځپلي چاپيريال زيږنده او انګازه ده چې ليکونکي په کې سترګې پرانيستې ، خاړپوځي کړي او بيايي د آزادۍ په مينه کې پرې سور اورګرځيدلی دی . ښاغلي هميش دخپلو افسانو پــه ليکنــه کــې ترډيرځايــه بريالي ښکاري ، په تيره بيا دپايلې په برخه کې چې په ډيــرو نيمکښــوخو پــه ډيره زړه را ښونکي توګه يې ځای پرځای پريږدي ، مګر په نورو انځورونــوکې يې لنډون او سپما له اندازې نه يو څخه زياتي کوي ، اوداســې بريښــې چــې د څرګندونې پوره بډايه ژبه نه لري ، اوغواړي تشه يي په هسې بيا پيښو اشعارو او تشبهاتو ډکه کړي ، که نه په افسانه کې تر ادبي فنکاريو ديوې نيمې څرمــه پيښې او ماجرا را ټومبل زيات راښکون پيداکوي ، دهمدې خبــرې لــه مخــې بيلګې په هرډول مګر د (مور) او (پښيماني ) دا خو تشې ادبي ټــوټې دي . کــه څه هم ليکونکي زيار ايستلی دی چې ګړدودي او ورځ چلند ژبه په کارواچوي ، مګر بياهم دمعياري ژبې تراغيز لاندې راغلی ، او ان تــردې چــې د اروپــايي ليکلار (سبک ) پيښې يې کړې دي. لکه دنيغې وينا په لينــديو کــې نيــول او ورپسې يې ويونکي ښوول « درخو په درخو ... دهغې مور ددې » ... دليک دود په برخه کې که څه هم ښاغلي هميش يو څه له ځانځاني لياري راوځــي مګــر بياهم پکې زړغي زړغي کيږي اوترګډوډيږي . دساري په توګه څانګه ، سانګه ، پاڅيدل ، پاسيدل ، نا څاپه ، نا ساپه ... بياهم که له دغــو پاســنيو ګــو تينونــو تيرشو، نور نو دګران هميش (چارګل ) چانــدې زر دی اودپښــتنې ښــکلا يــو

(c) ketabton.com: The Digital Library

قیمتي پسول ، څرنګه چې دا لیکنه یې ددغه دوِل مرغلرو لومړی بیلګه ده ، نو هیله ده چې په همدې بسیا پاتې نه شي ، او له دې لارې دپښتني شعور پــه را وینولو کې لا زیاته برخه واخلي . »(۱)

دافرادواو اشخاصو پرکارونو برسیره د لمریزې پیړۍ دځلوینښــتمو کــالونو لــه نیمايي را په دیخوا د افغانستان رادیو دهنراوادبیاتوبرخې هم دکره کتنــې پــه برخه کــې دپــاملرنې وړپروګرامونــه درلــودل ، دکلاسیکواومعاصروشــاعرانو پرشعرونواو ددغو بهیرونو دپیژندګلوي په برخه کې دېرکار هم پیل شو اوهــم يې دوام موند. ددغوپرګرامويه ترڅ کې نه یوازې زموږ ادبیات معرفــې کیــدل بلکه دنړۍ په ادبي شهکارونو باندې خبرې کیدې او دنظرخاوندانو نظریات بــه په کې ارزول کیدل. مانا ددغې برخې یادونه ځکه اړینه وه چــې دلتــه دیــوې اوږدې مودې لپاره یو شمیرلیکوالواو شاعرانو لکه بینــوا ، لایــق ، افغــانپور ، ژواک ،

---

(۱) زیار ، ورمه . (۱-۲) ګنه ، ۱۳۵۲کال (۱۷۸) مخ

سیلاب ، ننګ یوسفري ، حافظ ، خیبرې ، ملګري په راوروســته کــې ،لطیــف بهاند، کاتب پاخون، سنګروال، زرین انځور، نور مراد، ځیرک ، هیواد دوست او نورو هڅې او کره وره دیادوني وړوو.

او وروستي ادبي مرکز چې په دغه زماني پیرکې یې کارونه دنژدې یوې پیــړې په اوږدو کې دیادولو وړدي ، هغه دکابل پوهنتون دژبو اوادبیاتوپه جوړښت کې د پښتوخانګه ده ، چې له دغې لارې په زرګونو زده کونکي وروزل شول ، دغــه خانګه په لمریزحساب له دیرشمو کالو را په دیخوا دیوه فعال ادبــی او روزنیــز مرکز په توګه چې نومیالیو پوهانواو لیکوالویې هم داستادۍ او هم دشــاګردۍ ویاړ درلود خپل ملي او فرهنګی رسالت په خورا درنښت سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترسره کړ. ددغې ځانګې په درسي پروګرام کې له (۱۳۵۴) کال څخه راپدېخوا دکره کتنې ځانګړي مضمون دتدريس ډګر ته راووت چې دهغه له لارې به زده کونکي له انتقاد ، انتقادي نظرياتو اوعملي نقدونو څخه خبريدل او هغه به يې زده کول ، دغه موضوع هغه مهال ډيره مهمه اودپاملرنې وړ شوه چې په نويواوعصري ادبي مطالعاتو سمبال استادان چې لوړي زده کړې يې له هيواده دباندې ترسره کړې وې په تدريس پيل وکړ،په دغه برخه کې ديوشميراستادانولکه علامه رشاد،پوهاند رښتين،ډاکتر تړي، ډاکترګل محمد نورزي ، پښتون زوی، ډاکترزياراوډاکترزيور،ډاکترې زرغونې او نورو کارونه اوهلې ځلې د يادونې وړدي. په هرډول زه فکرکوم چې دابه سمه وي چې دغه اوږد بحث بياهم د شپون صاحب چې زموږپه معاصري کره کتنې کې يې ژبه اوقلم بې ساري دي او ډيرو دده له دغه سبک څخه فيض موندلي دی ، دلته يې « دپښتوادبي نثر » دکره کتنې وروستۍ برخه دبيلګې په توګه را واخلو چې له ښه مرغه په راوروسته کې زموږ نورو يارانو هم ترې تقليد وکړ:

« ... س ، ستاسو توصيه دنثرليکوالو ته څه ده ؟

۱- د ادبي ټوټې په ځای کيسه وليکۍ .

(۲) کيسه دلومړی لاس له تجربو څخه وليکئ نه دبل چا په تجربو .

(۳) واقعی تجربې که درنولي نه شئ ، نو لږ ترلږه يې تحريف مه کوئ ، په ماشوم دلويانو خبرې په بزګر د فيلسوف نظريي او بيان، په اوښ دلارې باری مه تپۍ (تحميلوئ ) .

(۴) کيسه په تيره زمانه کې وليکۍ ( داحمد کور ناست دی ) پرځای ( احمد کورکې ناست و) راوړل تاسو ته نوي نظر درکوي . او بيا نو مجبوريږئ چې دواقعيت خيال وساتئ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۵) له رنګینو الفاظو څخه د صحیح انځوراوتجسم په ګټه تیرشيځ ، که ستاسودکیسې عمومي هډونه یو خیال افاده کړې هماغه هنردی،البته دسم انځوردپاره په الفاظوکې دقت په کاردی .

(۶) دصفاتو په ځای سم استعمال ته هڅه وکړئ د (ښه سړي ) پرځای دده طبیعي ښه

سړیتوب ښکاره کړئ ، ښه سړی خو ستاسو حکم دی ، سړیتوب په واقعیت کې وښیئ ، چې لوستونکي ته حق ورکړي چې په خپله آفا قي قضاوت وکړي .

(۷) دکیسې په پای کې نتیجه په الفاظو کې مه اخلئ،بلکې کیسه داسي راولئ چې لوستونکي بي له دې چې هماغه یوه نتیجه ترې واخلي بله لار ونه لري.

دملګري په استدلال کې دبحث وړتکي ډیرشته ، خودده اخره خبره مې ډیره خوښه شوه ، چې ویل يې، داسې فکرمه کوئ چې زموږ محیط بې خونده دی ، او په زړه پورې پیښې په لیکلو وارزي نه لري ، زه په زغرده وایم چې زموږ په ټولنه کې پرله پسې په زړه پورې کیسې پیښیږي ، هغه تجربې چې زموږ خلک ورسره په اخ و ډب دي دهومر او شکسپیر دکیسو اتلوالـه شرموي. زموږ زخمونه زموږ د ژورو دردو په شان ژور ، زموږ همت زموږ دغرو په شان لوړ، زموږ طبعه زموږ دکانو او زوزانو په شان زموږ د شړی په شان زیړه دي. تش یو شي چې کمبود دی لیکوال دی چې له همدې خښتود ادبي شهکاري ماڼۍ جوړه کړي ، بیانو هیڅ دلیل نشته ،چې زموږ لیکوال دې په ادب کې د نوبل دجایزې تمه ونه لري . »(۱)

---

(۱) شریفه ، شریف ، (ټولونکې ) ، دژوند انځور ، پښتوټولنه کابل ، ۱۳۵۷ ، (۱۱۷) مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

« پولوستونکی کولای شي ، دليکوال کمزوری اثر په نظرکې ونه نيسي ،
خودهغه مضر اثرهيڅکله نه شي زغملای »  بيلنسکي

# څلورم څپرکی

## د انقلابي کره کتنې پيل

انقلاب په هره ټولنه کې دبنسټيزو اقتصادي، فرهنګي او سياسي بدلونو پيلامه دی.. زه په دې باوريم چې انقلاب او بدلون به زمونږ دټولنې د ټولنيز شعور ودې ته پاملرنه وکړي . ددغه بدلون اغيز په افغانستان له ۱۳۵۷ کال څخه راپديخوا د ادبياتو په برخه کې محسوس دی . له دغې نيتې را پــه ديخــوا دادبــي کــره کتنې نوې تګلاره دهغو هڅو لکه چې تردغه دمه مو په تيرو فصلو کــې يــادې کړې، مخ په وده شوه. همداده چې کــره کتنــې دادبيــاتو پــه ســمت ورکولــو اوپوهونې په برخه کې ځانګړې دريځ غوره کړی دی. زمونږ دهيواد دادبياتو پــه تاريخي وده کې ددغه پير کره کتنه ديوې ملي پديدې په توګه څيړل کيــدای او توضيح کيدای شي . دتعهد او پيغام مسالې په دغه عصــرکې دکــره کتنــې شمله په پښتوادبي بهيرکې نوره هم جګه کړه . دليکوالو اتحاديې دکره کتنــې برخې داوښتيا پير دکره کتنې دسازمان ورکونکي ارګان په توګه کره کتنې ته دملي ادبياتو د ودې اوپرمختګ په څنګ کې د مختلفو ډولونوپه څيره کې پــه سازمان ورکولو باندې لاس پورې کړاو د همدې اوښتې يا انقلابي کره کتنې پــه لور نوې هڅې پيل شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په تیرو څپرکو کې موږ دکره کتنې پر بهیرباندې رڼا واچوله ، هغه آثـار او کـره کتنې چې په دغه بهیرکې رامنځته شوې، بیاهم په مجموع کـې هغـه آثـار او افکار دي چې دتیرو کره کتنو تراغیزو لاندې رامنځ ته شوې او دهغو تیروکـره کونو تاثیرات او لړی له ورایه په کې څرګندیږي. نوځکه یې کـره کتنـه هـم یوازې دیوه نیم لیکوال له آثارو پرته ډیره لږ په زړه پورې بریښي . داځکه چې له یوې خوا عمومي بدلون ډیربطی دی او له بلې خـوا دآثـارو دتبـادلې اصـل دنړی اوهمداشان دکوزې او برې پښتونخوا ترمنځ ډیرکمزوری دی ، چې طبعـآ دغه کمزورتیا په خپل وار دادبي ایجادیاتو په بهیرونو کې ډیرمهم او آن داچې کله کله ټاکونکي هم وي . دلر او بر پښتو ادبي بهیـر تـرمنځ اړیکـي دپښـتو معاصرادبي بهیر د ودې ټاکونکی اصل ګڼل کیږي. نن سبا په لرو ادبیاتو کې بل ډول روح هنري ځلا کوي اود ادب پوهنې دمختلفو څانګو د ودې پـه لاره کـې رغنده او اوچت ګام پورته کوي. چې دا ګام اخیستل زموږ له اوښـتي پیرسـره په یوه وخت کې ترډیره حده سبکي او زماني ورته والی لري او په یوه ډول وده ورسره کوي. خکه نو دلرو ادبیاتو په بهیرکې هم ژوندی کره کتنې ځای نیولي دی چې علت یې هم دمعاصروهنري ادبیاتو په څپاند ماناوي اوجولیز جوړښت کې لټولای شو.

هو، پرپورتنیوځانګړو برسیره باید داهم ووایو چې له اوښتون څخه راوروسته هم په لرو او هم برو کره کتنوکې دغه بهیر دنویو نړیوالومطالعاتو پـه رڼـاکې د نویو څیړنو اونویو ژباړو له لارې دودتیا او وړتیا مومي ، په دغه انتقادي بهیرکې یو نوی حرکت دنوې ادبی تیورې او نویو ادبي مطالعاتو په پایله کې رامـنځ تـه کیږي ، په دغه باره کې په علمي او عملي توګه یو شمیرلیکوال اوادیبـان لاس په کارشوي او د کره ناکره آثارو په پیژندلو او تشخیص کولو کـې یـې خپلـې هڅې رواني ساتلې دي ، په دغه دوره کې د نړیوالو ادبي مکتبونـواو تیوریوپـه رڼاکې ګامونه پورته شوي ، دیوه ادبي اثر په پیژندنه کې د ښه او بد لـه پـولې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورهغه خوا هم د منطق او دليل له عمليې څخه کاراخيستل شوي او کره کتنې ته هم له پراګماتستی دريځې څخه زيات کتل شــوي دي . ددغــه پيــر دکــره کتنې يو ځوان ليکوال ديونقاد او کره کتونکي په اړه ليکي چې : « خــورا ښــه منتقد هغه څوک دی چې ليکوال او دهغه اثر په مينه اوښه نظر ګــوري او پــه هرډول له هغه اثرسره مينه لري. مخکښ منتقيد له دوو پلوو نه بايد دليکــوال ښوونکی او لارښود واوسي . لومړی هغه بايد ځوانو ليکوالو په تيــره بيــا هغــو ليکوالو ته چې احتمالاً د تيروتنې سبب کيږي لارښونه وکړي ، ډيرکسان وايي او په دې عقيده دي چې دبيلنسکي په شان وګړو ته اړتيــا نــه لــرو ... دويــم مخکښ منتقد بايد په خپل ټولنيز مفهوم سره دليکوال په وړاندې دښــوونکي نقش ولري . غيرپرولترې ليکوال چې دټولنيز برداشــت لــه خــوا لا خــام وي ، دخپل دوران او ټولنيز ژوند په باب دناسمو عقايدو په سبب دځينــو تيروتنــو سبب کيږي ، اما داتيروتنې يوازې او يوازې دوی نه کوي او د کارګري طبقــي ليکوال هم کيدای شي دا تيروتنې وکړي ، داخبرې دليکــوال غندنــه نــه ده ، بلکي په اصل کې يوډول ستاينه ده. هنرمندان دټــولنې حســاس وګــړي دي اودټولنيزو واقعيتونو داغيزې لپاره تل چمتو دي ، داخبره هم بايد وکړو چــې ليکوال اکثراً علمي تفکر او مجددو مفاهيمو سره په دې برخه کې مينه نه لري ، اونه په دې برخه کې کوم خاص استعداد لري. » (۱) د پورتنۍ ميتود لوژۍ په رڼاکې کولای شو هغه توکونه په خپلو آثارو کې ومومو چې دپورتنې اصل ســره برابروي ، ددغه اصل د لاځرګندونې په خاطر لازمه ده په دغــه پيرکــې دلــرو ليکوالو په تقريظ باندې چې بيلګې يې له موږ سره شته ، دلته په لنډه توګه رڼا واچوو.

دکره کتنې د خصلت او طبعيت له مخې دغه علم ځانګړي اصول ، اوځــانګړي ژانرونه لري، چې يو هم په کې تقريظ دی . تقريظ په ادبــي کــره کتنــه کــې دهنراو ادبي آثارو دلنډې پيژندګلوی په زړه پورې ډول يا ژانردي ، زمــوږ پــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ادبياتو کې دغه کره کونکي ژانر زيـاتره د ادبــي آثـارو او ايجـادي پديـدو د ستاينې لمنې ته لويدلي دی، په تيره بيا له دغه علمي اواهم ډول څخه پـه دې وروستيو کلونو کې حتې دعلمي ترفيعاتو په ترڅ کـې (هغـه هـم پـه علمـي موسسوکې ) ډيره ناوړه ګټه اخيستل شوې ، په دې مانا چـې لـه دغـه ژانـره يوازې دستاينې لپاره کار اخيستل شوي، په دغو تقريظونو کې داثرد جـوهراو ارزښت په باره کې څه نه ليدل کيږي ، همداده چې دغو ستاينو دمعاصرې کره کتنې پردغه ژانر باندې منفي اغيزه کړې ده . داسمه ده چې يولړ په زړه پورې کره کتنې په دغه برخه کې هم دپـاملرنې وړدي اوهــم پـه دغـه برخـه کـې ترسترګو کيږي ، چې هغه هم په لږو کې راځي . په پښتونخوا کـې دغـه ژانـر ډيره ښه وده کړې ده ، ماناداچې دتقريظ ليکوال په دې پوهيږي چې له دغـه ژانرڅخه د يوې ادبي پديدې دپيژندلو په برخه کې په هغـه شـان چــې وړده کارواخلي او يوشميرتقريظونه په علمي اصولو برابر ليکل شوي دي ، موږ دلته دوه تقريظونه چې يو دسائل پرشعرې جونګ ( دلمبو پــه ســورې ) دســعدالله جان برق اوبل پر(خوشال فرهنګ ) باندې د قلندرمومند تقريظونه دي راځيږو .

دلمبو په سورې، هغه شعري جونګ دی چې دپښتونخوا په ادبياتو په تيره بيـا دشعرپه ځلاند بهيرکې خوږ ژبي شاعر رحمت شاه سـائل ويلـي دی . پردغـه اثرباندې ليکل شوي تقريظ دکره کونې پـه لحـاظ پـر دوو اساســي څيزونــو راڅرخي چې يويې شاعر او بل دهغه هنردی . خو له دې سره بايد دا وواېو چې ترليکوال هم زيات دهغه هنر ته وقف شوی دی ، دسائل دژونـد پـه اړه چــې هرڅه ويل شوي ، هغه بې لامله او بې دليله نه دي ، په تقريظ کـې هـم لويـه ځانګړنه هم داده چې ليکونکی يې بايد داثرپه اړه په خپله له هغو دلايلـو کـار واخلي چې په دغه اثرکې ترسترګوکيږي . دسائل ددغــه اثردتقــريظ ليکــوال ليکي : «سائل زما په خيال(اودې خيال کې ډيره دنيا ماسره اتفاق لـري ) کــې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه شاعردی چې د ژوندي پاتې کيدو دپاره دی ، دورکيدو، هيريدلو اوفنا کيدلو دپاره نه دی .

زما ذهن دمرګ نه دی نه به مړشي دومره ده چې داوختونه به يې شل کړي

په سائل غريب باندې هم وختونو ښې لوبې وکړې چې څه يې زده وو هغه يې تمام کړي خوکوم چې يې پرې بائيلواصل کې داوخت لکه دهرظالم وخت بې شرمه هم دی اوبې وقوف هم، ښه ورته پته ده چې ددنيا ابتدا يزيد لګيا دی حسين وژني خو چې څومره يې وژني نو حسين دومره ژوندی کيږي اويزيد مړ

(۱) لطيف بهاند ، (ژباړه دمخکښ ادبي نقد په باره کې ) زيری ، (۲-۳ ) ګڼه ۱۳۶۳ کال.

کيږي ... (۱)

بل ځای همدغه ليکوال په دغه اړه خپلو خبرو ته دوام ورکوي :

« دسائل آواز او شعر چې خپلوکې سره دومره لازم او ملزوم دي ، نودهغې هم وجه ده . دده په شعرکې چې دوخت د زړه چاودون ، دردونو، ازمانو نو اوحسرتونو کوم زبيرګی دی ، دده اواز قطعی داسې ښکاري لکه چې دهغې صوتي شکل و، لکه څه رنګ يې چې دشعرونو نه وينې ښاخي ، دغسې يې د آواز نه هم وينې ښاخي اودا ځکه چې ددغه دواړو سرچينه يعنې دسائل فکر هم په وينو الواني دي . سائل چې په ترنم خپل کلام وايې نوزه اکثرداسې محسوسوم لکه چې دده په زړه کې چا خنجرښخ کړي دی او هرڅه ترې نه زخمي زخمي راوزي :

وړې مې د روح جنازه چرته دخندا پراوړو
په وينوسره دې ترې شينکی شينکي خالونه نه شي (۲)

نوموړی ليکوال په همدغه تقريظ کې د سائل دغزل په اړه ليکي :

(c) ketabton.com: The Digital Library

« پښتو غزل ته دشلمې صدۍ ددې اخرې دور صحيح نماينده غزل ويلي شو ، او بيا دشلمې صدۍ ددغه غزل نماينده شاعر زما په خيال کې رحمت شاه سائل دی . دزلف اورخسار خبرې چې کوي نو په لاشعورکې يې دتيرې او رنړا احساس هم موجود وي ، چې دګل خبره کوي نو دازغي ازغي ماحول په حواله يې کوي ، دسائل غزل دپښتو دناوې نکريزې دی، خودا نکريزې په اسانه نه دي راغلې چې دده فکر اواحساس ټکيدلی دی ، اوړه شوې دی ، په اوښکو لوند شوی دی . اغږلی شوی دی ، نو هله ترې دا دومره ښايسته رنګ راوتی دی . ددې ښايسته رنګ يوه نمونه :

په تسنو وسنو سپورو زلفوکې دی سره ګلونه
دچا مزارته د زول په شپه ډيوې بلې کړې (۳)

لکه چې پخوامې هم ويلي وو د برق په تقريظ کې د يوعلمي او انتقادي تقريظ نښې نښانې په هراړخيزه توګه ترسترګوکيږي ، که چيرې زموږ پښتو کره کتونکي او يا په بله مانا پرادبی آثارو باندې تقريظ ليکونکي همدغه تګلاره په دغه برخه کې له نظره ونه غورځوي زه فکرکوم چې په دغه انتقادي دود سره به مو دتقريظ ليکنې حق په سمه توګه ور ادا کړي وي. ځکه زه خو په دې نظريم چې په تقريظ کې ددې پرځای چې په عمومي او تيوريکي مسايلو باندې خبرې وکړو ، ښه به داوه چې تقريظ دټاکلي اثر ماهيت ، ارزښت او اهميت ته ونډه کړو . لکه چې ما په پيل کې اشاره وکړه چې زموږ ستونزه په دغه برخه کې دانه ده چې څنګه تقريظ وليکو ، بلکې ستونزه په دې کې ده چې زموږ پښتو ادبی مرکزونه لکه کابل ، جلال آباد ، کويټه ، پيښور کندهار له يوه بل سره په رابطه کې نه دي او موږ د يوه اوبل له کارونو څخه ناخبره يو. په لرو ادبی ليکنو کې د عصر دادبياتو روح چليږي ، زموږ دابرخه له ټولې نړۍ او دنړۍ له ادبي جريانونو سره په تماس کې ده ، همداده چې زموږ هم زياته تمه ترې کيږي. له بله پلوه داهم بايد ومنو چې دا کار دپښتنو ليکوالو په دوامدارو

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغو پورې زياته اړه لري ، دلته موږ داسې کره کتونکي لکه قلندرمومنـد لـرو چې دکره کتنې په برخه کې دده هڅې اويو لړعصري اونوي کارونه، هغـه څـه دي چې مورډ کره کتنې په برخه کې له نړيوال ادبي بهيرڅخه خبروي . دی په دغه برخه کې دستورې ځاى اوحثيت لري ، هغه چې دکره کتنې په برخه کـې همدا اوس ژوندی او روزونکي قلم خو ځوي، پر (خوشال فرهنګ ) بانـدې يـې په زړه پورې تقريظ ليکلی چې يوه برخه يې دلته له خپلې موضوع سره په تړاو کې را اخلو: « دافرهنګ صرف په هغوتوريو مشتمل دی چې پـه کليـات کـې راغلي دي، دخوشال بابا ډيرناوياته توري دهغوی په نورو تاليفاتوکې هم شـته خدای پاک د مغموم صاحب او ځلمي کول نورو ملګرو لره

---

(۱) رحمت شاه سائل ، دلمبو په سوري ، پيښور ، ۱۹۸۵ کال (۶) مخ
(۲) همدغه اثر (۸) مخ .
(۳) همدغه اثر (۱۰) مخ .

توفيق ورکړي چې هغوی دخوشال بابـا دمکمـل فرهنـګ دترتيبولوکـار پـه کاميابۍ ترسره ورسوي او داکارترهغه وخته جاري وساتي ترڅـو چـې زمـوږ دټولو کلاسيکو ليکونکو ژبه موږ ته واضحه او صفا شوې نه ده . »(۱)
او راځو بيرته افغانستان ته، هلته چې دتحول د رسـالت دنـده ور دغـاړې ده اودهغې پربنسټ خپله دنده پرمخ بيايي . په افغانستان کې د پښـتوادبی کـره کتنې دبهيردوه اړخه ديادولو وړدي ، يو داچې په دغه بهيرکې دتيرو کره کتنو دود ته وده ورکړه شوې او بل داچې دغې ادبي پديدې ته په يوه ټاکلي سـازما ن ( ليکوالو اتحاديه ) له لارې د يوې مودې لپـاره د ودې لار پرانيسـتل شـوه چې زموږ زياتی خبرې هم کيدای شي پردغه دويم تکـي بانـدې راوڅرخـي . دليکوالو داتحاديي په جوړښت کې يوه څانګه دکره کتنې پـه نامـه پـه ۱۳۶۰ کال کې رامنځ ته شوه . ددغې څانګې مهم اهداف يوازې زمـوږ دپښـتواودري

(c) ketabton.com: The Digital Library

ادبیاتو دکره کتنې دمختلفو ژانرونو وده وه چې په دغه برخه کې یې یو لړ انتقادي هلې ځلې هم وکړې . په دي مانا چې ددغې ځانګړې څانګې له خوا دکره کتنې د ودې لپاره دملي سیمنارو په سویه پوهان اوکره کتونکي دې ته وګمارل شول چې باید دمعاصرې کره کتنې دسمت ټاکلو روښانه لرلید وټاکي .
یا په بله مانا تصمیم داسې و چې کره کتنه باید دادبي بهیر په برخه کې دیوې اړتیا په توګه خلکو ، لیکوالواو شاعرانو ته ور وپیژندل شي . چې په دغه برخه کې د ژوندون مجلې دوو ځانګړو ادیشنو ( پښتواودري )خپل رسالت ترسره کړ. زیات شمیر انتقادی مقالې دهغو له لارې دپښتو کره کتنې په برخه کې خپرې شوې . همداسې کله چې د لیکوالو اتحادیې او په تیره بیا دکره کتنې پربهیرباندې خبرې کوو ، ښه به داوې چې یوځه پرهغو لیکنو باندې رڼا واچوو ، هغه چې زموږ د فني او غیرفني (مسلکي او غیرمسلکي ) لیکوالو له خوا لیکل شوې دي.
د ژوندون مجلې دکره کتنوپه لړکې ترټولو دمخه زموږ مخ ته هغه کره کتنه راجوتیږي چې زموږ دنامتو کره کتونکي استاد روهي (*) له خوا د امین افغانپور پر (دبنګوبوټي ) نومې کیسه باندې لیکل شوېده . روهي ددغې کیسې په اړه دیوې عملي کره کتنې په ترڅ کې لیکي : « ... د بنګو بوټي په داستان کې واقعیت ښه ښکلي اوپه ایستیتکي بڼه تمثیل شوی دی، عواطف ، تخیل ، اندیښنه ، روحیاتي حالات ، حافظه، ټول په هنرمندانه توګه په داستان کې په اورګانیک ډول سره ترکیب شوي دي ، په دغه داستان کې بدیعي یاهنري خصوصیات ډیربارز او څرګند دی . د داستان عبارت ښکلی ، روان او دتشبهاتو او نازکو خیالونو له پلوه غني دی. لیکوال د صحنو په توصیف کې لوی لاس لري اجازه راکړئ چې دمثال په توګه د (بنګړې ) دنځا او ښکلا تابلو یوځل بیا له نظره تیره کړو : چې هروار به هغه نځیدله ، هیڅوک به نه پوهیدل چې ژر یې دځه شي او کومې ښکلا ستاینه او صفت وکړي . دخواږه آواز،

(c) ketabton.com: The Digital Library

دصافي مرى او جګي غاړي ، دتورو اوږدو زلفو او کړو وروځو اوکه دِغټوبادامي سترګواو سرو له شاتو ډکو شونډو اوکه دمرغلرې په ځيرغاښونو اوبالاخره دنرى او لښتي په شان ملا ... او داټول شيان وو چي له مزدور او بزګر سمندر بلکي ډم سمندر چې هرچا يې په مجلس کې دکيناستو هيله درلوده دښار ...

زموږ يو شميرداستان ليکونکي کله کله د ډيالوګ په برخه کې مصنوعي ژبه کاروي، خو په دى داستان کې د ډيالوګ ژبه طبعي ده اودکرکتر له سويې اوحرفى سره عياره شوې ده . د داستان ژبه که څه هم په عمده توګه معياري ده خو دمحلي لهجې تاثير په کې له ورايه ښکند دى.

---

( ۱) يارمحمد مغموم ، دخوشال فرهنګ ، پښاور ۱۹۸۵ کال (۷) مخ .

(٭) زما په نظر استاد روهي دافغانستان په اوسني کره کونکي ډګر دبيل دريځ اونظر خاوند کره کتونکى دى. ځکه موږ په افغانستان داسې کره کتونکي چې دهغو مسلکي او تخصصى برخه د يوازې کره کتنه وي، نه په دري اونه په پښتوژبو کې درلودل، په تيره داسې چې هغوى د په لويديزو زده کړو اوتجربو سمبال وي. دى په معاصرو پښتو ليکوالو دکره کتنې په برخه کې هغه ليکوال دى چې دده د هڅو په برکت مو دنوې کره کتنې له ميتودونو او په تيربيا دعملي کره کتنې له اصولو سره آشنا شو ، ځکه نو زه ده ته د هغه دميتود له مخې عالم کره کتونکي يا نقاد وايم . دعالم اوهنرمند نقاد ترمنځ لوى توپير همدا دي چې دعالم کره کتنه په ثابتواصولو اواستدلالونه باندې ولاړه وي .

دداستان جوړونکي عناصر لکه زمان، کرکټرونه ، پيښې اوحوادث خبرې اترې ، توصيف، او روايت په بشپړه توګه مراعات شوى دى. اما سره له دې سرې نه شي کولاى د (بنګړي) له سرنوشت سره بې علاقي پاتې شي . موږ ګورو چې دغه ښکلې ډمه يو وخت ( دسمندرسپيلنى وه اوخپل ټول ژوند يې دسمندر دپښو خاورې ګرځولې و... ) بيا بنګړه ورکه شوه او ورپسې دلاتو بچې سندرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

تــه ګډيدلــه ، دداســتان پــه وروســتۍ برخــه کــې ګــورو چــې (بنګــړه ) دسمندرپوښتنې ته روغتون ته راغلې ده خودا ځل هغه بدرنګــه او خيرنــه ده ،آيا په وروستۍ شيبه کې (بنګړه ) په رښتيا سمندر استاد تــه لاس پــه نامــه ولاړه ده اوکه داخيال و؟ که خيال نه و نود (بنګړې ) لاســونه څنګــه دخيــرو يوې پيرړې پردې اوچاودو پوښلي وو. داکوم احساس يا کومه انګيزه وه چــې ( بنګړه ) يې د سمندر استاد پوښتنې ته وهڅوله ؟ زماپه فکر دابرخه څــه تتــه ده . که روغتون ته دبنګړې راتګ يو خيال و، نو بيا دا عبارت څه مانــا لــري « چې ښې يې سترګې وغړولې اوبيايي پاکې کړې (بنګړه ) يي په تورتيکرې کې مخې ته ولاړه وه ، داديره نه وه ، دا د روغتون کوټه وه » او ورپســې حــوادث (بنګړه ) له خيال نه دواقعيت ډګر ته راباسي . داســمه ده چــې د (بنګــړه) د داستان فرعي کرکتر دی خود هغې په کړو وړو کې ډراماتيک بدلون هرو مــرو په ذهن کې پوښتنې راولاړوي او ليکوال بايد دلوستونکو يا اوريدونکو توقعاتو ته پيشبين وي.

نتيجه : داستان دبديعي يا هنري خصوصــياتو اوتکتيکــي اړخونــو لــه پلــوه معيارونه پوره کړي دي، اما دمفکورې په لحاظ لوستونکي يــا اوريــدونکي لــه پوښتنوسره مخامخ کيږي . که اصلی مفکوره د بنګو بوټي نه وي نو بايــد چــې عنوان ته تغيرورکړ شي ، که هدف د هنرمند دبي قدرۍ او ســپکاوي تشــريح وي نوښايي چې دابرخه انلارج شي او د اوج ټکي همدغه ځای ته رانقل شــي. » (۱)

ددغې کره کتنې دهراړخيزې لوستنې په پايله او دکره کتنې د آرونو پــه پــام کې نيولو سره دی نتيجې ته رسيږو چې روهي هرڅه وايی دهغــو روزنيــراړخ ډيرپياوړي اومهم دی ، ځکه چې هغه دهرهنري اثر دکره کولوپه ترڅ کې لکه زموږددغه يو شميرپه نامه ليکونکی او کره کونکي د ليکوال ســترګو تــه نــه ګوري بلکی دهغه له هنراو د هغه د ايجاد له پروسې سره سروکار لــري. چــې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دده دغه دریځ موږ ته دی یولوی اومهم افغاني کره کتونکي په توګه رموږ مخې ته دروي. استاد روهي دا ډول زیات شمیر کره کتنې د کابـل مجلــې ، زیــري جریدې ، او ژوندون مجلې له لارې زموږ په واک کې راکړې . برســیره پــردې استاد روهي په پښتومعاصره کره کتنه کې د (انتقادي مرکې ) لـه بنســټوالو څخه هم دی . دغه ژانر دځپل ماهیت له مخې دادبي پدیدو دماهیت دپیژندلو په برخه کې یو اغیزناک ژانردی چې یو شمیر بیلګې یي په بیلابیلو وختو کې د زیري جریدې له لارې خپرې شــوې دي ، ددې لپــاره چــې د اســتاد روهــي پرانتقادي مقالو برسیره مو دهغه دغه جالب ژانر هم لوستی وي یوه بیلګی یې له زیرې جریدې څخه دلته له ګرانو لوستونکو سره شریکوو .

« زرګ : څو ورځې مخکې مې استاذ په لاره کــې ولیــد ، مــا ورتــه وویــل : استاذه ، زه چې ستا خوندورې علمي مقالې لولم نو دلیکــوالی شــوق را ســره پیداشي ، کله کله خپل سر په سوک وهم چې شپه ورځ مطالعه کوم خــو یــوه مقاله هم نه شم لیکلې ، تا سو لطفاً مشوره راکړئ چې خپله لومړی مقاله دڅه شي په باره کې ولیکم. استاد بې اختیاره له خنــدا شــین شــو او یــوه شــیبه وروسته یې په متې خواری خپله خندا کنترول کړه . دټوکې په لهجه یې وویل : داستاخبره دې ته پاتې کیږي چې ووایې ډیروږی یم خو لطفاً مشوره راکــړئ چې څه شی خورم ؟

زه نه پوهیږم چې تاته کومه غذا خوند درکوي ، اوکه په دې وپوهیږم نو بیا لــه جیبه نه یم خبر ، که رښتیا

---

(۱) سرمحقق روهي ، ( دبنګو بوټي داستان ته یوه کتنــه ) ژونــدون ۱۳۶۲ کــال (۵-۶) ګڼــه (۹۲) مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

درته ووایم داستاد په ټوکه کې مې صمیمیت او زړه سوی ونه لید لو چپ پاتې شوم او څو دقیقې وروسته مې په مخه ښه ورته وویل :

سنک :کله چې د لیکوالۍ خبره رامنځ ته شي ، نوماتــه د (جــارج برناردشــاو) ټوکه رایاده شي، وایی چې یو

یومبتدی لیکوال خپله مقاله (برناردشاو) ته وښوده ، برنارد شاو دمقالې له لــو ستلو وروسته لیکوال ته مشوره ورکړه ، چې دغه مقالــه دې لــه ځــان ســره وساته اوهغه وخت یې خپره کړه چې دلیکوال په توګه پیژندل شوی ہی اوښــه شهرت دې پیدا کړی وي.

زرک : زه هم له همدې سببه هڅه کوم چې لومړی مقاله مــې ډیــره ښــه وي ،یوځلې چې شهرت پیداکړم بیا نو د ورځپاڼو ا و مجلو چلونکي مضمون ته نــه ګوري بلکی لیکونکی ته ګوري . ارزان او مبتذل موضــوعات خوډیرزیــات دي اوهغه دچا خبره ( په موضوعاتو یې پټي کرلي دینه ! ) ځینې لیکوال چې فقــط دحق الزحمې دپاره لیکنې کوي په ډیرو عــامو او ســاده موضــوعګانو بانــدې لیکنې لري اود څیړنې نوم هم وربانــدې ږدي ، لکــه پســرلی ، دشــاعرانو پــه نظرکې ، توره او میړانه په پښتوادب کې ، ادبیات دټــولنې پــه خــدمت کــې ، دښځې مقام ، دمورمقام ، دعلم اهمیت ، ښه کوئ بدمه کوئ ، اوداســې نــور » (۱)

استاد چې کوم څه دخپلو انتقادي افکارو په ترخ کې وړانــدې کــوي ، هغــه د لیکوال او ایجادګر دقریحې هڅونــه ده چــې هغــې تــه پــه ځــانګړې علمــي اومنطقي درک سره وده ورکوي اوتګلوری یې ورته ټــاکي ، روهــی تــه هرچــا درناوي کاوه ،ځکه چې هغه په خپل ادبی اوځاني ژوند کې دچا خبــره بالفعــل اوبالقوه یو ښونکي و، هغه خپل قلم دادبي جهاد لپاره و کاراوه او غــه ټکــی ده هم عملاّ په پښتو ژبه اوادب کې له پامه ونه یوست لکه چې بلنسکي ګوګول ته په خپل یوه لیک کې لیکې وه :

(c) ketabton.com: The Digital Library

« ... زمونږ لپاره دشاعر، اديب ، او ليکوال نوم دهرجنرال اومنصــبدار دالقــابو او درشيونه لوړدی . همدا دليل دی چې که شاعراو اديب د زيــات لــوړ هنــری استعداد خاوند هم وي ، ولی لږ مترقــي وي ، ټولنــه هغــه تــه احتــرام کــوي اودشهرت خاوند کيږي ،اما که شاعر، اديــب او ليکــوال د دربــار، حکومــت او کليسا ستاينې پيل کړي ، نو ګټلی شهرت ډير زر له لاسه ورکوي ، دمثال پــه توګه ډيره ښه نمونه پوشکين کيدای شي . » (۲)

او استاد روهي ديوه رښتينې اديب اوکــره کتــونکي ټــولې علمــي ځــانګړنې درلودې ، دده زياتر ه ليکنې په (ادبي څيړنې ) نومې کتاب کې راغلي دي ، پــه دغه ترڅ کې دده يوه ليکنه چې « په ادبی کره کتنه کې د ولــې ؟ څــومره او څنګه » پوښتنو ته ځوابو نه دي په ځانګړې توګه ديادونې وړ ده .

په افغانستان کې دکره کتنې په برخه کې د نوميالی ليکوال ابــراهيم عطــايی ليکنې هم ديادونې وړدي ، عطايی صاحب ، دليک او ليکوالی له مخې زمــا پــه نظر په تاريخ ليکونکو کې راځي ، ادبی او انتقادي ليکنې يې ددغه مسلک پــه اندښول په دويمه برخه کې دي ، خوداچې يو شمير ليکنې يې په دغه دوره کــې له مونږ سره شته ، همداده چې دهغو له مخې دی له مونږ سره دبحث دموضــوع په توګه ديادونې وړدی . لکه ما يادونــه وکــړه ، دی يــو ښــه فولکوريســت او دټولنيزو ليکنو په برخه کې هم لوی لاس لري ، همداده چې زمــونږ لپــاره دده هراړخيز والی دا اجازه نه راکوي چې ده ته بايد يوه څانګــه ، يــو تګلــوری او يورشته په ګوته کړو ، ده هم له پورتنيو ليکوالــو ســره پــه يــوه وخــت کــې پر يوشمير پښتو ايجادياتو باندې ليکنې کړي چې دهغو له مخې مونږ دی د کره کتنې په معاصر بهيرکې را داخلوو ، ده برسيره پردې چې پښــتوادبی آثــاريی نقد کړي ، پر يو شمير باندنيو آثارويې هم نقدونه اوانتقادي کتنې کړې دي چې په دغه برخه کې يې دا لاندې کره کتنې په ځانګړي توګه ديادونې وړدي لکه : دامانت پرناول کره کتنه ، دمامونی پرناول کره کتنه او دامانت لــه نــاول ســره

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهغه مقایسه ، دتربور پرډرامه کره کتنه ،رحمان کورونـه ، د ارهــټ منګــوټی چورلي ... اوداسې نور ، په همدې توګه عطايي صــاحب پريــو شــمير بانـدنيو داستانو هم کره کتنې کړې دي. چې جنګ او ســوله ، د رابنســن کـروز ادبــي داستان او نور په دغه ډله کې راځي . ترکومه ځایــه چــې ماتــه ښــکاره شــوه پرخارجی ناولونو باندې کره کتنه یې یوازې دیوې معرفۍ په کچه کولای شــي لوستونکي ته معلومات ورکړي.د رابنسن کروزو د ناول په معرفي کې دغه ټکی مورِ ته څرګندېږي ، دلیکنې پیل یې یوه مقایسوي

---

(۱) زيري (اوونيزه) (۳۲- ۳۳) ګڼه . ۱۳۶۴ کال (۱) مخ

(۲) بلنسکي ، ګوګول ته ليک ، دنورزې ژباړه ، ژوندون. ۱۳۶۳ کال ، (۵-۶) ګڼه (۴۹) مخ .

خېړنه ده ، چي له سرلیک سره خپل ارتباط په کمزورې توګه ســاتي ، کیـدای شي په دغه اړه داخبره وکړو داچي لیکوال له خارجي ژبو او په تیره بیا د ناول له اصلي ژبې څخه لرې و ، ځکه نو نه دی توانیدلی هغه څه چي مورِ لــه خپــل یوه لوی لیکوال څخه تمه درلوده ، زمورِ په واک کې راکړي. په هرډول دعطایي صاحب کره کتنې دخپل اهمیت لرونکې دي دی دخپلې دغې کره کتنــې پــه پيل کې ليکي : « له دغسې داستانوڅخه يــوهم د اوولســمي پيــړۍ دمعــروف انګليسي ليکوال دانيل دفو رابنســن کــروزو دی چــې نړيــوال شــهرت لـري اودټولنپوهنې ډيرو خيړنکو ددغه داستان په هنــداره کــې دانســان دټــولنيز تکامل مضمون خيړلی دی، او داهغه لومړنی اثردی چې مضمون يې دلرغــوني يونان دمعروف داستان (اوډيسې ) سره مقايســه کيــږي . رانســن کــرو زو د اوديسې د داستان قهرمان اوډيســوس پــه شــان يــو بيړيــوان دی چــې پــه سمندرکې يې بيړۍ په ختوننوزې اودی ټاپو ته ځي ... » او دليکنې په پای کې بيا ليکي : « دا داستان دنړۍ په ډيرو ژبو ژباړل شوی دی ، اود ادبياتو خيړونکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ويلي دی چې دحکايتي فورم ادبياتو په چوکاټ کې دا داستان يو مکمل نــاول دی . داپه دي مانا چې په هغه کې عيني واقعيتونه د ذهنی جرياناتو تابع شوي نه دي اودتاريخ دقانونمندۍ د اصولو په مراعات ماجراوې په کې ځــای شــوې دي. »(۱)

کله چې د ددغو آثارو په اړه دعطايی صاحب ليکنې لولو، هغه موږ ته يوه انتباه داسې راکوي چې داډول آثاردنړيوالو شهکارونه په لړکې راځي ، همداده چــې په ډيرو وختوکې لويديز کره کتنونکي هم په دي نه دی توانيدلی چــې دهغــو جزيات بايد دخپلو لوستونکوپه واک کې ورکړي ، له بله پلوه يوه بله داهــم ده چې ژوند روان دی ، دا آثار د هرې ورځې په تيريدو سره په نوي پوهه او نــوې ليد سره لوستل کيږي، شنل کيږی او هغه رازونه چــې پــه کــې دي ورو ورو را سپړل کيږي ، دلويديز زياتره داستانو نه د داستان ليکنې په لوړو مهــارتونواو هنري نوښتونوسره ليکل شوي آو داوډون ډول يې هم کله کله خپله پيچلتيــا لري ، له بلې خوا دا خبره هم ده چې ژور انعکاسات په کې شوي چــې ژورې او دوامدارې کره کتنې ته اړتيا لري خــو پــه دغــه اړه خپــل کشــف دمنطــق او استدلال او عينيت پراساس برابرکړای شي.

له دی ټولو سره سره با يدووايو چې عطايي صاحب دپښتو کره کتنې په تــرخ کې دپاملرنې وړ کار کړي او ليکنې يې په دغه برخــه کــې دځــانګړې يــادونې وړدي. د (ارهټ منګوټی چورلي ) پرداستان يې کره کتنه خپل جالبيت لري ، لکه چې ليکي : « دپيښور د داستان ليکونکو پــه آثــارو کــې ددغــو منــاظرو انځورونه ډيرجالب دی ، خود کمبود برخه يې داده چې په داستان کې دپيښــو علتونه چي ټول دعينی قانونمندۍ په چوکاټ کې تحليل کيدی شي ، کله کله په بې پروا دتخيلاتو تابع کيږي، اوډيرې ورکې لارې په مخ اخيســتل کيــږي . دعايشه ملک داستانونه هم ددغو ښکلاوو او کمبودو نو څخه بې برخې نه دي ، ددغې مجموعي په داستانو نوکې د (ارهټ منګوټي چــورلي ) داســتان يــوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډيره عمده او مهمه موضوع احتوا کوي ،په دغــه کــوچني داســتان کــې  ددې واقعيت ډيره ماهرانه عکاسي شوې چې څرنگه  دتاريخ دوه غټ پړاوونه يعني دکلي شډله فيودالي اود ښار محيله بورژوازي  په ټکرکــې راځــي . د داســتان ليکوالو يعنی عايشه ملک يوازې  ما جرا بيانوي اودخپل بيان لپاره ښکلي ادبي او ژبني ترکيبونه  ـ استعارات او تشبهات راوړي . او هدف يې دادی چــې ددې په اصطلاح دخوارانو پرحال د بډايانو عواطف را اوچت کړی ، خو په آگاهانه تــو گه تردې کوچني هدف  پورته ديوډير لــوی هــدف لپــاره کــارکوي. ليکوالــه دطبقاتي تضاد او طبقاتي جنگ دمقولو له مفاهيمو څخه خبــره  نــه ده اوپــه رفورمستي طريقه دټولنيزو مسايلو دحل فکر کوي... » (۲)

په پای کې بايد ووايو چې د عطايی صاحب کره کتنې زمــوږ دکــره کتنــې پــه بهيرکې په تيره بيا هغه چې د

---

(۱)  ابراهيم عطايی ، ( د رابنسن کرو زو ادبي داستان ... )  زيری ، ۱۳۶۳ کال  (۳۴-۴۴) گڼه .

(۲) عطايی          ( دارهټ منگوټي چورلي پرداستان کره کتنه )  کابل مجله ، ۱۳۶۳ کال  (۱۱-۱۲ ) گڼه  (۵۶) مخ

باندنيو داستانو دپيژندنې په برخه کې يې  ترســره کــړي  ســتراهميت لــري. دعطايی صاحب ليکنې لکه د روهی صاحب دهغو په شان ډيرې مسلکي نه دي ، ځکه نو دی هم موږ په هغو ليکوالو کې شميرو چې دځيړنې ساحه يې علــوم ادبيه کيدای شي  ځکه چې دی هم لکه زموږ لومړني ليکوال پرادبي بوختياوي.
برسيره نورې هغه هم لري ځکه دی هم په بيلابيلو برخو کې ليکنې کوي.

له عطايي صاحبه چې راتيرشو ، زموږ ددغه عصر دکره کتنې پــه دغــه تــاوده بهيرکې  زموږ ددغه عصر د ځوان ليکوال  لطيف بهاند ليکنې  راځي چې دلتــه يو ه لنډه کتنه ورته کوو.  لطيف بهاند په ځوانو ليکوالو کې يوازنی ليکــوال دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**چې له کره کتنې سره سرکار لري او په دغه برخه کې په عملي توګه دیوه ژوندي او هڅاند لیکوال په توګه دپاملرنې وړدی ، داسې ښکاري چې دی هم هڅه کوي په دغه برخه کې دیوه مسلکی لیکوال په توګه ځان را وځرکوي ، یو شمیر لیکنې یې تراوسه دهیواد په مطبوعاتو کې زما پورتني ادعا ته یو لامل کیدای شي . جالبه خو داده چې دم ګړی په یو شمیر زړو پالو کنګل فکرو لیکوالو او شاعرانو باندې نه دي ښه لګیږي او نه دده لیکنې ځکه چې دي په خپلو لیکنو کې د تقلید او پیښنو پرضد په بې صبرۍ سره انتقاد کوي او کله کله خو دشاعراو ایجاد ګر عیبونه په علني انتقادي محافلو کې ددوی پرمخ راباسي . دی په ادبي برخه کې د کمیتي ودې پلوی نه دی ، ځکه یې په زیاترو لیکنو کې ټینګار پر کیفیت باندې دی. دی کله کله ځینې جالبې خبرې کوي دبیلګې په توګه یوه یې داده چې : « موږ ته دوه ، دری سوه تش په نامه شاعران په کارنه دي ، موږ یوازې دری او څلور (شاعرانو) ته اړتیا لرو » ددی مانا بیا دکیفیت وده او بسیاتوب دی . دبهاند زیاتره کتنې له اوښتیایي (انقلابی ) بهیره را په دیخوا دهیواد په مجلواو نورو خپرونو کې خپرې شوې دي، دده ادبي اوانتقادی مقالې هم زیاتره د رادیو افغانستان له ادبي پرګرامو، دکابل پوهنتو ن د خپرونې (احتماعي علوم ) (کابل مجلې ) (زیرې ) جریدې له لارې خپرې او چا پ شوې دي. دده په لیکنو کې دده یوشمیر ژباړې چې زیاتره یې له فارسي ژبې څخه شوې هم دیادونې وړ دي. دده په لیکنوکې دغه لاندې لیکنې یادونې وړ دي لکه : د سلیمان لایق پر کیږدۍ کره کتنه ، ( دمارخي ناول ) سریزه ، قتیل پر (انقلابی نغمې ) نومي اثر باندې کره کتنه ، دامین افغانپور پر (بنګلو بتې ) لنډې کیسې ته یوه کتنه او نورې په ځانګړې توګه دیادونې وړدي . دلطیف بهاند یوه انتقادي مقاله چې زما پاملرنه یې وراړولې هغه ( پښتو معاصرو ادبیاتو ته کتنه ) ده ، له دغې مقالې څخه موږ ترهرڅه دمخه په افغانستان د کره کتنې برخه را اخلولکه چې دی لیکې چې**

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پښتو معاصر ادبي بهیرکې کره کونه له څلویښتمو او پنځوسمو کالونو راپیل کیږي ، او خپل استناد یې هم د استاد حبیبي پرهغو لیکنو کړي ، هغه چې پــه طلوع افغان اونورو خپرونو کې خپرې شوې دي. دده داخبره که څه هم د بــل پرحواله کړې ، خو زما لپاره یوڅه دتامل وړده ، ځکه چې پښتو کره کتنه د یوه پراخ بهیر په توګه خپل برخلیک له پښتو ادب سره یوځای پیل کــوي ، داهــم داسې یو علم دي چې د نورو علومو لکــه فزیــک ، تــاریخ ، ریاضــي غونــدي دپرمختګ بهیروهي ، په دعه اړه هم موږ باید په دې باور ولرو چې کــره کتنــه یوازې دمعاصریت زیږنده نه ده ، بلکه په معاصریت کې خپله بنه لــري . مــوږ دخوشال انتقادي نظریات اویاد هغه عملي کره کتنه له اوسني معاصرې کتنې سره په توپیرکې نه وینو ، موږ چې کله په پښتوکره کتنه او دهغې په بیلابیلــو پیرونو باندې خبرې کوو ،هغه پرته دخوشال له نظریاتو داسې نیمګړې ده لکــه چې یو څوک د نړیوالې کره کتنې مطالعه او تشریح د ارسطو لــه (پوییتــګ ) څخه پرته وکړي.

دبهاند دغه مقاله جالبه ده ، په معاصرو انتقادي مقالو کې په ځانګړو مقالو کې راځي ، زه یې یوازې دلته د وروستي برخه ، هغه چې لیکوالو اوشاعرانو ته یــو لړوړاندیزونه له ځان سره لري را اخلم :

« خو دکره کتنې دکار دښه دوام لپاره څوسپارښتنې ضروري دي :

۱ـ په نقد کې باید د تقریظونو او تشو اندېوالیزو ستاینو کډې ور بارشي .

۲- دداسې خبرو لمنه دې ورټوله شي چې مثلآ : دا شاعرځوان دی ، دی ته څه مه وایئ ، دابل سپین ږیری دی ، دابــل دلســو نســخو درلــودنکی دی ، دابــل غیرمتعهد دی څه مه ورته وایئ چې زړه کې یې څه ونه ګرځي ، دابل متعهــد دی خوابدی او په قهرنه شي .

۳ـ دنقد باید دیوه ادبي جریان یا یوه ادبي ښوونځي په رڼا کې نــه وي ، ځکــه زموږ ادبیات لاتراوسه دې پړاو ته نه دی رسیدلي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۵ـ نقد باید له مسابقو اوجایزو څخه لکه هغه شیان چي اتحادیه یې هم کـړي ونه ژغورل شي ، دشعرمسابقې شته ، د داستان شته، دماشوم دادبیاتو شـته ، خو نقد هیرشوی دی .**

**۶ـ ګران ناقدان دې د اشخاصو په خپګان پسې نـه ګرځـي بلکـي زیـار دې وباسې چې دا ولس د عمومي فرهنګ دخپګان سبب نه شي . »(۱)**

**په پورتنیو پیشنهادونو کې دلومړي هغه په اړه داخبـره دیـادولوړ ده چـې د (تقریظونو ) کډې باید بارنه شي ، بلکې دهغو لیکنو کډې باید بار شـي چـې د کره کتنې په نامه وي ، خوتقریظ نه وي. موږ دتقریظ پراړتیـا او داچـې دکـره کتنې یو مهم ژانردی هم باید پوه شو ، تقریظ د یوه اثر ډیـره مهمـه او اړینـه برخه په لنډو زموږ په واک کې راکوي ، تقریظ باید وي خولـه انتقـادي اړخـه باید کمزوری اوستاینلیک نه وي اونه باید له موضوع دباندې مسایلو تـه وقـف شي .همداسې دخلورم وړاندیز په اړه هم خبره یو څه ګونګه ده ، زما پـه فکـر داخبره هم علمي نه ده چې آثار باید دیو ه ټاکلي ادبی جریان پراساس کره نـه کړو، ځکه هرادبي اثر په یوه جریان پوري که څه هلته کوم ادبی مکتب مطـرح وي یا نه اړه لري ، کله چې یو اثر کره کیږي ، باید دیوې میتودلوژۍ پراسـا س خو کره کړ شي ، چې کره کتنه پرخپله دا کار ترسره کوي ، که له جریان څخه دبهاند صاحب مطلب دغربي مکتبونو په پام کې نیول وي ، هلته خبره بیا پـه ادبی تیوري باندې راځرخي .پایله داچې هرادبي اثر لـه یـوه ادبـی تمایـل او جریان سره په تړاو کې رامنځ ته کیږي ، معرفي کیږي او کره کیږي .**

**په هرډول بهاند زموږ داوسني کره کتنې په برخه کې یو روښانه لیکـوال دی ، چې که همدغه تګلوري په خپل خیړنو کې په پام کې ونیسې ، دده هڅـې بـه نورې هم دپاملرنې وړشي ، بهاند تراوسه دکره کتنې پرلاره په مسـلکي توګـه روان ښکاري ، خو زه دده په اړه په دی اندیم چـې لا هـم پـه علمـی لحـاظ ډیرواټن ورته پاتې دی چې باید هغه لاهم طی کړي ، باید لاهـم پـوخ شـي او**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددغه علم اصول بايد په دقيفه توگه هضم کړي . کره کتنې ته دعلومو په ډلـه کې يو ممتاز علم ويل کيږي ، هغوی چې په دغه برخه کې کارکوي بايد ددغـه علم پردغه مهم امتيازاو دهغه په مانا پوه شي. بهانـد همدغـه راز او همدغـه رمز ته ملا تړلې ده .
دلته دبهاند د انتقادي ژباړې يوه برخه چې دکره کتنې په اړه يـې کـړې ده را اخلو : « ... د شعر دکره کتنې بنسټ د ښه شعر په غوره کولو اودبدشعر په نـه منلو ولاړ دی او دکره کتنې خورا گران ډول د (نوي ) ښه شعر ټاکنې قـدرت او د نوي وضعی په وړاندې د لوستونکي عکس العمل دی ، په ځـوان او هوښـيار وگړي کې ( شعري تجربه ) دښو اشعارود اغيزومجموعه نه ده ، بلکي «شعري روزنه» ده چې ددغو اغيزو منظم کولو ته اړتيا لري ، له موږ هيڅ يو له ذوقـه ، او دتميـز لـه نـه تيروتـونکي قـوت سـره نـه دی زيږولـی ، اوهـم ناڅاپـه داځانگړتياوې دځوانی په دوران کې يا له هغه وروسته په لاس نه راوړو . هغـه وگړي چې تجربه يې لږه ده ، تل دتصنعی او تقلبی مطلـب دوکـه خـوري ، او دوکه کيږي ، اوکولای شو ووايو چې دهرنسل نازمو بـل شـوی ، لوسـتونکي د تصنعي اوتقلبی مطلب دوکه خوړلي ده . په حقيقت کې ډيرکسـان ددغـه راز څيزونو غوښتونکي دي ، ځکه په هغوکې ددغه راز مطالبو دمنلو مننـه ډيـره زياته نه ده ، سره له دې چې زما په عقيده ډيروگړي ذاتآ له ځينواشعارو څخه خوند اخلي ، په دې حال کې مې مقصد له شعرنه خوند اخستلو دکميت په باره کې څيړنه نه ده .په ډيرکړاو سره به وکولای شو داسـې لوسـتونکي پيـداکړو چې هغه اغيزې سره درجه بندي کړي ، ويې سنجوي چې دهغو دلوستلونه بـه شوې وي ، په دي توگه په هره اندازه چې دهغوی شعري پوهه زياتيږي ،کولای شي په شعرونو لاښه پوه شي ، انسان لومړی له شعرنه خوند اخلي او بيا دهغـه دارزښت په ټاکنه پيل کوي اوعقل داحساس ملگرتيا ته راغـواړي ، دشـعرپه درک کولو کې دويمه مرحله شته په هغې کې اشعار نه غوره کيږي اونه يې لـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

منلو ډېره کيږي ،بلکې هغه درجه بندي کوو په دې مرحله کې هغه وګړي چې پخوانه يې له شعرسره آشنايى درلوده ، له هغه شعرنه چې په ادبياتو کې دځان لپاره ځاي پيداکوي خبريږو ... »(۲)

---

(۱) لطيف بهاند ، په پښتو معاصرو ادبياتو کې کره کتنه ، ژوندون . ۱۳۶۳ کال ، (۶) ګڼه (۴۱) مخ.
(۲) لطيف بهاند ، دشعر کره کتنه ، زيری . ۱۳۶۵کال (۱-۲ ) ګڼه .

زموږ دبحث له موضوع سره پرا ړيکه ،په دغه برخه کې بل څيره چې په دې وروستيو کې يې يو لړکره کتنې ترسترګو شوې ، هغه ځوان ليکوال زرين انځور دى ، دده يوشمير ليکنې زموږ د رواني کره کتنې په بهيرکې چې زموږ دهيواد په يوشميرخپرونو کې را څرګندې شوې ترسترګوکيږي . دده دليکنو لپاره زموږ په ځوان کول کې يوه خوشبيني ترسترګو کيږي ، خو اوس يې لاس کره کتنې ته هم وراچولي ، خو زه دې ترټولو دمخه ديوه ځيرک ليکوال په توګه پيژنم ، کره کتنه دده دليکنو په څنګ کې يوه څنګځنې برخه ده ، ځکه چې دى په عين وخت کې دمسلک په لحاظ يوژورنالست دى ، نه يو دادبيانو شاګرد لکه زموږ پورتنى ياد شوي کره کتونکي . زما لپاره دده دنقد ساحه هم هغه ساحه ده لکه چې يو ژورنالست يې بايد دکره کتنې او دهغې دميتود لوژى په برخه کې ولري . نن سبا کره کتنه او ژورناليزم هم په هغو علومو کې راځي چې اغيزه يې يو پربل باندې دوه اړخيزه ده . ده دکره کتنې په برخه څه کارونه کړي ، څه انتقادي مقالې يې ليکلې چې هغه يې بيا د ( شعرونه او نقدونه ) په مجموعه کې چاپ شوې هم دي ، ترټولو لوى جالبيت يې داهم دى چې دم ګړى دده همدغه مقالې خوشو وارې په بيلابيلو خپرونو کې هم چا پ شوې دي. خو اوس دادى کتابي چاپې بڼه هم له ځان سره لرو . داثرلکه چې ومووېل دزرين ديو شميرانتقادي مقالو جونګ دى ،استاد روهي ددغه اثر اود انځور د کره کتنې په اړه ليکي :

(c) ketabton.com: The Digital Library

« ... ددعه کره کتونکي کار دکمیت او کیفیت په لحاظ پــه خپلــه ســاحه کــې دپښتو له نورو ادبي څیړونکو څخه زیات دی ،دده دکار ستراهمیت دادی چــې هغه په عمومي توګه دپښتوادب په بڼه کې مــړاوي بــوټي او هــرزه واښــه نــه پریږدي . دباغ د سمسوریتا او تازه ګۍ دپاره دیوه خواریکښ ښه مالیار دنــده اومسوولیت پرغاړه لري ، انځور له ابتذال سره مبارزه کوي ، دیکنواخته کلیشه یي او تکراري خبرو پرضد مبارزه کوي ، دشعراو داستان لــه پرســتیژه څخــه دفاع کوي ، ادبي نوښتګرو ته بلنه ورکوي چي دابتکــار مشــال پــه لاس کــې واخلي ... » (۱)

پښتو ادب ، هغه هم په افغانستان کې دنړۍ د نویو پرمختګو له کــاروان څخــه ډیروروسته پاتې دي ، استاد روهي هم په دغه برخه کې بله چاره نه ده لیــدلې نو ځکه له هغو جملو څخه کار اخیستی چې زیاتی هنــري اړخ لــری ، کــه نــه داشونې وه چې دغه مطلب یې په یوڅــوعلمي او کــانکریتي جملــو کــې هــم اداکړي وای . لکه چي هغه دانځور په اړه ویلي چې دی له ابتکــاره کــاراخلي ، مانا یې هم داده چې دی خپل مخاطب ته یو څو نــوي خبــرې کــوي ، داچــې څومره نوې دي او یا داچې دلوستونکي په نا خبرتیا به دلالت کوي ، موږ باید د مسلۍ دا دواړه بعده له پامه ونه غورځوو . خو زه بیاهم خپله خبــره تکــراروم چې دی یو ادیب او هنرمند کره کتونکي دی ، کره کتنــه یــې ترډیــرې کچــې دعلمي اړخ په تناسب زیاته هنرې ده ، خو لیکنې یې اغیزناکې اوتریــوه حــده پروړتیا برابرې دي چې بې زړه سویه خپل روزونکی تګلوري وهــي . پــه یــاد شوي اثر کې یې دا لاندې سرلیکونه راغلــي : « ســریزه ، زمــا داکــره کتنــې ، دمعاصر پښتو شعر یولنډه مطالعه ، معاصر پښتو شعر ته دکره کتنې ضــرورت ، معاصر ښښتو شعر کې د هنــري نوښــت مســاله ، دمعاصــر ښښتوشــعرڅونورې نیمګړتیاوې ، معاصر ښښتو غزل تــه یوانتقــادی نظــر ، شــعرکه ادبــي ټــوټې ، دمعاصر پښتو روان شعر ته څو پیشنهادونه ، څو وروستي ټکي ، ماخذ »

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددي لپاره چې دانځور ددغه کتاب په محتویاتو باندې پوه شو ، کیدای شي پــه دغه برخه کې یوه لنډه کتنه وکړو په لاندې ډول : د انځور په ( دمعاصر پښــتو غزل ته یوانتقادی نظر ) کې پرغزل ، دهغه په وده ، په لــره اوبــره پښــتونخوا پرغزلبولو څیرو باندې رڼا اچول شوې ده ، ښکلې او نا ښکلې غزلیزې شــعرې بیلګې را اخیستی دي. چې داموضوعات واقعآ دمعاصرغزل (هغه چې واقعآ ښه شعروې ) دپیژندګلوی او ودې

---

(۱) زرین انځور ، شعرونه او نقدونه ، کابل ۱۳۶ سریزه .

په برخه کې په رښتیني توګه دپاملرنې اویادونې وړ دي. خو دلیکنې پــه پــای کې مورږ له یوې داسې خوشبینی سره مخامخ کیږو چې هلته لوستونکی وار د واره یو اړخیز قضاوت ته متوجه کیږي چې : دغزل په ښه والي ، باندې هم پــه لره اوهم په بره خوا کې تبصره کوي ، دغزل مطالعه هلته او دلتــه کیــږي ، لــه دواړو خوا ووځخه ټاکل شوې بیلګې را اخستل شوی خو کلــه چــې دتبصــرو خبره رامنځ ته کیږي ، لیکوال بیا خپلو تبصرو ته یوازې دبر غزل په بــاره کــې زور ورکړی دی او په پښتونخوا کې په هسې تش په نامه غزلو ته یا داچې لاس رسی نه و اویاداچې په لوی لاس یې غوښتې چې له هغو څخه باید یوازې ښــې بیلګې را واخلي اوبس . په داسې حال کې چې په افغانستان کې یــې لــه دواړو ډلو څخه شعرونه او غزلونه را ټاکلي دي. دغه ټکی دا ښکاروی چې پرلیکــوال باندې خوشبینی غلبه کړې او دکره کتنې اصلي موخې ته یې ورشــا کــړې ده. باید له دواړو غزلیزو بهیرونو څخه دواړې ډوله بیلګې را ټاکلې وای .
د ( شعرکه ادبي ټوټې ) کره کتنې کې یې له ماسره داپوښتنه رامنځ ته کــړې چې که په دغه لیکنه کې یې ادبي ټوټه ستایل شوې ، په عین حال کــې ادبــي ټوټه غندلې هم ده . دبیلګې په توګــه کلــه چــې د پښتومعاصــر ادبــي بهیــر

(c) ketabton.com: The Digital Library

داستادانو پرادبي ټوټو باندې خبره راځي ، نوهلته دا وايي چې « هغو پــه پيــل کې غوښتل چې دشعري غنا په څنګ کې پښتو معاصرو ادبياتو ته نثــري غنــا هم ورپه برخه کړي ، داځکه چې ترهغه وخته لا دنثر په برخه کې زيات کار نــه و شوی ، خواوس په نثرکې نوې ځانګې اونوي ډولونه زموږ ليکوالو ته ســترګې په لاره دي. همدارنګه خينو دغو ليکوالو ادبــی نثــر دشــعرترحده رســولی او ښکلي کړی دی. او حتی الفت ، غوندې پياوړو شاعرانو له شعرونوځخه په خپل وخت کې دهغه ادبي نثرونه له هنري پلوه نقادانو لوړ ګڼلي دي » (۱)

په همدغه لړکې بل ځای ليکي : « موږ يوځل بيا ټينګار کوو چې : په ځــانګړي ډول په معاصرو پښتوادبياتوکې ادبي ټوټې دمعاصرو ادبياتو دپيل په لومړنيــو آثاروکې اود استادانو او مخکښانو په آثارو کې ډېرډېره ځايه په زړه پورې بنــه لري، څرنګه چې هلته دادبي ټوټو په برخه کې ځينې نورمسايل پــه نظــر کــې ساتل په کاردي نو ځکه خو په هغو برخو کې دلومړنيو نمونو په عنــوان هغــو آثارو ته پاملرنه په کارده ...» (۲)

اوپه همدې توګه دخپل دغه اثرپه ترځ کې ځوانو شاعرانو(*) ته بيا ليکــي : « اوس د ادبي ټوټو وخت تيردی ، اوس ادبي ټوټې ډيرزوړ چوکاټ ګڼلی شــو، او اوس دادبي ټوټو پرځای ډيرې نو ې ادبي ټوټې او داستانی ځانګې موږ ته لګيا دي اشارې کوی ... » (۳)

په دغه برخه کې بايد دايوه خبره له ياده ونه باسو او هغه داچې مــوږ نــه شــو کولای يو پريو ليکوال ته داقومانده ورکړو چې ادبي ټوټه ليکل بايد بند کــړي ، برعکس بايد ووايو چې ادبي ټوټه يا منثــور شــعر( زه ډيرتوپيردلتــه نــه شــم قايليدای ) نن په زيا ترو ادبياتو کې ديوه مسلط ژانــر پــه توګــه خپــل ادبــي اوهنري ځای اومقام لري ، بايد دغه ژانر دضد ونقيض نظرياتو ګرداب ته ور ونه لويږي ، ليکوال هم ددغه ژانر په وړاندې همد ا ډول چلن کړي ، هغه هــم پــه تقليدي توګه، زه پردې نظريم چې داډول حکمونه خولــه يــوې خــوا تراوســه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمنلو وړ نه دي او له بلې خوا داخبره تراوسه هم د ذهنيت دروازه ډبوي دا چې په عينت به بدليږي او كه نه ، هغه ته به لاسترګي په لاره شوځكه چې هغه بياهم يوې زياتې مودې ته اړتيالري. بله داچې داخبره هم په دغه برخه كې شته چې په داسې ادبياتو لكه زموږ هغه ، اوس وار دواره د داسې خبره اړتيا څه ده ؟ څه فرق كوي كه زموږ يوشميرشاعران د خپلوپخوانيو دغه لاره تعقيب كړي ، څه خبره ده

---

(۱) زرين انځور ، ياد شوى اثر (۱۰۵)

(۲) انځور ، ياد شوى (۱۱۵) مخ .

(*) په علمي لحاظ داسې پوله ټاكل روا كارنه دى ، دلته پوښتنه دپوهې په باره كې اړينه ده ، نه د ځوان او زاړه په باره كې ، بايد خبره دشاعراو هنرمند په وړاندې هغه چې اثريې ايجاد كړى او يايې ايجادوي مطرح وي . ځكه نقاد چې نقد كوي ، هغه په هنراو هنري پديده باندې كوي. بايد هغه تشريح او توضيح كړي اوبس .

(۳) يادشوى اثر (۱۱۵) مخ .

چې كه موږ وكولاى شو چې دغه ژانرته په سالمه توګه وده وركړو ؟ كه شاعر، شاعروي او دشعر په رنګينو كې خپله لاره ايستلاى شي ، زه باور لرم چې ادبي ټوټه ليكل به دهغه دشعر اهميت كله هم راټيټ نه شي كړاى ، برعكس زه باورلرم چې كه ښه شاعر ، ادبي ټوټه وليكي ، دابه زموږ دمعاصرادبي بهير له لويو اومهمو برياوو څخه يوه وي . موږ تكل ليكو، او لږ لږ اوس دهغه په اړه معلومات هم لرو ، خو د دغو دواړه ترمنځ كوچني توپيردادى چې د تكل دليكنې ډول تقريباً كيسه يي ډوله دى ، چې دهغه پربنسټ لنډه كيسه وده وكړي ، همداسې كه د ادبي ټوټې پراوړ و باندې د شعر د آسمان پرلور والوزو څه ستونزه به وي ؟

دهرادبي ژانر په كارخانه هم ښكلى جوړيږي او هم بد رنګې داچې زموږ خريدار ذهن ددغو متاعو لپاره څومره قيمت ټاكي ، دلته بيا دادبي اوايجادي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پديدې دماهيت له مخې ددغه اوهغه ژانر دشتون او نه شتون پوښتنه نه شي رامنځ ته کيدای . بله داچې وايي ، ادبي ټوټه نه سپن شعر دی اونه هم آزاد ، په دغه ترڅ کې خو زموږ نظر لا درنښت پيدا کوي او ګردسره په ډاګه داخبره کولای شو چې شعر ، شعر دی او نثر نثر . که موږ ادبي ټوټه دنثر يو ډول وبولو او په رښتيا هم ( لطيف ادب * ) نومونه ورته وکاروو، دهغه کميت او کيفيت په کې په پام کې ونيو ل شي ، په هغې کې نوښت له ياده ونه باسو او د ژوند لطافت په کې منعکس شي ، نو بيا خو ړوند له خدايه څه غواړي دوه سترګې .
په عين حال کې زه دغه نظرچې دانځور په دغه اثر کې دتاکيد پرلامل راوړل شوی دانتقاد وړبولم لکه چې دادبي ټوټې په اړه وايي : « زه له هغو ټولو کسانوڅخه چې ادبي ټوټې صادروي کرکه لرم » څه بايد ووايو چې دانظر په خپل وار يو ادبي نظردي؟ زه خو پرې شکمن يم ، ستاسو يې زړه ، که سړی يوازې دومره ووايي چې ته (هغه ځوک چې پورتني خبره کوي ) څه کاره يې چې د کرکې پر ډګر دريدلی يې ؟ له بله پلوه يو ځوک غواړي ادبي ټوټه وليکي هغه به ځانته دا صلاحيت ورکوي ، استعداد به يې لري، خوموږ داحق نه لري چې پرچا دصادرونکي نوم ( چې په ادبياتو او ادبي مطالعاتو دود خبره نه ده ) کيږدو ، ځکه موږ نه پوهيږو چې اوس دلته کرکه کونکي ډيرمقصر دی او که تش په نامه صادرونکي ؟
تراوسه چې هرچا او هرچيرې د ادبي ټوټې پرضد څه ويلي او ليکلي دي ، هغوی ټول پريوه ټکي باندې ګوته ږدي چې ګواکې ادبي ټوټه شعرته زيان رسوي ، د شعرارزښت راټيټوي ، دغه ټکی هم په دري او هم په پښتو روان بهيرکې روان دی ، په داسې حال کې چې دخپلې دغې ادعالپاره تردې دوو ټکو زيات نه څه وايي او نه يې ليکلي دي . زه فکرکوم چې دا يوه ذهني بهانه ده چې په علمي لحاظ سړی زيات اهميت نه شي ورکولای ، ځکه تردغو لړکيو نظرياتو ځوځلې زيات نظريات شته چې برعکس ددغې پديدې ملاترکړي .په

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتومعاصر ادب کې ددغه ژانر بنسټوال راحت زاخیلـي یـادیږي ، لـه هغـه تراوسه نژدې یوه پیړی په بشپړیدو ده ادبي ټوټه هم د عمـر پـه لحـاظ اوس ترسلوکالو زیات عمر لري ، خو موږ نه پوهیږو چې څنګـه دابیـا اوس یـو زوږ چوکات شو ، زوږوالی خو خپل دلایل لري ، خو موږ نه پوهیږو چې د ادبي

---

---

* دپښتونخوا ادب پوهان تقریبآ همدغه نومونه د ادبي ټوټې لپاره کاروي ، خو زه دیو وړاندیز پـه توګـه وایم چې د لطیف ادب او ادبي ټوټې دواړې نومونې ددغه ارتستیک ژانرله قدو قامت سره نه جـوړیږي . ځکه چې دادب مختاړی په دغه برخه پراخه اوعامه انطباع لري ، دابه هم داماناولري چې که مـوږ ووایـو ادبي کیسه ، ادبی ناول اونور ، زه باورلرم چې په راتلونکو نژدې وختو کـې زمـوږ نـوي کولونـه او نـوی انکشافات زموږ دغو وړو وړو تیروتنو ته متوجه کیږي ، موږ پـه رښـتیاهم اوس نـه پـوهیږو او یـاداچې ډیراهمیت نه راته لري ، خو په دی باید پوه شو چې ستونزه شته او له هغې باید په دغه ترخ کې سـترګې پټې نه کړو ، که موږ ووایو ( هنري ټوټه ) بیاهم خبره ډیره پراخه ده ، خو که ووایو ( نازکـه ټوټـه ) ددې لپاره اوس دومره وخت لکه چې پر (ادبي ټوټه ) تیرشوی دی په کاردی ، ځکه هره ادبي نومونه که څـه هم قراردادي بڼه لري ترهغو چې په عینیت باندې د ذهنیتو ګوزارونه خوري . زما وړاندیز دادی چـې دم ګړی (۱۳۷۰) موږ په ټول افغانستان کې دوه دری ښه شاعران لرو ، ادبي ټوټه خو یوې خواته پریږده ، که موږ زیات لیکوال او شاعران ولرو او ددغې برخې له ودې سره لیواتیا لري ، هغوی یې باید ولیکې اوهغوی یې باید پر نومونه باندې هم فکر وکړي .

ټوټې ما شومتوب او ځواني چیرې او څنګه تیرشوي دي ؟
پرپورتنیو خبرو برسیره یو څه چې ددغې موضوع په اړه باید له یاده ونه باسو ، هغه دادی چې انځور صاحب باید داخبره کړې وای چـې دغـه خبـره او دغـه نظریه چې د ادبي ټوټې په اړه ده وړاندې کړي لـه سـره دده نـه ده ، داهغـه طرحه ده چې دلومړي ځل لپاره پردې باندې شپون خپل زور وهلی و، لکه چې په دغه کتاب او هم د (ژوند انځور) کتاب کې یادونه په مفصله توګه شوې خو په شعرونو او نقدونه کې دغې موضوع ته یوه ساده اشاره هم نه ده شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل سرليک په دغــه اثرکــې « د پښــتو معاصــر شــعرد روان بهيرلپــاره څــو پيشنهادونه » هغه جالبه کره کتنه ده چې که مې څوک په ګناه ونه نــه نيســي نودابه ووايم چې دانځور په ټول اثرکې همدغه يوه ليکنه ده چي ټــول اثر يــې دلوستلوکړی دی. د اوسني کره کتونکي دنــده يــوازې دانــه ده چــې يــوازې ستونزې او نيمګړتياوې را وسپړي ، بلکې يو کره کتونکی ترهرڅه دمخه داپازه هم لري چې بايد له ستونزو ا و نيمګړتياوو څخه د وتلو لارې په ګوته کړي . په دغه ليکنه کې هم دغه تيوريکي اصل دا رسالت ترسره کړی چې ادبی بهير يې په رښتياهم دخپل معراج په لور لارښونه کړي دی .دبيلګې په توګه يې په (۶) وړانديزکې دنوي شعر د رسالت په باب خپل وړانديز داسې طرحه کــړي دی : « ... له بده مرغه په پښتومعاصره او اوسني او ځوانه شاعرۍ کې (نوی شعر) تــه په خپل اصلي مفهوم سره دومره زياته توجه نه ده شوي او شــايد يــو څوتنــه نامتو معاصر شاعران ولرو چي په خپلو ښواولوړو شعري آثارو يې (نوی شــعر) رامنځ ته کړي او روزلی دی ، خونور مجموعي معاصر او اوسنی اوځوان شــعري بهير دی اړخ ته بې توجه پاتې دی . اوکله کلــه لا حتــی (نــوی شــعر) او (آزاد شعر) چی مفاهيمو ته يې بايد غوروشي رټل شوی او توهين شــوی هــم دی او داځکه چې له دغو مفاهيموسره دعصر دنويو شعري پديدو په عنوان آشــنايی کمه وه او ياده ... له دغوخبروڅخه زموږ موخه داده چی نوی شعرته په پښــتو شاعرۍ کې دخپلو اصلي اساسي مفاهيمو پربنياد پاملرنه وکړو. زموږ په ځوانه او اوسنۍ پښتو شاعرۍ کې که نوي شعر ته او ياد نويوالي مسالی ته که په زړو قالبونو کې دقت کيږي نوداهم يوه خبره ، خو ددې په څنګ کې بايــد نــوی او آزاد شعرته هم بې غوره نه شو. او بايد نوی او آزاد شعر له دې وروسته دعصر دولولو ډيره ښه هنري تصويرګري وکړي اوزموږ په اوسنې شاعرۍ کې نــوی او آزاد شعرونه رامنځ ته شي ... » (۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library

داډول وړاندیز سره له دې چې وضاحتی منطق یې لـږ کمــزوری دی ، دځوانــو لیکوالو او شاعرانو لپاره چې هغوی له شعرو شاعرۍ سره آشنا کوي اوداهغــه جوړونکې چاره ده چې موږ یې دانځورپه دغه لیکنه وینو.
په تولیزه توګه ، انځور او دهغه داشان کره لارښوونې د پښتو معاصر ادبي بهیر په اوسني پړاو کې چې نورډیرڅه نه لرو دمعاصر شاعرپه تګلاره کې روزونکي مثالونه دي ، انځور دي او انځورونې !
دانقلابی بهیردکره کتنو په برخه کې یو شمیرنور لیکونکي هم د یادونې وړ دي ، هغوی چې په دغه پیرکې یې لیکنې کړې دي لکه زیار ، دوست شــینواری ، نورمحمد سهیم ، شاه محمــود حصـین او نـور . د دوی یـو شــمیر جـالبې او دپاملرنې وړ کره کتنې هم پـه کابـل مجلــې ، زیــري ، ژونــدون اونــورو کــې مطبوعاتو کې خپرې شوې دي. د دوست شینواري ( دتکــور شــعر... ) کــره کتنه دده له مهموهغو څخه ده ، دوست شینواری یواکادمیک او مترقی پوه دی چې په کره کتنه کې یې د استدلال تګلوري منطقي ، عالمانه

---

(۱) زرین انځور یاد شوی اثر (۱۲۹) مخ .

اومنصفانه دی . ده په ځواني کې ډیره ښه غزلیزه شاعري کړې ده، یوه شعری مجموعه یې هم چاپ شوې ، خوله هغه وروسته په اکــاډمیکو څیړنــو بوخــت شواو شاعري یې څنګځنې ذوق شو . همداده چې دی زموږ پــه اوســنیو هغــو پوهانوکې راځي چې هم شعرویلای شي اوهم یې کره کولای شي لکه چې مــا ددغه اثرپه لومړیو کې دعالم او ادیب کره کتونکي پــه اړه خبــرې کــړې وې ، څکه نو دوست صاحب زما دلست په ادیبوکره کتونکو کې راځي . دځوان شاعر افضل ټکورپرشعریې د کره کتنې یوه برخه دلته دده دکرهکتنې دبیلګې په توګه را اخلو لکه چې لیکي :« ... دخیبر دادبي مکتب زیات عزلونه په داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنډو بحرونو او یاتول او تال ویل شوي چې غالبآ هره مصــرع یــې (یــوولس ) څپې اوڅه یې (دوولس ) څپې لري ، دټکور له دغو غزلونو څخه څلور یې پــه (یوولس ) څپیز دي ، یوازي پنځم مثال غزل یــې (دولــس) څپیــزه دی ، دده زیات غزلونه چې مالوستي یوولس څپیز دي ، که په لنډ ډول ووایــم ترکومــه ځایه چې ما دټکور غزلونه لوستي اویا مې اوریدلي دي ، دهغو په رڼاکې ویلای شم چې دده په شاعرۍ باندې داستاد حمزه دادبي مکتب ستره اغیزه پرته ده اوهمدغې اغیزې دټکور شــعرته خونــد ، نازکخیــالي ، او روانــي ، سلاســت او راښکون ور بښلي دی. » (۱)

دپوهاند زیار په کره کتنو کې ( ځوان ژمن پښتوادب ته یوه کتنه ) ددغه پیرپه انتقادي بهیرکې دځوان کول د روزنې په ترڅ کې روزونکي انتقادي مقالــه ده ، زیار هم لکه د دوست شینواري په شان یوځو بعدي لیکوال او پوهاند دی ، آره :ځانګه یې ژبپوهنه ده ، خو په ادب پوهنه او ایجادیاتو کې یی ځای دویم دی ، دمعاصر انتقادی بهیر په ترڅ کې دده نوم دیوه لارښود او استاد په توګه اوڅار دی ، دی په فکري لحاظ هم یو ژمن او پرمترقي اساساتو باندې باورمن لیکوال اوژبپوهاند دي ، دده په یاده شوې لیکنه کې هم موږ دده په اند او آیده بانــدې په ښه توګه پوهیدای شو دی لیکي چې : « په خواشینۍ سره بایدوویل شــي چې نن سبا په پښتو کې شعري زیږونې په سمه او رښتینې مانا او مفهوم ډیرې لږې لیدل کیږي ، اوښایي په ورځنیو سلو نظمونوکې متې دیونیم (شعر) څرک ولګي چې هغه دي په رښتیا له تعریف سره سم په هنري او ښکلاییزه ادبیــاتو دټولنیزو واقعیتونودځلونې او انګازی په ښه یو ډول رښتنی انساني چار اوسي ...» (۲)

دعلوماکاډمۍ دغړي او دکابل مجلې مدیر نورمحمد سهیم هغه کره کتنې چې په زیرې اوونیزه اودده په ځانګړي اثر ( په پښتو لنــډو کیســو کــې ریالســتي افکار » کې راغلې دي ، دځوانو کره کتنونکو دآثــارو پــه لړکــې دمرغلــرو پــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شميردي ، دی شاعرنه دی ،خو ښه کيسه ليکونکي دی ، ديوه کيسه ليکونکي په توګه دده کره کتنه هم دلته زمونږ دخيرني په ترخ کې ځانګړی ځای لري ، ده په دغه اثرکې دځوانو ليکوالو يوشميرکيسې کره کړې دي ، د ( اوښکې او الماس ) په نامه کيسې په اړه ليکي : « ... په همدې توګه د اوښکې او الماس کيسه درواخلئ ، او سره له دې چې دې کيسې ديوه فيشني ښاري ژوند ښه تابلو ايستلې اولوستونکي دداسې ژوند په ټولوکوايفو ښه پوهوي ، خو چې د لالا رمضان د وريرې برخه په کې يوازې وهل اوټکول اودلالا رمضان په کې يوازې مړې اوښکې تويول دي نودسلما يې پې څه ؟ څکه سلما هماغه سلما ده اونه يوازې يې په ژوند کې بدلون نه راځي بلکې يوه زړه وړونکي نشه هم ور زياتيږي بايد په ياد ولرو چې دغه کيسې چې يوازې خوالې او ناخوالې شميرې او ياپه هرڅه يوازې دانتقاد ګوته ږدي ، هغه دګورکې خبره ( زمونږ لپاره يوازې په دې درد لګيږي چې مونږ په خپلو تيرو آثارو اوبقاوو باندې يوه شو ، او دهغو دناانډوليو له منځه وړلو په لاره کې په مبارزه لاس پورې کړو ، که نه نو ديوه ټولنيز شخصيت دښووني او روزنې په درد نه خوري څکه سره له دې چې په هرڅه دانتقاد ګوته ږدي ، دکوم نوي شي بنسټ نه ږدي ، دغه راز کيسې له ژوند سره دخپلو کرکترونو دپيوندولو او له طبعيې پيښو سره دهغو دآشتې کولو له لارې يوازې کولای شي چې ژوند ته ورخيرمه شي خود ژوند دشرايطو په ښه کيدو کې کومه لاره نه شي ښودای ...» (۳)

---

(۱) دوست شينواري ، دټکورشعرزما په نظر ، ژوندون ، دريمه ګڼه ، (۱۳۶۵) (۶۵) مخ .

(۲) پوهاند زيار، « ځوان ژمن پښتوادب ته يوه کتنه » لکچرهای آموزشی ۱۳۶۲کال (۲۰۱) مخ .

(۳) نورمحمد سهيم ، په پښتولنډو کيسوکې ريالستي افکار ، ۱۳۶۵ کال ، (۹۹) مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دغه ادبي پيرکې دنورو خورو ورو مقالو په څنګ کې يوبل ځانګړي اثــر د « کره کتنه » په نامه  په ۱۳۶۴ کال کې د هڅاند ليکــوال ګــران هيــواد مــل پــه پاملرنه  افضل ټکور راغونډ او خپورکړ، ددغه اثر
محتويات په زياته کچه د کره کتنې په عملي او تيوريکي برخو کې دي. که څه هم ما په پنځوسموکالونوکې پرکره کتنه اودهغې پربهيربانــدې اوړدې خبــرې وکړې ، خوداچې دغه اثر په دغه دوره کې وروستي  چــاپ شــوي اثــردی ، او کومې کره کتنې چي په دغه اثرکې راغونډې شوې ، هغه هم په اوســني کــره کتنې کې ديوې ځانګړې هدفمندۍ يادونه کوي. په کتــاب کــې دعلمــي کــره کتنې ډيرې ښې اوانتقادي بيلګی راټولې شوې دي خو له بده مرغه چې ددغــو کره کتنوپه اړه ديوې تفصيلی تبصرې او دهغو دماهيت د څرګندونې کمي لــه ورايه محسوس دی . زما وړانديز داو چې  ټولونکي اوياهم مشوق بايد لږ ترلــږه يوازې د مقالې اوجالبو انتقادي ليکنو په راټولولو بانــدې بســنه نــه وای کــړي اويوڅه يې سره سپړلې وای.  زه داهم منم چې مدون کيدای شي دځان لپــاره داخبره وکړي چې ګواکي دده چاره يوازې ددغه اثرخپــرول او ترنــورو پــورې رسول وو. په دغه ترخ کې زه فکرکوم دادهغې موسسې مسووليت و چې بايــد هغه يې يوه باصلاحيته کس ته سپارلې اوهغه زموږ  دغه وړانديز ته عملي بڼــه ورکړې وای .
په هرډول که خبره سره خلاصه کړو ، کولای شو ووايو چې د اوښتيايي پيرکره کتنه او دهغې دخپريدواو پيژندګلوۍ په برخه کې  ښايسته خواري شــوې ده ، هغه کره کتنې چې د ليکوالو داتحاديې له خوا خپرې شوې ، هغو ټولو زموږ په معاصر ادبي بهيرباندې پوره روزنيز اغيزدرلود.  دليکوالو داتحاديي دکره کتنې دځانګي په هلوځلوکې دوې خبرې په خانګړې توګه ديادونې وړ وې ، يو دلتــه د افغاني معاصرادب دنامتو ليکوال راټولون واو بل په دغه وخت کــې دعلمــي کره کتنې د بيا راژوندي کولو بهير،  چې له يــوې اوږدې مــودې رکــود څخــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته دهغه لپاره کارپیل شو، په دغه ترخ کې له یوې خــوا دمعاصــرادبیاتو یوشمیر ښې اویابدې بیلګې د انتقاد تر ژرنده راووتې ،او له بلې خوا کره کتنــه د ادبی آثارو د عملي تنقید اوانتقاد په ډګر کې راځرګنده شوه . پرعلمي آثــارو باندې بحثونه ، تقریظونه او انتقادي مقالې هغه څه وو چې هــم زمــوږ لیکوالــو ولیکلې او هم یې له نورو ژبو څخه راوژباړلې . مطلب داچې انتقاد هم د انتقــاد کولو دجرآت اوهم د انتقاد دزغم روحیه په علمي اومنطقي توګه رامــنځ اوپــه نژدې یوه لسیزه کې دخپلې پیاوړتیا پوړۍ ته ور رسیده. موږ د افغانی لیکوالو پرکارونو او دهغو پرانتقادي هڅو باندې تبصرې وکړې ، خو دهغو ي په باره کې چې له باندنیو سرچینو یې زموږ ددغه بهیر دپیاوړتیا لپاره کار وکړ ډیرڅه ونــه ویل ، په دغه برخه کې یوازې دیوه لیکوال او استاد اروانباد ګل محمد نورزي ( دافغانستان دعلومو اکاډیمۍ دلومړي مشر اوبنسټوال ) د نامتو روسي لیکوال بلنسکي « ګوګول ته لیک » چې دنړیوالې کره کتنې په ترخ کــې ډیراهمیــت لري پښتو ته له روسي سرچینو را وژباړه . دا له هغو ژباړو څخه وه چې زموږ د نوې کره کتنې لپاره هم په تیوریکي لحاظ ډیرمهم او دیادونې وړ اثــرو ، چــې دلته یې یوه برخه دیوې ژوندۍ کره کتنې په توګه را اخلواو خپل مبحــث تــه هم ددغه لیک په یوه برخه باندې دپای ټکي ږدو. د (ګوګول ته لیک )په یــوه برخه کې ویل شوي :

« ... زه ستا سې په آینده تصمیم خبرنه یم . ولې زما په مخ کې ستاسو کتــا ب پروت دی ،ما هغه سل کرتې سرترپا یه ولوست. په هغه کې ما هیڅ پیدا نه کړل بي له هغو شیانو، په کومو باندې چې اوسنۍ خبرې روانې دي. هغه څــه چــې ستاسو په کتاب کې شته زما زړه او احساس یې رټ زخمي او توهین کړل . که چیرې ما خپل توهین شوي احساس ته موقع ورکړې وای نو یقین دی چې دغه لیک به په ستره کتابچه بدل شوی وای. ما په اول کې هیڅکله نه غوښتل چې ددې کتاب په باب تاسو ته څه ولیکم ، ولو چې زړه مې ډیرڅه راته ویل او پــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې صبرۍ سره د لیک ځواب ته منتظیروم. تاسو په رسمي توګه په مطبوعــاتو کې ولیکل چې که څوک زما په باب څه لیکل غواړي کولای شي خپل نظریات خپاره کړي . که چیرې زه په روسیه کې اوسیدای ما دغسې مکتوب تاسو ته نه شو لیکلای ځکه دهغه ځای شي کینان ( جاسوس ) پردې لیکونه راخلاصــوي اوهغه لولي . د دوی داکار دخپلې خوښې لپاره نه بلکې دجاسوسۍ لپاره هــم دی. د سړ کال دوبي زما لپاره په توبرکلوزپیل شو . زه یې خــارج تــه پــه تلــو مجبورکړم ، ان ستاسو لیک یې ماته رازلځ یرون ښــارته راولیــږه . نــن شــپه پاریس ته دفرانکفورت ناماین له لارې روان یم. داچې په تصادفی ډول ستاسو لیک زما لاس ته راغی، زما په زړه کې راغونډ شوي شیان په همدې لیک کــې راووتل ، زه هغه څوک نه یم چې خبرې په نیمایې کې پرېږدي ، چــالاکۍ مــې هم زده نه ده ، داشیان زما په طبعیت کې نه راځي .

پرېږدئ چې یا تاسو او پخپله زمانه ما ته راوښیي چې ستاسو پــه بــاب زه پــه خپلو نتیجه ګیریو کې غلط شوی وم. زه به ترټولو اول ، په دی خوشاله شم. زه دخپلوخبرو څخه هیڅکله هم نه منکریږم ، دلته زما اوستا دشخصیت موضوع مطرح نه ده ، بلکې دلته په هغه څه باندې خبره روانه ده چې نــه یــوازې زمــا بلکې ستانه هم لوړه ده. دلته خبره په واقعیت باندې روانــه ده ، او خبــره پــه روسیه باندې روانه ده ، داده زما وروستۍ او اخرنۍ خبره که چیــرې تاســوته داسې بدبختي درخیرمه شوې وي چې دخپلو پخوانیو هنــري آثاروڅخــه پــه آرامه توګه او آسانۍ سره لاس په سرشوي وئ ، نو اوس هم داسې پــه آســانۍ سره دخپل وروستي اثر نه منکرشئ ، هغه ګناه ده چې ددې اثر په چاپولو سره مو په سراخیستي ده ، هغه باید په خپله جبران کړئ ، دهغه پــه جبــران کــې داسې نوي اثرجوړکړئ چې ستاسو پخوانیو آثارو ته ورته وي. » (۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نتیجه :

دپښتوادبي بهیرپه ترڅ کې مودکره کتنې په لنډه تاریخچه باندې لږ اوډیره رڼا واچوله ، خو دابايد ووايو چې لومړی خو دغه کار دیـوې پیلامـې بڼـه درلـوده ،دویم داچې دغه کاربشپړنه دی ،کیدای شي ، په راتلونکې کـې دا کـارتردې هم ښه اوپه بشپړه توګه ترسره شي اوبډایی ورکړه شي . په دغه اړه بایدووایو چې دکره کتنې په برخه کې په تیرو لسوپنځلسو کلونو کې یولړعملي کارونـه له هره پلوه د یادونې وړ دي. په دغوکلونوکې د کره کتنـې یوشـمیر ژانرونـه (ډولونه ) دپخوا په انډول نه یوازې دود شول بلکې پراختیا هم ورکړه شوه. د « نقد پرنقد » اصل چې تردغه وخته زموږ په ادبي بهیرکې کله پردی او کلـه نـا آشنا ښکاریده رامنځ ته او دپرله پسې عملي ټولنـو او غونـډو لـه لارې یـې پیاوړتیا وموندہ. چې ګټورتیا یې دادبي آثارو اوادبي بهیرد کره کیدو پـه تـرخ کې روښانه وه . دادبي خپرونو په لړکې یوشمیرخپرونې لکه ژونـدون مجلـه ، کابل مجله او دزیرې جریده ډیرې مهمې اود یادونې وړدي. ځکه ددغو خپرونو له لارې یوشمیرمعیاری کره کتنې د رواني پیړۍ په دویمـه نمـایی ترسـترګو شوې.

دهرې ټولنې د ژوند او ادبي آثارو دښې پیژنـدنې لپـاره کـره کتنـه یـوازنې موثراوګټور مضمون دی ، چې زموږ په ټولنه کې لاهم په مقـدماتي مرحلـوکې دی ، ترهغو به موږ ښه ادب او ادبی آثار ونه لرو ترڅوچې دیوې سستما تیکـې علمي کره کتنې خاوندان نه وو. ترهغو به دنوښت پررنګ اوترنـګ پـوه نشـو ترڅو هغه ونه پیژنو ، اوترهغو به دیوه ادبی شهکار خاوند ان نه شو ،ترڅو چې د ادبي شهکار دزده کړې اوتمرین په رمز باندې نه وو پوه شـوي . ددغوټولـو

(c) ketabton.com: The Digital Library

رمزو لپاره وړده چې کره کتنې ته مخه کړو، ویې وایو او په عملي توګه  یې لـه ادبی ایجاد سره پتلیزکړو.

زه باورلرم چې دادب ددغې مهمې برخې په باب به زموږ ځوانان په زړه پـورې اوکوټلی کار راپیل کړي اوددې امید شته چې په نژدې کې به موږ دکر کتنې په برخه کې ډیرښه او فني او کره کتونکي ولرو. ځکه ثومره چې ادبـي او هنـرې ایجادیات دټولنیز ژوند ژورې راسپړلي شي ، دهغوپه ځنګ کې به دغه ادبي

---

---

(۱) بلنسکي « ګوګول ته لیک » دګل محمد نورزي ژباړه ، ژوندون (۶) ګنـه ، ۱۳۶۳کـال (۵۱) مخ .

ډالی هم دځپل انتقادي طبعیت په رڼـاکې پــه علمــي وړتیـا ســره دانســاني ارزښتونو دپیژندنې چاره په ښه توګه ترسره کړي . زموږ کــره کتنــه د ودې او ځلا اونوې راتلونکې په لورګامونه پورته کوي اوزموږ د اوسني ادب هســکي او ټیټې به دغه علم موږ ته راپیژني او ځان به زموږ د ژونـد لـه عینــي او ذهنــي وړتیاسره دسمون په لور غزوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماخذونه:


۱ــ افغان یاد ، دمقالوجونګ ، دکابل پوهنتون خپرونه ۱۳۶۰ کال .
۲ــ زرین انځور ، شعرونه او نقدونه ، دلیکوالو اتحادیې خپرونه ، ۱۳۶۵ کال .
۳ــ براهني رضا ، طلا درمس ، تهران ، ۱۳۴۷ کال .
۴ــ بینوا عبدالرووف ، اوسنی لیکــوال (۱) (۲) ټوکونــه ، کابــل ۱۳۴۱ -۱۳۴۵ کالونه
۵ــ بلنسکي ، ګوګول ته لیک ، د نورزي ژباړه ، دلیکوالو اتحادیه ، ۱۳۶۳ کال
۶ــ پښتون اتمانزي ، (اخبار) پیښور ، ۱۹۳۸ کال .
۷ــ پښتو مجله ، پیښور ، ۱۹۷۹ اونورکلونه .
۸ــ تربور ، پښتو ډرامه ، پیښور ۱۹۶۱ کال .
۹ــ حبیبي ، عبدالحی ، پښتانه شعرا (۱) ټوک ، ۱۳۳۰ کال .
۱۰ ــ حبیبي عبدالحی ، په اوسني پښتو شعرکې د ژوند څپې ، کابل ۱۳۶۰ کال .
۱۱ــ ختک ، خوشال خان ، دستارنامه ، پښتوټولنه ، ۱۳۴۵ کال .
۱۲ــ ختک ، خوشال خان ، ستواتنامه ، کبل ۱۳۵۸ کال .
۱۳ــ ختک ، خوشال ، کلیات ، پیښور ۱۹۵۲ کال .
۱۴ــ خپلواک ، مجله . پیښور ۱۹۵۸ کال .
۱۵ــ دوران مجله ، پیښور ۱۹۵۸ کال .
۱۶ــ روهي محمدصدیق ، ادبي څیړنې ، دلوړو زده کړو مطبعه ، ۱۳۶۰ کال .
۱۷ــ راحت زاخیلی ، ناول دماروخی دژبواوادبیاتو پــوهنځی خپرونــه ، ۱۳۶۳ کال .
۱۸ــ رهبر ، مجله (۱۷) ګڼه ، پیښور ۱۹۵۸ کال .
۱۹ــ زیار مجاوراحمد ، (مقاله ) کابل مجله ، ۱۳۶۰ کال .
۲۰ ــ زرین کوب عبدالحسین ، نقدادبی (۱) ټوک ، تهران ۱۳۵۴کال .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۱ زيري (اوونيزه ) دافغانستان دعلومو اکاډيمی ، ۱۳۶۳ کال .
۲۲ـ ژوندون (مجله ) د افغانستان دليکوالو دټولنې خپرونه ، کابل . ۱۳۶۲ کال .
۲۳ـ ژوندون (مجله ) - - - - - - - - ۱۳۶۳ کال .
۲۴ـ ژوندون مجله ، - - - - - - - - ۱۳۶۴کال .
۲۵ـ ژوندن مجله - - - - - - - ۱۳۶۵ کال
۲۶ ـ سراج الاخبار (جريده ) پنځم کال ، ( ۱۳۳۳ه ق ) کال .
۲۷ - سراج الاخبار (جريده ) شپږم کال ، ( ۱۳۳۴ه ق )
۲۸ـ سائل ، رحمت شاه ، دلمبو په سوری ، پيښور ۱۹۸۵ کال .
۲۹ـ سهيم ، نورمحمد ، په پښتوکې کيسوکې ريالستي افکار، علومو اکاډيمی ۱۳۶۵ کال .
۳۰ ـ سورانی مجبور ، دبنوادب پيښور ۱۹۷۱ کال .
۳۱ـ شريفه شريف ، د ژوند انځور ، ۱۳۵۷ کال .
۳۲ ـ شيدا کاظم ، ديوان ، کابل ۱۳۳۱ کال .
۳۳ـ طلوع افغان (جريده ) کندهار ، ۱۳۱۷ کال .
۳۴ـ عرفان (مجله ) دمعارف وزارت ، ۱۳۶۲ کال .
۳۵ـ کابل مجله ، (۷) ګڼه ، ۱۳۳۹ کال .
۳۶ـ کابل مجله ، (۱۲) ګڼه ۱۳۳۹ کال .
۳۷ـ کابل مجله (۱) ګڼه ۱۳۴۱ کال .
۳۸ـ کابل مجله ، (۱۱ - ۱۲ ګڼه ) ۱۳۶۳ کال .
۳۹ـ لکچرهای آموزشی ، کابل پوهنتون خپرونه ، ۱۳۶۲ کال .
۴۰ـ مغموم يارمحمد ، دخوشال فرهنګ ، پيښور ۱۹۸۵ کال .
۴۱ـ هوتک محمد ، پټه خزانه خلورم چاپ ، کابل پوهنتون ۱۳۵۷ کال .
۴۲ـ هيوادمل ، دمحمد هوتک ژوند اومزار ، کابل ۱۳۶۲ کال .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه او کور ودانی


د افغانستان ملي تحریک له هېواد پال او فرهنګپال شخصیت ښاغلي (ګلزار سنګروال) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته یې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ یې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا د دې اثر له لیکوال او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د لیکلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک

(c) ketabton.com: The Digital Library




د افغانستان ملي تحریک
www.melitahrik.com

د خپرونو لړ: ۱۱۲

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**